# تولنپال افغان مونوفست

د مولانا قیام الدین (خادم)

سیاسي افکار

۱۳۵۰

لومړی چاپ

وږی ۱۳۸۷ ل (اگست ۲۰۰۸)

More Info:
gadheewad@hotmail.com
Ph #:(416)428-2121

## د کتاب ځانګړنې:


د کتاب نوم: تولنپال افغان مونوفست

خپرندوی: روښان «خادم»، تورپېکی «خادم» سنګین

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

مهتمم: روښان (خادم)

چاپ نېټه: وږی ۱۳۸۷ل، اګست ۲۰۰۸ م.

کمپوز او ډیزاین: عبدالهادي (اثر) ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳

مطبعه: شمشاد (ساپي) مطبعه جلال آباد ښار، افغانستان

۰۷۵۲۰۱۳۱۵۰ - ۰۷۸۲۰۲۰۱۲۰

# فهرست

مضمون — مخ
دا د خوشالۍ خبره ده...........................
لومړنی خبرې........................................ ۲

لومړۍ برخه
د ناسیونالزم پیدائښت او سلوک....................... ۷

دوهمه برخه
د ناسیونالزم پوره پېژندګلوي.......................... ۱۹
رشتینې لار.............................................. ۲۲
ناسیونالزم د ارنست رینان په فکر ..................... ۲۴
ځینې اشتباهات.......................................... ۲۲

دریمه برخه
د ناسیونالزم ارکان او مقومات.......................... ۳۲
ملي حکومت او سیاسي تنظیم.......................... ۴۴
اقتصادي کته ............................................ ۴۸
تاریخ .................................................... ۵۲
مشترک اداب او رسوم ................................... ۵۳

څلورمه برخه
ناسیونالزم او استعمار.................................. ۵۲
د استعمار خواص او اقسام.............................. ۶۰

استعمار له مستعمرو څخه دا استفاده کوي .......... ۶۲
له استعمار څخه دفاع.......................... ۶۴
د استعمار دلائل دا دي .......................... ۶۴
غیر مستقیم استعمار.......................... ۶۶
غیر مستقیم حکومت .......................... ۶۶
نوی استعمار .......................... ۷۰
د نوي استعمار پالیسي.......................... ۷۲
پنځمه برخه
ناسیونالزم د ملتونو سنګر.......................... ۷۶
د استعمار دسائس .......................... ۸۱
ملي سنګر.......................... ۸۴
شپږمه برخه
ناسیونالزم او سوسیالزم.......................... ۸۹
اومه برخه
ناسیونالزم او دیموکراسي .......................... ۹۹
سیاسي بې لاري.......................... ۱۰۷
ماکیاولزم .......................... ۱۰۹
بوروکراسي.......................... ۱۱۰
غلامانه بلاکبازي .......................... ۱۱۰
جبونه بیطرفي .......................... ۱۱۱

مختلط اقتصاد ........................ ۱۱۳
د وازي دروازې گمرکي سیاست........................ ۱۱۵
خارجي امتیازات ........................ ۱۱۲
په ملت بې اعتباري ........................ ۱۱۲

**اتمه برخه**

ناسیونالزم دیموکراتیک سوسیالزم ........................ ۱۱۷
تولنپالنه ........................ ۱۲۰
ملي اقتصاد ........................ ۱۲۸
ملي بورژوازي ........................ ۱۳۰
ملي سوسیالزم ........................ ۱۳۲
انتېر ناسیونال سوسیالزم ........................ ۱۳۵

**وروستنۍ خبرې**

افغان او جهان........................ ۱۳۹
غرب او شرق ........................ ۱۴۹
غم شو ........................ ۱۵۵
غوره لار ........................ ۱۵۹
د خادم طرحه ........................ ۱۲۱

## په كتاب تقريظونه

## د ښاغلي محمد قدير تره کي په قلم

این کتاب که از طرف نویسنده دانشمندان به عنوان " تولنپال افغان" نوشته شده و عبارت از افکار سیاسي نویسنده فاضل و معروف قیام الدین خادم است که بطور "مونوفست" عرضه مي گردد او درین کتاب به عقیدهٔ من در حجم خورد مطالب خیلی بزرگ و نهایت ضروری مطرح بحث و موضوع صحبت قرار داده و از عهدهٔ ان بکمال قدرت و توان بیرون شده است .

خادم که من او را از نویسندگان مبتکر و مطلع و در عین حال شیدا به مفاخر و ابروی ملت افغان میدانم ، در تمام توشیحات خود صبغهٔ خاصی را حفظ می کنند ، که دخول در مطالب بکر و علمی و خروج موفقانه از عهدهٔ تشریح مطالب ان می باشد ، و از همین سبب در تمام ادواریکه من او را می شناسم که غالباً از روز تاسیس تولنه میباشد تا امروز هر چه از قلم او برامده طرف علاقهٔ خاص برای مطالعه بوده است .

تولنپال افغان که عبارت از تشریح علمی ، فلسفی و تاریخ ملت خواهی " ناسیونالزم" است از جملهٔ کتابهای است که من در هر جا به مطالب ان بهمین عنوان یا عناوین دیگر

برخورده ام و به عشق و علاقه ان را مطالعه کرده ام زیرا من خود از عنفوان شباب به این سوبه کلمات ملت ، ملیت و ملت خواهی که ارمغان دوره های رشد و نموی عقلانی و کولتوری ملل میباشد ، خیلی مانوس بوده و از مطالب آن ها مثل اینکه از شعر حظ می برند محظوظه شده ام.

و بنا بر همین است اکه من این اثر خورد ولی جدی را از امهات اثراتی میدانم که در زمینه ملیت تاکنون درین مملکت نگارش یافته.

یکی از مسالک و مذاهب سیاسی که در دنیای متمدن از عصر رونسانس باین طرف خیلی طرف مجادله و مناقشهٔ مردمان منور جهان بوده و هنوز هم هست همین ناسیونالزم می باشد ، چه از ان روزیکه این تعبیر در عصر تنور جهان بوجود آمده و دانته در ایتالیا ، فیخته د رالمان و نویسندگان هیومانزم و رومانتیسک در فرانسه از ان غزلهائی سروده اند ، وان را برای اجرا وتعمیل به سیاست مداران چون بسمارک در المان ، وگاریبالدی در ایطالیا و امثالهم در ملل دیگر سپردند. در داخل مملکت ها انهائیکه از عناصر سچهٔ تشکیل ملیت های ایشان بودند او را تقدیر و تقویه و انهائیکه خارج عناصر ملی و به مثابه پارازیت ( طفیلی ها ) در جسم ملت ها بودند مانند یهودیان در تمام اقطار جهان علیه ان قیام کردند.

ولـي از طـرف ديگـر همـين پارازيتهـا بقـوه و زور پـول و خريدون و استخدام شخصيت هاى با نفـوذ مسبب اذيت ناسيونالست ها هم شدند و حتى تا همين امروز در اكثرى از مملكت هاى جهان و از ان جمله در مملكت ما افكار ملى تحريك فاشيستى تلقى و ناسيوناليست ها تعجيز كرده مى شوند ، همينكه هتلر يهوديان را از مملكت طرد و اخراج كرد علت عمده همين بوده است .

ضديت و شدت عليه ناسيوناليستها منشاء خود را تنها از وجود عناصر طفيلي در داخل مملكت ها نمى گيرد ، بلكه گروه هاى مرتجع ، مردم مستبد ، مفت خواران و انهائيكه عمرى به چاپيدن ملك و دارائى مردم گذرانده اند همه در پى ازار اين طبقه ستمديده بر امدند .

مثلاً : مستبدين ازين جهت عليه اين مردم قيام كردند كه انها در بيدارى مردم براى احياى حقوق مغصوبهٔ شان كار ميكردند ، مرتجعين از سببى باعث ازار مليت خواهان شدند كه انها راه تجدد و انقلاب را در ساحات مختلفه حياتى بمردم مى اموزند .

مفت خواران و چاپندگان مال بعلتى دشمن بى امان ناسيوناليست ها گرديدند كه انها حكومت ها وملت ها را از اضرار وجود اين مردم اگاه ميساختند .

اینها و امثال اینها سبب شد تا ملیت خواهان را در ایطالیا ، اسپانیه ،فرانسه و انگلستان و دیگر مملکت های دنیا بعناوین و اسمای عجیب و غریب تا پای مرگ حتی تادم سوزاندن تعذیب کردند .

و چون سیئات تمدن اروپا همیشه میراث ما مسلمین است لهذا در ترکیه عثمانی ناسیونالیستها را بجرم همبستگان مدحث پاشا و در مصر بجرم طرفداری از زغلول پاشالیدر وفد و در ایران به عنوان مریدان سید جمال الدین افغاني و در افغانستان بصفت مشروطه خواهان بدار زدند ، و به توپ پراندند ، و چاند ماری کردند ، و نگذارند این گروه مجاهد روزی قوت یابد وبساط ظلم و استبداد و خرافات را برچینند.

من همیشه باین فکرم و خواهم بود که این فکر در افغانستان تعمیم یابد ، و جریان ناسیونالزم در تارو پودکام احزاب سیاسی ، تربیه معارف و حتی فامیلها دمیده شود ، تا این اصل که ازان فوائد هنگفتی بیرون کرده اند در ملک ما هم ایجاد ، تمنیه و عام گردد .

اما میدانم تا زمانیکه نویسندگان درین باب اقدامی نکنند پروگرام سازان نمی خواهند ازان نامی ببرند ، خوشبختانه اینک این سد را خادم شکستاند و در بارهٔ ناسیونالزم کتابی نوشت و درین راه پیش قدم شد . خدا

کند این کتاب بجای ان همه رطب و یا بس طبع شود . و فوائدیکه از ان متصور است حاصل گردد .
از ابتدی قرن ۲۰ که قرن بیداری ملیت هاست شعور ملی در تمام مملکت ها بحال بلوغ رسیده و پیوسته سعی کرده اند در همه چیز ملیت را وارد کنند. مثلاً از اغاز ان قرن به بعد در سیستم های مختلف اصطلاحات ملیت عمومیت یافت.
و در اثر آن وزارتهای معارف تمام شئون ملی خود را رنگ ملی دادند. و اصطلاحات تربیه ملی ، موزیک ملی ، فولکلور ملی . از هر حیث السنهٔ ملی و غیره وغیره در جهان تربیه عرض وجود کرد . و حتی انهائیکه از کنه جریانات سیاسی جهان اطلاعات دقیقی دارند میدانند که ملیت در هر شق بحدی با افراط انجامید که در سیستم مشهور سیاسی و اجتماعی و اقتصادی بین المللی که انترناسیونال سوسیالزم است. صبغهٔ ملی را هم وراد کردند

مثلا همینکه مارشال تیتو از کمنفارم خارج گردید ، گفتند : تیتو سیستم کمونزم خود را شکل ملی داده و سعی می کند بعد ازین کمونزم یوگوسلاوی کمونزم ملی یوگوسلاویه باشد ، همچنان هوچی من رئیس فقید دولت کمونست ویتنام شمالی در عین اینکه یکی از اقمار

کمونزم مسکو بود ، معهذا خیلی خوش داشت باو و به پارتی او بگویند کمونست ملی ویتنام شمالی !

خلاصه باید در بارهٔ ناسیونالزم خیلی چیزها نگاشت و بسیار نشریات کرد . و این نشریات نه تنها د رملک ما بلکه در تمام جهان خاصه در مملکت های اسیائی و افریقائ واجب و لازم می باشد . علت آن هم این است که اگر پوست کنده و برهنه حرف زده شود همیشه ملت ها و دولت های اسیائی و افریقائی از دو آفت جانگداز و دوا خطا پوت استعماری رنج می برند که آن یکی وجود مردمان فیل مشرب و اژان های جاسوسی دول فرنگ درین دیار ها می باشند .

با این تفصیل که از همان روزیکه بلای استعمار در سر زمین های اسیا و افریقا خیمه زده تا همین دقیقهٔ ایکه این سطور را می نویسم متاسفانه دو دسته مرمانی درین مملکت ها دیده شده اند ، که یکی از انها را با ایزد کلمه مثلا ... فیل و ... فیل یاد می کنند .

و اینها بحدی به مملکتی که فیل ایشان می باشند اظهار دوستی و طرفداری می کنند که اگر احیانا قضاوتی بین دولت و ملت خود شان و ملتی که انها فیل ایشان میباشند ضرورت افتد ، حتما بر علیه ملت و دولت خود و برلهٔ ملتکه باصطلاح فیل یاو ارتباط دارد قضاوت می کنند . و

طبقه دوم همانا جاسوسان اجنبی است، که بنامهای مختلف مثلاً خبرنگار وغیره از دیگران پول می گیرند و جاسوسی میکنند .

حالاخود قضاوت فرمائید که درین گیرو دار تا چه اندازه به تبلیغ و پروپاگند ملیت و ناسیونالزم ضرورت داریم . و این کتاب خادم تا چه حد برای تربیهٔ ملی درین مملکت بموقع و مورد ضرورت بوده ، و لهذا شایستهٔ تقدیر می باشد !

خادم درین کتاب که بدون مبالغه میتوان گفت اثر مهم و نشانهٔ درک عمیق مسائل علمی درینگونه موارد است . با سلسله منطقیه و سیستم علمی خود ثابت می کند که ناسیونالزم اصل است. و مسالک دیگر سیاسی و اقتصادی و غیره میتوانند مانند اقماری دور آن بچرخند . و رابطهٔ منطقی خود را با ان اظهار و ابراز دارند . و از هیمن جاست که میتوان بسوی این کتآب بحیث یک اثر انسجام دهنده یک سیستم علمی نگریست . و بان قیمت بلندی قائل شد .

خادم نویسنده و مؤلف کتاب درین اثر کوچک خیلی کار کرده و زحمت کشیده و روزها به فکر عمیق فرو رفته است تا روابطی میان چندین مفهوم و سیستم های سیاسی ،

اجتماعی و اقتصادی و غیره دریافته و همه را در یک دائره از روی ارتباط منطقی ربط بدهد !
اینها همه محاسن این کتاب است . که به کتاب از نظر کیفیت قیمت میدهد . و خدمت خادم را در سلسلهٔ خدمات قیمتدار علمی و سیاسی جا میدهد !
من بسهم خود این اثر را قیمت بلند علمی میدهم و به فاضل دانشمند مولانا قیام الدین خادم از موفقیتش درین باره تبریک میگویم. خدا کند بزودی طبع و بدست مردم گذاشته شود .

کابل کارته ۴

۳۱ سنبله ۱۳۵۰ محمد قدیر تره کی

## دا دخوشالۍ خبره ده

چه د پاک افغان ترمنځ مناسبات ښه شوي دي او ښه کېږي، نننۍ دنیا که د مادي وسائلو له پلوه پرمختګ کړی دی، خو د امن او سکون ذرائع هم په کې ډېر لږ شوي دي، ولږه او وېره دوه لوی عذابونه دي. (و آمنهم من خوف) د خدای لوی رحمت دی چه په ما يې وکړي.

مفاهمه او نزدیوالی، وفاق او نیک نیتي پیدا کوي، چه د ترقۍ او تکامل مهم اسباب دی، که د سیمي دولتونه دا لاره ونیسي، امن، تمدن او خوشالي به بېرته شرق ته راشي او وېره به لاړه شي.

پاک افغان چه نوک او وریه دي باید یو دبل په مرسته ځان د علم، ادب او تمدن پر لار برابر کي. اروپائي دولتونو هم دغه کار کړی دی، دنیا په جائز رقابت مخکې تللې ده، نه په ناجئز اختلافات.

قیام الدین "خادم"

دلوه – ۱۳۵۲

بسم الله الرحمن الرحیم

خدای ډېر لوی دی
مونږ پښتانه مسلمانان یو
د افغان او د افغانستان د خدمت پر لار روان یو
نه د چا خوشامندګر او نه د چا دښمنان یو

****

نه تمه لرو ، نه ډار
عقیده لرو په کار او په زیار
له حرص او بېکارۍ یو بېزار

****

تر شا مو لوی تاریخ او تر مخ مو لوی جهان دی
دا مو له نعمتونو ډک کوهستان دی

۲

## لومړنۍ خبرې

وايي چه انسان اول په وحشي او بدوي ډول پيدا شوی دی او بيا وروسته ورو، ورو د زرګونو او لکونو کالو په تېرېدلو دې ځای ته را ورسېد چه رسېدلی دی.

په دې لوی سفر او اوږد مزل کې انسان له ډېرو مرحلو، منازلو او مراتبو څخه تېر شوی دی.

په دې تګ او تلو کې ده ډېر اديان، فلسفې او مسلکونه ومنل او پرېښودل او لا روان دی دروميي.

- اوس سوال دا دی چه دا ټولې لیارې سمې او روغې دي، او کنه، ځينې سمې او ځينې ناسمې دي ؟

جواب دا دی چه زمان او مکان د اشياؤ او مفاهيمو په صحت او سقم کې پوره دخل لري. مثلاً يوه لیاره، يوه طريقه په يو وخت او يو ځای کې روغه او سهي ده، خو بيا هماغه قانون او ضابطه په بل حال او بل محيط کې بده او غلطه ده.

زمونږ مخاطبين او مطالعه کوونکي بايد ملتفت اوسي چه زمونږ بحث په اجتماعياتو او سياسياتو کې دی او په دې باب کې لا، لايتغير قوانين لاس ته نه دي راغلي، هر څه چه دي زماني او مکاني دي.

زمونږ دا مفکوره د افغان او افغانستان د حال په باب ده، د تاريخ په مطالعه او د استقبال په ملاحظه!

په تېر ۲۵ کاله عمر کې که د پنځو شپږو کالو خاطرې زما حافظې هېرې کړې وي، نو تقريباً د ۲۰ کالو عموميات زما مغزو ساتلي دي. که د خداى توفيق زمونږ رفيق شو، بېل کتاب به پرې وليکو: «افغانستان په شلمه پېړۍ کې».

دلته دومره وينا ضروري ده چه کوم وخت مونږ سترګې وغړولې، خپل ملک، وطن او ولس مو وليد په ډېرې خوارۍ، بدبختۍ، ذلت او حقارت کې.

خو عجيبه لا دا وه چه دوی د هر چانه ځانونه لوړ ګڼل او نه پوهېدل چه په ځلور کونجه دنيا کې تر هر چا ذليل او حقير همدوی دي.

زه نه وايم چه دا احساس بنه ؤ که بد، خو غرور او خودي د ماضي له رواياتو او بدبختيو د عصر له واقعاتو وه، دوی ټولو ځانونه مسلمانان ګڼل او افغانيت ورسره په تحت الشعور کې ملګري ؤ.

تر شل کاله مخکې پورې دغه حال ؤ، بيا ناځاپه د اسلام سپرغۍ ايرې شوې، چه دا لا هم سرېږي.

اوس زمونږ په دنیا کې د دنیا د هر نهضت نمونه شته ، مګر یو شی نشته ، ملي شعور او ټولنیز احساس ، که وي نو هم د سحري ډیوې پشان سلګۍ وهي . (۱)

له څلویښتو کالو څخه چه زه په شاعرۍ او لیکوالۍ لګیا یم او له دېرشو کالو څخه په ټولنپوهنه کې زیار کاږم دومره پوه شوی یم چه په دغه موده کې که څیني وقفې استثنا شي ، نو په افغانستان کې خو «وطني حکومت» موجود ؤ ، مګر هغې «ملت» چه د ځان واک پخپله وکولی شي ، نه ؤ موجود .

هو ، شپانه ، غوبانه ، دهکانان (دیګانان) ښاروانان او ملازمین د ګوړو او توري په شکل موجود وو ، خو نه د یو ملي قوت په ډول .

• په تېر عمر کې زمونږ هاند دا ؤ چه حکومت خو شته ، خو ملي دې وي ، مر څینو د قدرت خاوندانو دا زیار کېښ چه ملت دې حکومتي وي .

مونږ د حق د پاره په خپلو مغزو او اعصابو دا درونډ بار واخیست او لا لګیا یو .

مونږ د حکومت دښمنان نه وو ، خو چا چه بله ډډه نیولې وه ، هغوی د خپل اخلاص او صمیمیت د ښودلو دپاره ، بې

---

(۱) د ملي شعور په ضعف ملي خودی کمزوری کېږي او په نتیجه کې دیني غیرت هم مري ، که ملي غیرت ژوندی ؤ ، خلک په خپل دین هم غیرت کوي . (م)

له دې چه په مونږ توره وازمائي نور يې په کوم صورت د استفادې دپاره زمينه برابرولی شوه ؟

• حقيقي خدمتګاران هغه وو چه د حقيقي نهضت د پاره يې لياره هواروله، په دې کار کې د حکومت وقار او تحکيم او د ملت مدار او تقويم او د دوارو ترمنځ صلحه او تکريم موجود ؤ ، ځکه چه حکومت په دولت او دولت په ملت او ملت په خپل ثقافت او ثقافت د ملت په تاريخ ولاړ دی .

مونږ سره قلم ؤ او رقيبانو سره علم ، قلم بې د حکومت له پشتيابنی هيڅ نشي کولای او د سياست چاپلوسان هر څه کولی شي .

• خدای د حقې چارې مل دی ، اخر به حق او باطل بېل شي ، هيله ده چه دسيسه بازان به بنکېل شي . (۱)

نن تږوله دنيا منوره شوه ، بې له افغان ولس او پښتيانا دا و مونږ ته لوی پېغور دی او لويه طعنه .

نوره دلته نه ځائيږي هيڅ بهانه
که پرون قلم خوار ؤ او بې وقاره!
اخر به سپينه شي دا تياره لياره!
بيا به څوک ونه وهي وطن پرستان په دسائسو !

---

(۱) زمونږ دا پيش ګوئي د جمهوري انقلاب په رانګ عملي شوه (م)

زمونږ دا هیله ده د افغان له خصائصو (۱)!
نو ومو لیکه د ټولنپال افغان دا مونوفست!
واخله ای قامه دا ډیوه!
ای ځوانه زلیمه دا لمبه!
ورباندې رڼا کړه د ولس د یون لار!
او تر ټولو دمخه د زړه او ضمیر باطني ښار!
نو خاوند به شې د حرمت او وقار!
مونږ ته عفوه کړه ټول ګناهونه یا غفار!
کابل ۱۸ د جدي ۱۳۴۹

(۱) له جمهوري انقلابه مخکې مونږ ددې حقیقت د لیکلو جرائت کړی ؤ. (م)

لومړۍ برخه :

## د ناسيونالزم پيدائښت او سلوک

• د ناسيونالزم مفکوره له ډېر پخوا څخه په انسانانو کې موجوده وه ، د عبرانيانو او يونانيانو له وخته را روانه وه ، ددې دواړو قومونو کولتور ډېر قوي ؤ ، د يهودو مليت پر دين بنا دی او اساس يې د خدای او د ملت د افرادو پرميثاق ترمنځ ولاړ دی ، د يونان کولتور هم ډېر بډای ؤ. دا دواړه مليتونه پر کولتور استوار وو (۱) رښتيا چه کولتور يو ډېر قوي عامل دی چه خلک يو پل بل تړي . (۲)

• خو د يوې فلسفي رنګ يې په ۱۹ پېړۍ کې وموند ، دغه وخت په اروپا کې رنسانس او دعلومو، فنونواو ادبياتو تجدد منځ ته راغلی ؤ او په فرانسه لوی انقلاب تېر شوی او د بشر د حقوقو په اعلاميه کې داتکی ځای شوی ؤ چه :

«اصلي حاکميت د مليت حق دی .او ملت کولی شي چه دا حق هر چاته چه يې خوښه وي وسپاري !»

---

(۱) په قديم باختر کې د اريا او توريا جنګونه چه په کې زردشت هم شهيد شو دا هم په کولتور بنا وو ، دواړو جانبو له خپلې ايدياالوجۍ دفاع کوله ، نو دا هم ملي جنګونه وو. (ق.خ)

(۲) سکندر د شرق د نيولو په وخت کې د خپل کولتور د ټينګولو په ذريعه دائمي اشغال غوښت. (م)

ګویا د فرانسې لوی انقلاب خپل هدف د ناسیونالزم په چوکاټ کې ښودلی ؤ او هر کله چه ناسیونالزم دا سې حکومت غواړي چه ملي سیاست حاصل او ملي منافع تامین کاندي ، نو د فرانس د ملیت نه په جرمن او ایتالیا کې ملي جنبشونه پیدا شول ، بیا دې مفکورې په بالکان کې هم سرایت وکړ.

• نو بنا پر دې ۱۹ پېړۍ د ناسیونالسزم د خپرتیا پیړۍ ده او په اروپا او امریکا کې . او په ۲۰ پېړۍ کې دا مفکوره افریقا او ایشیا ته ورسېده.

په اروپا کې دا مسلک تحقیقاً د ۱۸ پېړۍ له او اخرو اود ۱۹ پېړۍ د اوائلو پورې خپور شوی او کلک شویدی . اما اساساً د روما سقوط او درنسانس راتګ د ناسیونالزم اصلي محرکات وو.

خو په افغانانو کې ددې مسلک د اساساتو شعوري تبلیغ د خوشحال خان په قلم د فرانسې له انقلابه ډېر پخوا شوی ؤ.

• د ناسیونالزم د تبلیغ او تدریس په واسطه په اروپا کې د یونانی او لاتیني ژبو له بنیادونو څخه نوې ژبې راوتوکېدلې، لوئې شوې ، ادبي او علمي مقام ته ورسېدې او پر دغو تهداوونو فرانس ، ایتالیا ، انګلیس ، جرمن روس ، هسپانیه ، ترکیه او نور ملتونه جوړ شول

• د ملیت شعور او ملي رشد په ډېرو غربي ممالکو کې انقلابونه پورته کړل او نوی رنګ پیدا شو ، په پښتني دنیا کې د شعوري او عصري ملیت پر بنیاد لومړی انقلاب او تاسیس د لوی میرویس خان نیکه په مبارک لاس وشو .
او بیا د احمد شاه بابا په همت د پښتنو د وطن طبیعي سرحدونه تکمیل او تجدید شول .

• دا خبره چه د احمد شاه بابا سیاست پر نیوکه بنا ؤ ، د هماغه وخت د حوادثو او واقعاتو په واسطه تردید کېږي (۱) په دغه وخت کې د مغولو د امپراطورۍ د صوبه دار ناصر خان اداري د کندهار د پولې سره ټکرې خوړلې .

• احمد شاه بابا پر تخت د کښېناستلو سره د پښتنو لویه جرګه او غوښته ، په دې جرګه کې د افغانستان د ټولو قومونو مشران بې له فرق او امتیازه راغونډ شول .

افغاني جرګې بابا ته د پښتنو له ځمکې څخه د مغولو د شړلو رایه ورکړه او د بابا ملا یې ټینګه کړه ، احمد شاه بابا سمدستي پر مغولو د پښتنو یرغل ور ایله کړ او اداره یې خپله د بابا په لاس کې وه ...

(۱) خارجي لیکوالو زما پر یوه مقاله چه د احمد شاه بابا پښتنولي نومېده ، دغسې یو اعتراض کی ؤ ، دا یې تردید دی دا دواړه مقالې په کابل مجله کې خپرې شوي دي . (مصنف)

پر دغه شان مغول تر لاهوره وزغلول شول (۱) ، او احمد شاه بابا د جېلم په غاړه ودرېد او ویې ویل دا دی د پښتنو د ځمکې اصلي سرحد .

• مګر مغول نه قانع کېدل همېشه به تعرضونه ، شرونه او پساتونه کېدل ، تر دې وروسته چه احمد شاه بابا په هند کې څه کړي دي ، هغه ټول تدافعي جنګونه وو ، همدا دلیل ؤ چه هر څوک یې په هر ځای مات کړی ، بیا یې صلحه ورسره کړې او د خپلې ځمکې اختیارات ورکړي دي او دی ترې بېرته د ښکلې پښتونخوا د غرو سرونو ته راغلی دي . (۲) ځکه چه مدعا یې د خاورې تمامیت ؤ ، نه نیوکه.

• د احمد شاه بابا پسې تیمور شاه ، زمانشاه او شاه محمود هم دغه لار ونیوه . د وی سکانو ته لاهم پنجاب هم ور پرېښود ، خو د غه وخت غربي استعمار په هند کې کلک شوی ؤ ، هغوی د پښتنو په مخه کې د دوی ټول رقیبان ، چه په شرق کې وو ، که په غرب کې ، را پاڅوله او د پښتنو سره یې په جنګ واچول او چه پښتانه ورته وهل شوي څرګند شول ، پخپله یې درې کرته د پښتنو په مرکز "

(۱) ((نه به تل دا ناصر خان وي نه به تل د سرو اوبنان وي )) د هماغه وخت متل دی . (مصنف)

(۲) د ډیلي تخت هېرومه چه رایاد کړم + زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه (د احمد شاه بابا دیوان)

کابـل" یرغلونـه وکـړل او درې ځلـه مـات شـول ، دا ؤ د استعمار لومړی شکست په ایشیا کې .

• انګریز چـه دغـو مـره فاحــش او مدهـش شکسـت نه و لیــدلی ، تــر شــاخو شــو ، خــو د پښـتنو د کولتــوري او اقتصـادي مـاتې د پـاره یې د اسـتعمار د قـوي فلسـفې د مطالعې لاندې د سوونو کالو پلانونه طرحه کړل .(*) چه نن یې هر منور افغان د سر په سترګو ویني .

خلاصه دا چه احمد شاه بابا ځمکې نه نیولې ، بلکه د روږدي شوو دښمنانو مخه یې نیوله او دا یو حقیقت دی او لکه څنګه چه دا حقیقت په شرقي پښتنو کې لیدل کېږي ؛ د غـرب او شـمال پـه جنګونو کـې هـم د بصـیرت لـه خاوندانو څخه پټ نه دی .

• تر دې دمخـه (۱) په ټـوله دنیـا کـې د مذهـب په بنـه تغلیبـي او د زور حکومتونه وو ، خو بیا هم پـه دغـو خپـل سر او ټولواک حکومتونو کې ، د پښتنو حکومتونه د قـدیم بـاختر لـه اعصارو څخـه د غوریـانو ، لودیـانو ، سوریانو ، خلجیــانو (غلجیــانو) پــورې، د لیــارې او ســرپټوب حکومتونه او تر نورو ښه وو . (۲)

---

* وګورئ زما په کتاب پښتنولۍ کې ، د تیرادلام قصه . (م)

(۱) یعنی د ناسیونالزم د استحکام د مخه (مصنف)

(۲) دغه د سرپټوب حکومتونه وو ، په سرپټوب کې لویه معنی پرته ده (م)

له ډېرو دلائلو څخه يو چه زه يې پر دې خبره لرم دا دی چه په افغاني نړۍ کې د انسان د خرڅلاو يعنی غلامۍ او فيوډالزم (طوائف الملوکي) دوره په شان لکه په اروپا او نوره دنيا يې چه تسلط موندلی ؤ نه ده راغلې.

ناسيونالزم ملي واکمني ده، يعنې دلته واک او اختيار د ملت په لاس کې دی، معنی يې دا ده چه که ټولواک او ديکتاتور درېږي نو هم د ملي قانون د حکم لاندې د ملي منافعو په تامين او ترلاسه کولو مکلف دی.

• په افغاني يعنی پښتنې دنيا کې د دې کار شرائط تر نورې دنيا په ښه شان مهيا دي، ځکه چه د افغاني يعنی پښتنې دنيا اجتماعي او سياسي اداره او واک په عنعنوي ډول د جرګو په لاس کې ؤ او لويه جرګه د پښتنو د ټولو مهمو مشکلاتو د حل يوازينۍ چاره او واجب التعميل پرېکړه ده.

جرګې لپاره د ديموکراسۍ اصل دی، چه له ډېر پخوا څخه چه د نېټې ټاکل يې ګران کار دی، په پښتنې دنيا کې موجوده وه او د ډېرو دلائلو په شهادت له دې ملکه نورې دنيا زده کړې ده.(۱)

• ملي قانون هغه پرېکړه او فيصله ده چه ملت يې د يوې

(۱) ډاکتر ذاکر حسين د هند رئيس جمهور چه افغانستان ته راغلی ؤ، په يوه تقرير کې يې په دې حقيقت اعتراف کړی دی (خادم)

سیاسي ، اجتماعي یا اقتصادي مسئلې په باب د جرګې په ټولو یازیاتو رایو پاس کوي ، نورې دنیا پارلماني اصول را ایستلي دي ، خو د پښتنو دنیا لاهماغسې په عنعنوي لیارو چلېږي .دلته عنعنه او تاریخي تعاملات تر بل هر څه قوي دي ، دلته پارلماني پرېکړه هم که له عنعنوي تعامله مخالفه وي ، چلند یې خورا ګران کار دی اود حکومت دپاره سخت سرخوږی پیدا کوي .

•د پښتنو د اساسي قانون مواد هماغه عنعنوي تعاملات دي چه ددوی د لوړو غرونو په اندازه عمر لري او قوي دي ، دا یو لوی اسماني تائید او برکت دی ، که د پښتنو دنیا یې هر وخت نا قدري او ناشکري وکړه ټول عزت،حرمت ، شرافت او اعتلاء به بایلي او که څه بایلات یې کړی دی هم وجهه یې همدا ده .

• کوم وخت چه د ناسیونالزم فلسفه ټینګه شوه او پر دغه اساس " ملي حکومتونه " منځته راغلل چه اصولا" د ملت منظمه قوه " حسابېږي ، نه د ملت په سر نازله شوې داړه نو د ملي حیات په ټولو شئونو او خواؤ کې حرکت او پرمختګ پیدا شو .

حکومتونه به چه پس له څه مودې د پادشاه ، سلطان او ټولواک له مرګ ، قتل ، لېونتوب او داسې نورو حوادثو په سبب زر ، زر رنګېدل او باچا ګردشې به پیدا کېدلې ،

د ملي حکومتونو په راتګ چه واک يې د ملت په لاس کې ؤ، ثابت او پايدار صورت وموند ؛ لکه خپله ملت چه دی ، نو دولتونو وکولی شول چه په اداري ، سياسي ، اجتماعي ، تعليمي ، علمي ، فلسفي ، صنعتي او تخنيکي خواؤ کې سريع او ګړندی پرمختګ وکړي.

• يو بل شی چه ددې چټکې ارتقـاء سبب وګرځېد ، د مللو او دولتونو ترمنځ سيالي او رقابت هم ؤ.

هر ملت غوښتل چه د حيات په ميدان کې د بل نه مخکې شي ، يا اقلاً ورنه خو وروسته پاتې نه شي.

هغه رقابتونه ، حسادتونه او دښمنۍ چه پخوا په ملت کې دننه په تاج او تخت کېدلې ، اوس د بېرون سره سيالۍ ، دفاع اود خپل ملت ارتقاء ته متوجه شوې او دنيا په دغه شان ډېر ژر بنه بدله کړه او د عقل حيرانوونکي اختراعات او اکتشافات منځته راغلل.

چه حکومت سم شي ، نو سياست سم شي " روغ سياست د ټولو نهضتونو پلار دی ؛ لکه چه ناسيونالزم د ټولو مسلکونو بنياد دی " ، نو دغه وخت په ځينې مملکتونو کې مطلقه شاهي حکومتونه په مشروطه ډول منظم شول او په ځينې مملکتونو کې جمهوري نظامونه منځته راغلل ، خو په ملي حکومتونو کې اعلی قدرت همېشه د ملت لاس ته منتقل شو ، نو هرج مرج ، بې انتظامي ، داخلي

تعرضاتو حق تلفی او انقلابونو خپل ځای تنظیم ، امن ، عدالت او ودانی ته پرېښود . او د ملتونو نوابغ چه د ترقياتو هسته اوزړی حسابېږي ، فکر تدقيق او تحليلاتو ته وزګار او په ښه شان تقدير شول .

• په دې ملي منډه کې چه افغاني دنيا خنګه تر ټولو دمخه بيداره شوې وه او نړۍ ته يې د پرمختګ لاره ونښوده ، پخپله تر ټولو وروسته پاتې شو .

په دې معضله باندې د ډېرو بحثونو امکان شته ، خو د پسمانۍ اصلي اسباب يو څو څيزونه دي :

• (۱) پښتانه يعنی افغانان د شعوري مليت د راتګ نه مخکې چه دنيا په هغو لرغونو اصولو روانه وه ، چه اساس يې مذهب او توره وه ، په دې مجادله کې تر ډېرو دمخه او په ډېرو دپاسه وو ، په دغه سبب دوی نورو ته متوجه وو ، نه خپل ځان خپل مرکز جوړولو او ټينګولو ته .

(۲) د ملي مرکز جوړولو ، ټينګولو او ملت جوړولو کار چه ملي ژبه يې په سر کې واقع ده ، د تل دپاره د پښتنو له پامه لويدلی وه ، دوی ښخي ملتفت نه وو چه خپله ملي ژبه د ملي جمعيت د جوړولو او ساتلو تر ټولو اعلی ذريعه ده .

غوريانو ، لوديانو ، سوريانو او وريسې ابداليانو به په کورونو ، جرګو ، محافلو ، حجرو پښتو ويله خو چه دربار او سرکاري کارونو ته به راغلل ، په فارسي ، هندي ، عربي

او نورو بلاؤ به سر شول ، دوی قطعا فکر نشو کولای چه دا د فکر ، همت ، غیرت او شهامت خاوند لوی ملت چه د بنګال نه تر آمو (۱) پورې پروت ؤ ، ورو ، ورو به د خپلې ژبې په هېرولو اود نورو د ژبو په زده کولو په نورو ملتونو کې ضم او منحل شي .

او خبره به دې ځای ته را ورسي چه د خپل ملیت سره به د ښمني کوي ، خپلې ژبې او قوم ته به بد ګوري ، په خپله ژبه او قومیت افتخار به ورته عیب او ګناه ښکاري او حتی د ملیت مزایا او واضح فوائد به ورته ضرر ایسي .

حکومت کول به یې خوښ وي ، خو ملت جوړول به یې هېر شي ، په خپل وطن کې به دنورو لاس کوسی او تپسوری وي . عزت ، افتخار ، شرافت او ځان پېژندنه به یې له پامه ولوېږي . تنفس به کوي ، ډوډی به خوري خو مړ به وي .

(۳) د لوی غربي استعمار سره عنودانه او په ډاګه جنګ ته مجبورېدل ، د استعمار له فتنو څخه غافل پاتې کېدل او په نتیجه کې په خپله د ځان د ښمنان کېدل ، ضرر فائده او مرګ ژوند ګڼل .

• (۴) چه استعمار په مخامخ مجادله کې کامیاب نه شو

---

(۱) یو وخت تر خزر او توري بحیرې او کله تر مغولستان او د سائبیر د منځ ولایت کانسک پورې پروت ؤ . (م)

نو لاړ ، خو د دنیا دغه لوی قوت د پښتنو د پرزولو او امحا کولو دپاره د سوونو کالو داسې پروګرام جوړ کړ ، چه په نا معلومه توګه زمونږ په خپل لاس کې توره راکي چه خپلې سپینی په خپله غوڅې کړو .

په خپله په ځان باندې د طبعي او نشر ، علم او فن ، فکر او عمل دروازې وتړو ، په پښتونخوا کې د سړیتوب تخم شنډ کړو ، د دسائسو او خبائثو بزغلي ، وشنیدو او په نتیجه کې د خپلې اجتماع ، کولتور او اقتصاد تهداؤنه په خپله ونړوو .

کوم وخت چه دا پروګرام کامیاب شو او د دنیا د افتخار وړ افغان ، غول ، خر ، بیسواده او وحشي شو (١) نو بیا خو هر څه کېدی شول ، وګوری دغه دی شویدی .

آیا د پښتنې دنیا ددې مزمنې ناروغتیا علاج شته ؟ زه وایم ، ((هو)) له افلاطونه چا پوښتنه وکړه : ای حکیمه ! هغه کوم مرض دی چه علاج نه لري ؟ ، حکیم وویل : هر هغه مرض چه مریض یې د علاج په فکر کې نه وي . ))

• که پښتنه نړۍ رښتیا په شعوري توګه د ځان د علاج په فکر کې شي ، مرض تشخیص کړي (٢) او نسخه یې لټوي ،

(١) دغه افتخار بښونکي القاب مونږ په خپل مرکز کې د استعمار له خوا د خپلو وطني ورونړو په خوله اورېدلي . (خادم)
(٢) دتشخیص دپاره همدا کتاب دی . (خادم)

نو علاج په هر هغه معجون کېدی شي چه لومړی او مهم جز یې ناسیونالزم وي ، ځکه چه ناسیونالزم لاتر اوسه دلته اصولي انکشاف نه دی کړی او چه څو دا اجتماعي مرحله نه وي طی شوې ، بلې پوړی باندې پښه ایښودل اسان هم نه دي او زمونږ د اجتماع په ګټه هم نه .

ناسیونالزم تر اوسه نه زوړ شوی دی او نه ووړ شوی ؛ بلکه خپور شوی دی . زمونږ یو لیکوال ویلی دی : «ادب د سیاست مور ده ، روغ سیاست د نهضتونو پلار دی ، ناسیونالزم د مسلکونو بنیاد او اخر د ټولو اقتصاد دی .» (۱)

---

(۱) د افغان ولس جریده . (م)

دوهمه برخه :

## د ناسيونالزم پوره پيژندګلوي

• اوس بايد په دې وګړېږو چه ناسيونالزم څه شی دی ؟ او څنګه تشکيل مومي ؟، ناسيونال يا نيشنل د (نيشن) د کلمې نه جوړ شوی ايډورب يعنی صفت دی ، چه ترجمه يې زمونږ په ژبه کې په (ملي) کېږي ، (ازم) د اعتقاد يا اصول په معنی دی .

د نيشن کلمه د ۱۲ او ۱۷ پېړۍ څخه د نژادي او لساني جمعيت (۱) دپاره استعمالېده ، خو دغه وخت يې سياسي معنی نه لرله ، مګر د ۱۹ پېړۍ څخه د (ملت) معنی ته واووښته او وروسته ورو ، ورو دا فکر پيدا شو چه ((هغه جمعيتونه او ټولنې چه له يوه ټبره وي او په يوه ژبه خبرې کوې ، حق لري چه د ځان دپاره په خپل ملک کې د آزادۍ او سياسي استقلال ادعا وکړي .))

• دغه وخت ناسيونالزم د ملت نمانځنې د عقيدې يا د ملت پالنې د اصولو دپاره استعمال شو (۲) .

په شرقي اصطلاحاتو کې د ملت ، قوم او امت کلمې د سياسي واحد دپاره مترادفې هم استعمال شوی دي او

---

(۱) دغه دی د ناسيولزم د مفکوري زړی . (م)

(۲) د ناسيونالزم کتاب د ډاکټر مسعود انصاري تاليف .

سیاسي واحد دپاره مترادفې هم استعمال شوی دی او بلو ببلو معناګانو دپاره هم استعمالیږي ، خو اوس د ( ملت ) کلمه ددغې سیاسي معنی ځای نیولی او نورې دوه کلمې ورته ځای پرېږدي .

• **ملت** : یعنی هغه جمعیت او ټولنه چه په لساني نژادي ، دیني ، کولتوري ، اقتصادي ، تاریخي ، جغرافیائي اوسیاسي شرائطو راټوله شوې او د یوه دولت د بیرغ لاندې یې حکومت تشکیل کړی وي ، خو دا شرائط که ټول یا زیات موجود وو ، ملت هغومره قوي وي او څومره چه لږ وي هغومره ضعیف وي او د نورو په اراده ژوند کوي .

خو دا باید ومنل شي چه ملت یوه متشکله اجتماع ده او ټولې اجتماع ګانې یا ټولنې په یو قسم شرائطو نه جوړیږي ، هر هغه څیز چه جامعه جوړوي ، یعنی فرد د فرد او افراد د افرادو سره تړي ، دغه د ملت متشکله اجزا دي . (۱) اما ملت عموماً له (۸) ارکانو څخه تشکیل مومي ، په هغه ترتیب چه مخکې وویل شول .

نو ناسیونالزم هغه عقیده او ایمان دی چه هر شخص یې د خپل وطن ، ملي ژبې ، ملي تاریخ ، ملي رسومو ، دین ،

---

(۱) گرز جمعیت حیات ملت است + کفر هم سرمایهٔ جمعیت است . ( اقبال )

نژاد ، ملي کولتور او ملي حکومت په تقدس باندې د ملي بقا او ارتقاء دپاره پيدا کوي.

• او هر کله چه ښېل ملي حکومت چه د ملت د نجيبه او غوره اشخاصو څخه جوړ شوى وي ، د ملت د ممکنه سعادت او پرمختګ ضامن دى ، نو واقعي ملي واکوال هم هغه شخص دى چه د ملت د اقتصادي خوشحالۍ دپاره د ملت د تعليم او تربيې ، کار ، روزګار او کولتوري تقدم پر اساس لاره هواره کړي ، د خلکو صحت په نظر کې ونيسي او د مظلوم ستونى د ظالم له پنجو خلاص کړي ، په خلکو کې ممکن مساوات ، آزادي او وروري تعميم کاندې .(۱)

• هر څوک کتلى شي چه په افغان او افغانستان کې د دغسې ملي مفکورې د پيدا کولو او عملي کولو دپاره څومره فکر او عمل ته ضرورت دى ، چه څو دا کار نه وي شوى او يو واحد ، متمرکز ، ارادې او په ښېلو پښو ولاړ ملت نه وي منکشف شوى، نو څنګه کېدى شي چه هغو مسائلو ته لياره هواره شي چه د ملت د تشکيل او تحکيم نه وروسته تصور ته راځي.

ټول سياسي مراتب مدارج لري ، هره اجتماعي دوره د مخکينۍ نتيجه او د آينده دپاره مقدمه حسابېږي ، غائي

(۱) د ناسيونالزم کتاب.

علت دفاعلي او مادي په مرحله کې لاس ته نه شي راتلای ، ښتیا یې ویلي دي چه «کولتور د ملت ساه ده ، اقتصاد یې غذا ده ، سیاست یې همسا ده او هنر یې ښکلا ده.» (۱)

د ملي دولت تګ لاره په لاندې شعر کې څومره په ښه شان ښودل شوېده :

## رشتیني لار

وطن د ملت کور دی
هر فرد یې د بل ورور دی
راټول په کولتور دی
علم یې نور دی
****
حکومت د ملت منظم زور دی
کار و هر چاته ضرور دی
چه تنظیم یې پر اقتصادي دستور دی
****
د ملت مشر دی د ملت د کور پلار
و هر چاته ښئي خپله لار
نه پرېږدي چه څوک وشلوي افسار

(۱) د افغان ولس جریده . (خادم)

او خراب کا د نورو کار
قانون دی واکدار
دلته نه دی هیڅوک د هیچا بادار
دا ده ربنتینې لار !!!
(نوې پوهتیانه) (نوی ادب . خادم)

## ناسیونالزم د ارنست رینان په فکر

ارنست رینان ده فرانس مشهور فیلسوف او لیکوال په ۱۸۸۲ ع کې د ملیت پر موضوع یوه مهمه مقاله خپره کړه ، ده پوښتنه کړې وه چه « ملت څه شی دی ؟ » ولې هالیند ته ملت وایي ، هانور او د « مارما وک نشین » ته ملت نه وایي؟

ولې سویس ته د ، درې ژبو ، دوه مذهبو او څلور قومونو سره ملت وایي او د توسکاني خلک سره ددې چه د ژبې او نژاد له خوا یو شی دی ، بیا هم ملت نه حسابېږي ؟ ده سوال کړی دی چه د ، ملتونو اصولي اختلاف ، یا هغه مشخصات او خصوصیات چه ملت له ملته بیلویخه شی دی ؟

ارنست رینان او نورو لیکوالو ددې سوالونو په باب مختلف جوابونه لیکلي دي ، انګلیسي او فرانسوي لیکوالو ملت په وطن پورې مربوط ګڼلی دی ، جرمنیانو او د مرکزي اروپا لیکوالو ملت یو نژادي موجود ، دادابو ، سنتو ، رسومو او کولتور پورې مربوط شمېرلی دی .

که څه هم هر ملت د رنګارنګ خصوصیاتو له مجموعي تشکیل شوی دی چه د نورو ملتونو د خصوصیاتو سره فرق کوي او هیڅکله یو ملت په یو خصوصیت نه پېژندل کېږي

خو بیا هم عموماًد ملتونو خصوصیات او مشخصات دغه لاندینی شیزونه حسابیږي .

• وطن ، قومیت ، ژبه ، دین ، تاریخ ، حکومت ، مشترک منافع ، مشترک اداب رسوم او عادات ، دغه عوامل د ملت متشکله عناصر دي .

رینسان وایي : که څه هم دغه عوامل د (( ملت )) په تشکیل کې زیات تاثیر لري ؛ ولې تر ټولو مهم او ضروري شیز چه ملت تشکیل کوي (( د خلکو اراده )) ده یوازې دغه د خلکو ارادي اتفاق دی چه ناسیونالزم میدان ته راباسي . )) (۱)

ناسیونالزم یوازې هغه دولت د خلکو د غوښتنو سره سم او قانوني ګڼي چه د ملت د افرادو د ارادې په اتفاق جوړ شوی وي .

او پر همدغه اساس حکومت وکړي ، یعنی دا چه اجباري دې نه وي . (۲)

---

(۱) د خلکو اراده خو سهي ده ، مګر د خلکو اراده څنګه منځ ته راځي دا موضوع به وروسته راشي . (م)

(۲) د ناسیونالزم له کتابه واخستل شو .

# ځینې اشتباهات

پـه افغانسـتان کـې د ارنسـت رینـان دغـه مقـالې ځینـې اشتباهات پیدا کړل ، ځکه څه موده کېږي چه په افغانستان د علمـي او فلسـفي څېړنـو او منـاظرو دروازه بنده ده ، نـو ځکه خلک د حرکت نه پـه جمـود او د حالت د بـدلولو نـه پـه یوه حال پاتـه کېدلو خوښ دي ، خو د فطرت قـانون دا دی چه که ارتقائي حرکت نه وي نو نزولي شروع کېږي .

ځینـې خلکـو پـه پوهـه یـا نـاپوهی، لـه دې تحلیـل څخـه دا نتیجه واخسته چه هر کله پـه سویس کـې د درې ژبـو ، دوه مذهبو او څلور قومونو سره ملت جوړ شوی دی .

نـو افغانسـتان خـو هـم د سـویس پـه شـان ، نـو د ملـي پرابلمونـو د حـل دپـاره هـڅو کوشـش نـه دی پـه کـار ، افغانستان د سویس په شان دی تش په دې چه هغه هم غرنی ملـک دی او دا هـم؟ کـه نـورې خبـرې هـم شـته ؟ ایـاد افغانسـتان او سـویس نـور اجتمـاعي ، تـاریخي او سیاسـي شرائط ګوندي یو رنګ دي ؟ کومو شرائطو چه سویس جوړ کړی دی ایا هماغه دلته هم موجود دي ؟ او ایا مونږ کولی شو چه عیناً په هماغو شرائطو کې ژوندي پاته شواو رشد وکړو ؟ او ایا مـونږ تـه بـه د رینـان او د هغـه د معاصر افغـان

فيلسوف سيد جمال الدين افغاني ترمنځ د كوم يوه نظريه په افغانستان د تطبيق وړ وي ؟

سيد جمال الدين افغاني وايي : ((لاحياة الابالجنسية ، ولاجنسية الاباللسان)) . ژوند بې له دې چه خلک يو جنس او يو رنګ شي نا ممکن دي او دا يو رنګوالی بې له ژبې نه شي کېدای .

د سيد جمال الدين مراد په حياة سره ملي مترقي ژوند دی، همدغسې د مسکو د علومو د اکاډيمۍ د پښتو د څانګې غړی استاد اسلانوف هم ليکلي دي : (( ملت په ملي ژبه بې له دې چه دا ژبه دې په رسمياتو کې هم ملي وي جوړېدای شي ، خو ملي ترقي بې له ملي ژبې په بله ژبه امکان نه لري . )) يعنې په سوپر ناسيونال ژبه ملي ترقي نشي کېدای . (۱)

بله غټه خبره دا ده چه موږ افغانستان د سويس سره مقائسه کړو، که د ايران ، انګليس ، جرمن او فرانس سره ؟ که د شباهت په موضوع فکر وکړو ، نو د افغانستان د سويس سره څه مشابهت دی ؟ افغاسنتان د پنځو زرو کالو څخه لوی تاريخ لري ، د سويس تاريخ ګومان نه کوم چه څو

(۱) ناسيونال او سوپر ناسيونال اطلاق د افغانستان د ژبو په باب د پروفيسور شلومبرزي له خوا شوی دی . (خادم)

سوو کالو ته هم ورسيږي ، بله دا چه سويس کانفيدراسيون دی او افغانستان يو واحد ملک دی (۱) سويس د لويو دولتونو په اراده جوړ شوی دی او د «بفرستيټ» حيثيت لري، مګر افغانستان د دنيا د تهذيبونو مور ده او دنيا ته يې ډير څه ورکړي دي .

• مونږ پوهيږو چه په دې پروپاګند کې د چا لاس او ژبه کار کوي ، دا خبره له هغه ځايه را ولاړه شوېده چه افغان او افغانستان ته يې په زړه کې د انتقام جذبه ساتلې ده او غواړي چه افغاني جامعه په عصري ډول تينګه نه شي ، نو ځکه د توحيد او استحکام مخه يې نيسي ، البته مغرض او لنډ پاري خلک په هر ملک کې وي او په لويدلېو جوامعو کې خو ډير وي ، له دغو څخه کار اخلي او له افغاني دنيا څخه د کسات اخستلو مرام پرمخ بيائي ، د نوي اساسي قانون څخه وروسته چه پښتو په کې يوازينۍ ملي ژبه منل شوېده د پښتو لوڅ او په ډاګه مخالفت څرګند دلالت کوي چه خبره له ډير لوی او غټ ځای څخه ده . (۲)

• را به شو د رينان نظريي ته ، دا خو ډيره ښه خبره ده چه

---

(۱) سويس رسماً کانفيدراسيون بلل شوی دی ، خو په واقع کې فيدراسيون دی . (فرهنګ سياسي)

(۲) له جمهوري انقلابه مخکې دا حال موجود ؤ . (م)

د ملت د تشکیل اصلي او لوی عامل د خلکو متحده اراده ده ، مګر دا متحده اراده او اتفاق څنګه پیدا کېږي ؟

دغه ارادې اتفاق په خپله په فرانس ، انګلیس ، جرمني ، امریکا ، ترکیه ، انډونیشیا ، روس ، چین او جاپان کې څنګه پیدا شوي دي ؟

ددې ټولو ملتونو په تشکیل کې د اته ګونو شرائطو څخه کوم یو مهم رول په عهده لري ؟ ، زمونږ په خوا کې ایران ، پاکستان، عرب او هند کې دا کار څنګه شوی دی ؟ حیراني ده دغو کسانو ته چه د افرادو متحده اراده او اتفاق لولي او ضبطوي یې ، خو د دغه اتحاد او اتفاق عوامل نه ګوري او نه یې ویني ؟

رینـان خو رښتیا ویلي دي چه د افرادو متحده اراده د ملت په تشکیل کې تر ټولو عواملو دمخه ده .

مګر له دې څخه دا معنی کله راوځي چه لساني توحید هیڅ ضرورت نه لري . متحده اراده په ناممکناتو کې نه چلیږي . متحده اراده په ممکناتو او هغو اشیاؤ پورې تعلق نیسي چه اسباب او علل یې مهیا شوي او موجود وي او څومره چه د وحدت او اتفاق عوامل ډیر او قوي دي ، په هغومره اندازه متحده اراده هم قوي او کلکه وي . (۱)

(۱) مدعا دا ده چه د عواملو په راغونډولو متحده اراده حاصلېدای شي . (م)

یو شی د بېل سره د اوم تار ، نري رسی او د وسپنې په زنځیر هر یو سره توپل کېدی شي ، خو اوم تار د اوسپنې د زنځیر سره کله برابر دی ؟ بله دا چه ایا د یوې رسی او پنځو رسیو قوت او مقاومت برابر دی ؟

• د یو قوم انحطاط او پرزېدلو لوی دلیل همدا کېدی شي چه دنیا ته ګوري او عبرت ورنه نه شي اخستای ، خپلې خطاګانې او جفاګانې وینی او د اصلاح دپاره یې پل نه پورته کوي ، پوهېږي چه دښمن ورته دام ایښی دی ، هماغه دام ته ورځي ، ځان په کې نښلوي ، چالاکان یې مخامخ په سترګو کې ننه وځي .

لـه کوره او لـه جیبه یې اخذ او جر کوي ، مګر د وی جراءت نه لري چه ددوست او دښمن فرق وکړی شي او لاره او کوهی سره بېل کړي .

• د متحدې ارادې نظریه بالکل حقه ده ، دغه دی پښتانه او هغه دی عرب چه د اتحاد اکثره عوامل په کې په قدرتي ډول موجود دي ، خو چه د پردو لاسونه یې متحدې ارادې ته نه پرېږدي ، ویې ګوری ټوټې ټوټې او ګډوډ پراته دي ، مګر دا شی خو د ژبې تاثیر په ملي وحدت کې نه کموي ، هو پردی تسلط په ملتونو کې دغسې فلسفې او شیطانی خپروي .

اصـل خبـره دا ده چـه رینـان دا کلـه ویلـي دي چـه د ملـي توحید اته ګوني شرائط ارځښت نه لري ، بلکه دی وایي چه ملي اراده ډېره مهمه ده ، ځکه که دا ټول شرائط موجود وي او ملي اراده نه وي ملت نه جوړېږي ، رښتیا وایي مثـال یـې زمونږ سرحدونه دي .

دريمه برخه :

## د ناسيونالزم اركان او مقومات

مخكې مونږ د ناسيونالزم اته بنيادي اركان وښودل هيڅ داسې ملت نشته چه بې له دغو اركانو جوړ شوی وی ، خو دا ضروري نه ده چه ټول دې په هر ملت کې موجود وي.

• (۱) وطن: له ذهنه هيڅ انكارنه شي كېداى چه وطن د خلكو د افكارو ، امالو ، ارمانونو ، په توحيد ، د خلكو په اقتصاد او مشتركو افتخاراتو كې لوی تاثير لري.

عموماً د وطن سره مينه ، د اكثرو ملتونو د ايمان جزء او د وطن خاوره د دوی له مقدساتو څخه حسابېږي لكه امريكا ، جرمن ، روس ، انګليس ، چين ، جاپان او نور.

البته يهودو مخكې تر دې چه فلسطين ته راشي ، وطن نه لاره ، خو مليت يې درلود ، مګر دا ويل شوي دي چه ددوی مليت پر خاصه ديني صبغه بنا دی.

د وطن تقدس د پښتنو په نزد له دې څخه معلومېږي چه دوی خپل مړی په بل وطن كې نه پرېږدي.

وړي يې خپلې خاورې ته ، كه څه هم هر څومره تاوان پرې وشي او تلفات پرې وركاندي ، تر دې چه د ګوليو د باران له منځه خپل مړي باسي.

په دې خصلت کې کټ مټ د هندوانو په شان د ي، هندو چه هر چېرته وسوزل شي ، ايره يې ګنګا ته وړي .

زمونږ پيغمبر صلعم ويل دي : «حب الوطن من الايمان ، د وطن مينه له ايمان څخه ده .»

په روسانو کې يو متل دی وايي : که پر نورو خلکو د طلاؤ باران وشي او زمونږ پر وطن ډبرې ؤ اوري ، بيا هم مونږ ته خپل وطن تر نورو وطنونو بهتر دی .

ښاغلی ماوځې تونګ په افتخار سره وايي : «چين د څلويښت زرو کالو تاريخ لري .»

د پښتنو په شفاهي او کلاسيکي ادب کې د وطن په باب دومره مواد موجود دي چه د دنيا د ټولو قومونو د ادبياتو سره سيالي کولی شي .

• (۲) ټبر : په ټبر ، نژاد او وينه د دنيا ډېر ملتونه اتکاء لري ، خو ددويم جنګ او د هټلر او مسوليني د ماتې نه وروسته ډېرو خلکو خوله ونيوه ، دا ټکی په خوله نه وايي ، مګر اعمال يې په وضاحت سره ښيي چه دوی په ټبريز ارتباط تشبث لري .

اساساً د اجتماع تشکيل د کور ، کلي ، قبيلي او قوم نه شوی دی ، دا خبره د قومونو له تاريخ څخه په ښه شان څرګنديږي .

د وینـي ګروپونـه اود تـوارث تحقیقـات پـه سـائینتیفک ډول ثابتوي چه نسلي توافق یو حقیقي او واقعي څیز دی .

پښتانه وایي : (( وینه کشش لري )) ، (( وروړ دې وي ، په لاهور دې وي . )) ، (( چه خپل دې ووژني نو په سیوري خو به دې واچوي . )) ، خپل خپل دی او پردی پـه ډېرو زاريـو خپـل دی . )) ، (( قام ، قام ته ځي اوبه خپل مقام ته )) .

البته په تېر او قام داسې افتخار کول چه د تعصب درجې تـه ورسـېږي او د نـورو قومونـو سـپکاوی او بېحرمتـۍ تـه منجر شي پخوا هم بد ؤ او اوس هم بد دی .

زمونږ پیغامبر ص ویلي دي : (( لیس منـا مـن دعـی الـی عصبیتـه ، زمـونږ لـه جملې نـه دی هغـه څـوک چـه قـومي او قبیلوي تعصب کوي . ))

قبیلوي تعصب ځکه بد دی چه دا د ملت د تشکیل او د خلکو ترمنځ د ائتلاف او پیوند مانع ګرځي .

او د ملي تفوق تعصب ، ملي د ښمنۍ او ملي جنګونـه پیدا کوي .

سره ددې خبرو ، کومت ګوبینـو فرانسوي دیپلومـات او یاست پوهاند ، د ارتقاء د فلسفې موسـس ډاروین ، وستین ستیوارټ چیمبرلین د بشر د سلوک او کردار اسـاس د نژاد

پر بنیاد ښودلی دی او د ملتونو توسعه یې د اساس سره مربوطه ګڼلې ده . (۱)

پروفیسور اسلانوف د مسکو د علومو د اکاډیمی معاصر پښتو پوهاند په یوه مقاله کې لیکلي دي :

(( د ملت زړی لومړی په یوه محدوده کولتوري ساحه کې زرغونېږي ، بیا ورو ، ورو نورې ساحې ور پورې ارتباط پیدا کوي او ملت جوړېږي .)) (۲)

جوزف چمبرلین نامتو انګلیس سیاس هم اعتقاد لاره چه د انګلوساکسون ټبر د متمدنو ملتونو په منځ کې تر ټولو ممتاز او پر نورو پورته دی .

لیکن اوس د نژادي تفوق او لوړوالي نظریه علماً رد شوې ده ، خو د دېنه انکار نه شي کېدای چه نسبي او قومي خپلوي د افرادو او قبیلو ترمنځ د پیوستګی او ارتباط لوی عامل دی او د ناسیونالزم په تحکیم کې کلک دخل لري . (۳)

(۳) **دین** : دین او مذهب د خلکو ترمنځ د روحاني ورورولی اصل او بنیاد دی ، له دې کبله د ناسیونالزم مهم حیاتي عنصر حسابېږي ، د دین او مذهب او د خلکو د ملي

(۱) د ناسیونالزم کتاب .

(۲) وګوری زمونږ کتاب نوې لار .

(۳) د ناسیونالزم له کتابه اخستنه .

وروروليہ اصل او بنياد دی ، له دې كبله د ناسيونالزم مهم حياتي عنصر حسابيږي ، د دين او مذهب او د خلكو د ملي معتقداتو ترمنځ تل يوه نه شلېدونكې رابطه وجود لري ، له دغه جهته ملتونه خپلو شخصيتونو او قهرمانانو ته په تقدس قائليږي .

نو بنا پردې هغه ملتونه چه يو دين او يو مذهب لري په ډېرې اسانیہ ، ژر او په قوي صورت متحد كېدای شي .
البته په نننۍ عصر كې لامذهبي مليتونه هم شته ، لكه څنګه چه يوازې په مذهب بنا او متكي مليتونه موجود دي، خو په لامذهبي مليتونو كې كولتوري عوامل د مذهب پر ځای ولاړ دی .

دا واضحه ده چه نن په دين پسې ډېر پروپاګند كېږي ، خو دا يوازې په دين پورې منحصره نه ده ، حتی هر مسلك د بل پسې پروپاګند كوي .

په دې كې هم شك نشته چه د دين په بنه د نفوذ او واك خاوندان ، له انسانانو ډېرې بدې استفادې وكړې ، ځينی اديان منطقي او اجتماعي هم نه وو ، چه د علم د عصر سره يې تطابق كړی وای .

د استعمار په عصر كې د غرب ټوله شيطاني فلسفه د اسلام د دين د ړنګولو پسې ولګېده ،نو په دغو لحاظونو دين له نظره ولوېد ، مګر د اسلام په دين كې لاوس هم ډېر

قوت ليدل کېږي او په ناسيونالزم کې يې له قوي تاثيره انکار نه شي کېدای.

• په پښتنو يعنې افغانانو تر اوسه د دين تاثير دومره قوي دی، چه ددوی بالکل مليت ته پام نه دی او د مليت له فلسفې غافل دي.

د پښتنو ځينی عالمان د پښتنو اوسني قومونه او قومي نومونه په لرغونو مذهبي عقائدو دال اود هغو بقايا ګڼي، لکه ساپی = ساه پوی = سا پوه، يعنې هغه څوک چه په ساه يعنی روح عقيده لري.

يا لکه وزير چه په اصل کې هجوير يا هجير دی او هجير د (هاجير) په معنی دی، يعنی هغه څوک چه (ها) ته (ځير) دی. يعنی په (ها) عقيده لري.

په (ها) عقيده لرل د روح د عقيدې مخالفه مادي نظريه ده، د پښتنو په تاريخ کې دا دواړه د روح او مادي نظريې له ډېر پخوا څخه موجودې وې، چا ويل روح مقدم دی، چا ويل ماده. (۱)

---

(۱) د دغو خورا لرغونو ځېړنو مطلب دا ؤ چه کائنات څنګه پيدا شوي دي؟ چا به ويل چه په کائناتو کې يو روح دی، هغه قديم دی او دا حادثه دنيا يې پيدا کړې ده، چا به ويل چه نه، دا کائنات په اول سر کې يوه هګۍ وه هغه وچاوده، عالم ترې پيدا شو، يعنی عالم په خپله قديم دی. (م)

د پورته دوارو نظريو څخه په پای کې د (سهاک) نظريه چه (ساه + ها) ده ، پيدا شوه (ک) د اسميت علامه ده ، ددې نظريې معنی دا ده چه (ساه) او (ها) يعنی ماده او روح دواړه قديم دي .

ددغو عالمانو ددغې نظريې تائيد له دې هم کېږي چه د انسان وجود او تمدن پيدائښت په دې غرونو کې ډېر پخوانی دی .

ددې ملک انسان د شين اسمان ، روښانه طلوع او غروب ، د ستورو ډک اسمان ، بهاندو سيندونو ، ښيرازه درو ، په واورو ډکو لوړو غرونو ، خورا ښکلو ، مهيبو مناظرو تر ټولو دمخه پيدائښت او جهاني فلسفې ته متوجه کړی ؤ ، نو ځکه لومړنی دين او ددين پيغام راوړونکی ((زردشت سپين تمان)) دلته پيدا شو او بيا له دې ځايه ددين مفکوره پر دنيا خپره شوه .

ددغه دين پرستی د تاثير لاندې پښتنو د اسلام د نشر دپاره ډېرې قربانۍ ورکړې ، دوی په لومړي سر کې لوی ، لوی حکومتونه تاسيس کړل او لوی ، لوی فتوحات يې وکړل . خو په پای کې چه دنيا بل لوټ وخوړ او د نوي عصر شياطين او ابليسان په اديانو کې وردننه وتل او پښتانه ددين په مفکوره ټينګ لاړ وو ، دوی يې په خپله توره ووهل

او مات يې کړل ، نو ځکه تر دنيا وروسته پاتې او حريصو قومونو د خېټې لاندې شول .

اوس ددې وخت دی چه پښتانه په خپل تاريخ د نوي سرنه فکر وکړي او «نوې لار» پيدا کړي ، داسې لار چه ددوی مليت را ژوندی ،دوی متحد او د نورو ملتونو له سلطې يې خلاص او د خپل واک خاوندان يې کړي .

• (۴) ژبه : د ژبپوهنې علم د ۱۸ پېړۍ په نيمائـي کـې انکشاف وکړ ، ژبه يې د ملتونو د خورا مهمو خصوصياتو څخه وګڼله او وايې چه د هيڅ ملت اخلاق ، عادات ، مشخصات او کولتور بې ددوی د ژبې له مطالعې څخه نه شي پېژندل کېدای .

هغه وخت چه د ملتونو په يوه منطقه يا څو مناطقو اختلافات پيدا شي ، نو که د دوارو ملتونو ژبه بېله وي ، نو د اختلاف حل يوازې په دې خبره کېدی شي چه ددغې منطقې د ښارونو ، سيندونو ، غرونو ، محالاتو او قومونو نومونه په کومه ژبه دي ، دغه نومونه د مليت قاطع دليل حسابيږي .

هر ملت اخلاق ، عادات ، رسوم ، معتقدات ، قوانين ، ادبيات او افتخارات لري ، چه د هغو د پېژندلو ، ساتلو او انکشاف يوازينۍ وسيله ژبه ده ، څو پورې چه د يوه ملت

ژبه زده او تحليل نه كړى شي ، د يوه ملت پېژندل امكان نه لري .

يو له هغو قوي دلائلو څخه چه د ژبې تاثير په ناسيونالزم كې ښيي ، دا دى چه استعمار دخپل انبساط په وخت كې تل د ځان دټينګولو او دمستعمره شوو ملتونو له پښو څخه د غورځولو دپاره په مستعمرو كې د استعماري ژبې د خپرولو او دمستعمرو د ملي ژبو د له منځه وړلو دپاره تر ټولو لومړى كوشش كړى دى .

په دې نوي عصر كې ژبې ته د سياست په ميدان كې لوى قيمت وركړى شوى دى او ژبه د ناسيونالزم د مهم ركن او خورا مؤثر عامل په حيث پېژندل شوې ده .

المان د ژبې دوحدت په سبب متحد شو ، د انګلستان ناسيونالزم د انګليسي ژبې د وجود محصول دى ، انګليسي ژبه په سياسي جدوجهد د انګلوساكسيون ، فرانس او نورماني له ژبو جوړه شوې ده .

د فرانس ناسيونالزم په ژبه ولاړ دى چه دوائل له لهجې څخه يې وسعت موندلى دى . په مركزي او شرقي اروپا كې د ملي احساساتو قيام د ملي ژبو د احياء او توسعې سره نږدې او مستقيمه رابطه لري .

نوی یونان او نوې یوناني ژبه یو د بل په موازات مخکې درومي ، په یوګوسلاویا کې هم ژبه په موجوده حال کې د ناسیونالزم د کلکوالي سبب شوي دی .

که څه هم په موجوده حال کې په ځینی ملتونو کې لکه سویس درې ژبې رسمیت لري او په ځینو کې لکه الزاس او لوري او یا لکه جنوبي او شمالي امریکا بې له ملي او رسمي ژبو خلک په نورو ژبو هم خبرې کوي (۱) ولې دا مسئله بې له شبهې منل شوې ده چه ژبه د ملتونو د څرګندو مظاهرو او د ملتونو د تشکیلولو له قوي اسبابو څخه ده.(۲)

دناسیونالزم تحق د مختلفو ژبو د وجود سره یو نا ممکن کار نه دی ، مګر ډېر مشکل دی او د ملت د نه انکشاف او پاتې کېدو باعث ګرځي. (۳)

د امریکا ، روس ، اندونیشیا ، هند او چین د لویو مملکتونو تنظیم ته که سرې ځیر شي ، ملي او دولتي ژبه په هر یوه کې د توحید اساسي ذریعه حسابېږي .

ژبه په سیاسي لحاظ په اوسني عصر کې له بل هر وخته زیاته د اهمیت وړ ګرځېدلې ده او د ټولو تېرو زمانو څخه د

---

(۱) په دې مطلب مخکې د اشتباهاتو د عنوان لاندې بحث شوی دی .

(۲) د ناسیونالزم له کتابه واخستل شو . (م)

(۳) همدغه مطلب پروفیسر اسلانوف هم لیکلی دی . (م)

ملتونو د افرادو په اتصال ، ارتباط او اتحاد کې موثره واقع شوېده او د ناسیونالزم د تشکیل او خپرتیا دپاره تر بل هر څه زیات اهمیت لري . (۱)

• یوازې ژبه نه ده چه دغومره قیمت لري ، بلکه هغه خط او لیک چه ژبه پرې لیکل کېږي ، هغه هم په ناسیونالزم کې ډېر دخل لري ، د لیک او الف بې مسئله تل د ناسیونالزم د تقویې او وسعت دپاره په کار اچولی شوېده، د ناسیونالزم د سیاست په باب خاص لیک همېشه د بحث او مناظرې موضوع ده .

په المان کې به تل دګوت او لاتین په خط باندې اختلافات موجود ؤ او په ځینی سلاوي ملکونو کې د لاتین او سیریلیک (روسي لیک) په باب ټېل نا ټېل او تضاد وجود لرلی .

ائرلینډیانو د خپل ناسیونالزم د کلکولو دپاره د انګلوساکسون لیک پرېښود او خپل لرغوی لیک یې رائج کړ.

ترکانو هم دخپل ملیت د تقویې دپاره عربي خط و غورځاوه او پر ځای یې په لاتین کې نوی لیک اختراع او رائج کړ.

(۱) د ناسیونالزم کتاب ۳۵ او ۳۲ مخ .

د شرقي اروپا ځينې کوچنيو ملتونو ددې دپاره چه د المان د توسعې مخه ونيسي ، د ګوت ليک ترک کړ او په عوض يې لاتيني ليک متداول کړ . (۱)

پښتنو په يونانو باختري عصر کې يوناني ليک خپل ملي مرام دپاره ترميم کړ او د خپلو ملي اصولو دپاره يې په کې توري اضافه کړل . (۲)

په اسلامي عصر کې يې د خپلې ملي ژبې پښتو د اصواتو د ځايولو دپاره په عربي ليک کې لاس ووهه او د پښتو ليک يې جوړ کړ .

قرائن داسې دلالت کوي چه پښتنو په قبل الاسلام عصر کې خروشتي ليک لاره .

• نه پوهېږو چه پښتانه د اسلام په عصر کې ولې د خپل مليت د ساتلو او انکشاف نه چور غافل پاتې شول ؟ که دوی همدغسې لکه د دوی نورو وروڼو چه په ايران ،هند او اروپا کې مليتونه جوړ کړل ، دوی هم ملي مرکز ټينګ کړی او ساتلی وای ، نو ددوی تمدن به اوس د دنيا د تجربو او تماشو ځ او دوی به اوس په لوړ ورمېږ تبارز کولی شو .

---

(۱) کتې متې د ناسيونالزم له کتابه واخستل شو

(۲) د سره کوتل ډبرليک يې شاهد دی . (م)

په تنني انحطاط او پسمانی کې تر ټولو لويه او غټه مسئله د ژبې ده ، افغانانو له دې مسئلې څخه د افغاني مليت په طرحه او تشکيل کې غفلت کړی دی او کوي يې .

که غوريانو ، لوديان ، غلجيانو او سوريانو دا خلا نه وای پرېښې ، نو زمونږ څلوېښت پنځوس مليونه افغانان به په هند کې نه محوه کېدل او اوس به ددوی په ابائي ځمکه ، تاريخي کولتور او مفاخرو خلکو ښکه دعوې کولای شوای .

• (۵) **ملي حکومت او سياسي تنظيم :**

مخکې مونږ وويل چه يهودو د فلسطين د ځمکې د اشغال نه دمخه وطن نه لاره او مليت يې ساتلی ؤ ، په همدغه وخت کې دوی حکومت هم نه درلود ، اما دا جلا او نادره واقعه ده (۱) ، حقيقت دا دی چه يوه جامعه او خلک که رښتيا ملت وي ، نو حکومت به ولې نه لري ؟

• او هغسې ټولنې چه حکومت نه لري ، نه يې وي تاسيس کړی او په هڅه کې يې هم نه وي ، دوی ته به په څه دلائلو ملت ويل قانوني وي ؟ که د حکومت تاسيس د ملت د تشکيل شرط نه وي ، نو مونږ ولې وزيرستان ، تيرا او باجوړ ته ملت نه شو ويلای ؟ او هغه ټولنې چه په خپلو پښو

(۱) دا واقعه د مليت په تشکيل او ساتلو کې د کولتور زيات اهميت اثباتوي . (م)

ولاړ حکومت ونه لري ، هم ملت نه حسابېږي ؛ لکه دير ، سوات او تينول .

زه داسې فکر کوم چه بې حکومته او بې تنظيمه ټولنې ، ملتونه نشي ګڼل کېدای ، حکومت هم هغه وخت حکومت حسابېدای شي چه قانون ولري او دا يې ثابته کړي وي چه حقوقي حکومت دی ، که نه نو هرې متسلطې قوې ته حکومت نه ويل کېږي .

کومې ټولنې چه د يوه ملت د بيرغ لاندې د جزء په حيث ژوند کوي ، دا هم ملتونه نه دي ، البته بېل بېل قومونه ايالتونه او قبيلې حسابېدای شي .

هيڅ مانع نه لري چه ملت دې په قومونو ، ايالتونو ، مذاهبو او ژبو مشتمل وي ، ولې د وحدت مشخص عوامل دې ولري او دا څکه چه « مليت يوه صبغه ده ، نه د نسب سلسله او حکومت ضابطه . »

خو په هر صورت حکومت د مليت په تاسيس او د ناسيونالزم په تشکيل کې خورا لوی تاثير لري ، تاريخ ښودلې ده چه مقتدرو مرکزي حکومتونو د يوه ملت تيت پرک قبيلې او قومونه په يوه واحد مرکز راغونډ کړي او يو واحد ملت يې ورنه جوړ کړی دی .

بیسمارک په جرمن کې همدا کار وکړ ، ده د پروشیا متعددې او مختلفې ټوټې ، سره راغونډې کړې او د یوه واحد ملیت تهداؤ یې کېښود .

• د میرویس خان ملي تحریک له کندهاره تر بلوچستانه ورسېد او دوی یې د یوه ملت په رسۍ وتړل، ځکه چه د اغیارو او پردۍ سلطې سره یې مجادله وکړه او په هغې غالب شو ، نو دی د افغاني عصري ملیت لومړی موجد او مؤسس دی .

که عمرا خان په باجوړ کې کامیاب شوی وای ، سکه یې وهلې او حکم یې چلېدلای وای ، اوس به د باجوړ خلکو خپل ملیت لرلای .

احمد شاه بابا چه افغاني قومونه او قبیلې په یوه مرکز راغونډ کړل ، دی د ښکلي پښتونخوا د واحد ، متمرکز او ارادي ملیت یعنی ناسیونالزم مجدد او مکمل ګڼل کېږي .

د احمد شاه بابا د نېکې ارادې او عادلانه ادارې په سبب دده د بیرغ لاندې یوازې پښتانه قومونه له آمو تر جیلمه راغونډ نه شول ، بلکه وزبکو ،ترکمنو ، هزاره ؤ ، کشمیریانو ، بلوڅو او سندیانو هم دده په جوړ کړي افغاني ملیت کې خپل ګډون په خوښه او رضا ومانه .

همدغه شان دغه بهادر پښتانه قومونه چه خلک یې نن قبائل ګڼي ، د بابا په وخت کې د دغه لوی او ښاغلي ملت

جزء ؤ ، دوی هغه وخت قبائل او : (تبرین) نه وو ، وروسته چه استعمار راغی او ملت منهدم شو ، دوی ته یې قبائل وویل او د ملت نوم یې ورنه واخیست.

وګوری دغو زور اورانو ، یهود چه په تمامه دنیا خپاره وو، ملت وبلل ، مګر پښتانه چه په یوه خاروه کې متمرکز پراته وو ، قومیت ، ژبه ، رسوم او تاریخ یې لاره او خپل تنظیم یې د جرګو په شکل ساتلی ؤ ، په دوی یې د قبائلو یعنی وحشیانو او بې تهذیبو اطلاق وکړ ، چه تر اوسه یې لا مونږ هم ضبطوو.

مونږ مخکې مقتدر مرکزي حکومتونه یاد کړل ، ددېنه مراد مستبد او په خپل سر حکومتونه نه دي ، داسې حکومتونه ددې پر ځای چه ملت جوړ کړي ورانوي یې ، ځکه دغسې حکومتونه د خلکو خوښ نه وي ، ورنه تېښتي او غاړه ورته نه ږدي ، دغسې حکومتونه د ناسیونالزم ببېخ باسي.

بلکه مراد هغه حکومتونه دي چه هدف یې د خپل ملت منافع اومصالح وي ، چه داخلي امنیت تامین او د نورو دولتونو سره په متقابل احترام د خپل ملت شان لوړ کي ، د ملت د کولتوري او اقتصادي انکشاف په واسطه د ملت سویه جګه کاندي او د ملت ملاتړ او پشتیباني حاصله کړي.

دا ربښتیا ده چه دا عصر دملیتونو دی ، حکومت باید په ملت متکي وي ، ملت مستحکم کړي او په پښو يې ودروي. (۱)

« د حکومت وظیفه د ملت تربیه او تمینه ده ،نه دمال غونډول او خزانې ډکول . »

• (۶) اقتصادي کټه : دا واضحه ده چه انسان په ژوند کې ډېر احتیاجات لري او ددې احتیاجاتو تکمیل په اقتصاد او ګټه پورې اړه لري، په دې عصر کې د انسانانو دژوند د حوادثو تکمیل په یوازې توګه ، یاد څو کسو په ګډون سرته نه رسېږي ، نو دغلته انسانان د ملت د تشکیل اود ملي حکومت د جوړولو په فکر کې لوېږي .

د رینان په اصطلاح د ملت متحده اراده چه د ښه ژوند په هڅه په کار ولوېږي او خپل منظم قوت چه حکومت دی په کار واچوي ، نو د ملي اقتصاد ارزو تامینېږي .

ملي حکومتونه د ملي منافعو د تامین دپاره په علمي ، سیاسي تخنیکي او حتی کولتوري میتودونو د نورو خارجي استثمارګرو ملتونو مخه نیسي، ملي قوا په کار اچوي او ملي اقتصاد لوړې درجې ته رسوي .

---

(۱) د ناسیونالزم کتاب .

په ملي اقتصاد سره ، معارف ، روغتيا ، عسكري سويه وسله ، تخنيكي الات او وسائل تهيه كېږي ،بندونه ، ويالې ، شركتونه ، كارخانې ، تاسيس كېږي او ژوند اعلى معيار ته رسېږي .

نو په دغو ملاحظاتو خلک او طبقات په اقتصادي مشتركو منافعو ، هر يو د ځان د فائدې دپاره راغونډ ېږي په ناسيونالزم تشبث كوي ، وطن ودانوي او په دغه شان خپله ازادي ، استقلال او خپلواكي ساتي او په خپل وطن كې مامون ، هوسا او د ويارږ ژوند تېروي .

• خو بيا هم يوه كولتوري تشابه او نږدېوالى ضرور دى چه د خلكو تفاهم او اعتماد حاصل او په يوه مركز يې راغونډ كاندې ، ځكه تاريخ تر اوسه نه ده ښودلې چه بالكل بېګانه او نا مماثل خلک دې راغونډ شوي وي او يوه جامعه يا ملت دې تشكيل كړي وي .

نو دا خبره رښتيا ده چه كه اقتصاد په كولتور تاثير كوي ډېر كرته اقتصاد د كولتور د تاثير لاندې هم راځي . (۱)

• په دې كې شک نشته چه د ملتونو د تشكيل ، توسعې او د لويو دولتونو دتاسيس او د استعمار د پيدا كېدو اصلي متحرک اقتصادي فكر دى .

---

(۱) د ښاغلي ماوځي تونګ اقوالو ته دې رجوع وشي . (م)

لویو دولتونو د منځنیو پېړیو په اواخرو او د رنسانس د دورې په اوائلو کې د اقتصادي منافعو د جلب دپاره د کوچنیو او کمزورو ملتونو استعمار ته ملا وتړله او یو د بل په سیالۍ پاڅېدل.

په دغه زمانه کې فیوډالي اقتصاد په ملي بدل شو. دولتونو د اقتصادي امورو اختیارات په خپل لاس کې ونیول.

اقتصادي استقلال د بېګانه دولتونو په مقابل کې لوی کمال وګڼل شو، ګومرکي قیود وضع شول د خامو موادو د پیدا کولو دپاره مستعمرو ته اړتیا حس شوه، د مستعمرو دنیولو دپاره نظامي قوتونه تقویه او په کار واچول شول، نو وتلی لیډرانو خپل ملتونه تحریک کړل چه د ملي وحدت په ایجاد او استحکام سره، د خپل ملي ثروت انحصاري اقتصادي حالت وساتي.

په بل عبارت: دولتونو، اقتصادي عوامل او اسباب د ناسیونالزم د ایجاد او توسعې دپاره په ښه شان سره په کار واچول او استفاده یې ترې وکړه.

داسې معلومېږي چه د ناسیونالزم اقتصادي خوا، په هغو وطنونو کې چه لږ قدرت لري او رقابت کولی نه شي، زر تحقق مومي او کوم وخت چه خلک وپوهول شي نو د اقتصادي بنسیې د تقویې دپاره او اقتصادي استقلال په

هڅه ژر متشکل کېږي ، اتفاق کوي او د ناسیونالزم په رسۍ منګولې لګوي . (۱)

• دلته باید پټه پاتې نه شي : څنګه چه لوی اوقوي دولتونه د وړو او کمزورو ملتونو څخه په قسما قسم حیلو، دسیسو او استعماري چل ول اقتصادي استثمار کوي ، په همدغه شان نن ورځ دا هم یو لوی سیاسي فن ګرځېدلی دی، چه مستقل دولتونه په څه شان سره د ((تدریجي نفوذ)) په ذریعه دومره بې لاس او بې پښو او راتیټ کړی شي، چه سران یې په خوښه یا قهراً هر خارجي حکم ته د ملي منافعو په ضرر غاړه کښېږدي .

کوم وخت چه په یو مملکت کې خارجي نفوذ دغسې حال ته ورسېږي ، نو بیا خپل بریخي پیدا کوي او د ملت لاس په ګډه خوري او که ملي حاکمه قوه د دغو لاسونو سره ارادتاً، یا قهراً موافقه وکړي ، نو په مملکت کې یا د فلسطین، مصر ، ویتنام حالت منځ ته راځي او یا د اندونیشیا ، عراق، کیوبا او الجزائر واقعات تکرارېږي . (۲)

علاج یې ، ملي حاکمیت ، حقیقي ملي کانګرس ، لویه جرګه او هغه سلطان دی چه قرآن حکیم ورته په خپل اعجاز

(۱) د ناسیونالزم کتاب .
(۲) د ۱۳۵۰ کال په اسد کې دا عبارت لیکل کېږي . (خادم)

داسې اشاره کړې ده «لاتنفذون الا بسلطان» يعنې وتل او خلاصېدل نه شي کېداى ، مګر په لوى قوت !!! (۱)

• (۷) **تاريخ** : تاريخي ارتباط او د تاريخ نه پيدا شوي سوابق د خلکو په راغونډولو او په يوه مرکز جمع کولو کې خورا مهم تاثير لري .

د تاريخ نه په را پاتې شوو رواياتو کې ضروري نه ده چه حقيقي او واقعي دې وي ، ځکه چه د دنيا ټول اجتماعي او عقيدوي امور د سائنس په تله نه شي تلل کېداى او دا ممکنه هم نه ده ، بلکه ضروري دا ده چه د ټول ملت په ذهن کې دې ټينګ نفوذ او رسوخ ولري . (۲)

په دې باب دا وجيزه په ياد ساتل په کار دي چه «ملت يو حقيق موجود دى ، مګر د ملت په تهداؤ کې چه کومې خبرتې او تيرې ايښودل کېږي ، هيڅ ضروري نه ده چه هغه دې ټولې واقعي وي» .

بله دا چه انسان او دده مسلمات په خپله يو لوى واقعيت دى . د دنيا ټول ملتونه خپل تاريخي شخصيتونه ، وقائع او سمبولونه لري ، چه په هغو افتخار او مباهات کوي او د هغو په يادګيرنه او سالګرو کې مجلسونه جوړوي او

---

(۱) نکته الا بسلطان يادګر + ورنه چون مور و ملخ در ګل بمير

(۲) د ناسيوناليزم کتاب ۴۱ مخ .

جشنونه نیسي ، په واقعه کې د غه د ملیت د بنا بنسټ حسابېږي .

د پښتنو تاریخ له دغسې افتخاراتو ډک دی ، مګر توجه ورته نه ده شوې ، په دې اواخرو کې مونږ یوازې خوشحال او رحمان وپېژندل ، نور نو لکه چه هیڅ هم نه وي .

په معاصر وخت کې د لرې او برې پښتونخوا لیکوالو د تاریخ په باب یو څه تحقیقات روان کړي دي ، خو دې کار لا د ملي نهضت شکل نه دی موندلای ، علاوتاً دغه تحقیقات تدقیق غواړي ، دنه تامل له کبله زمونږ تاریخ غصب شوی دی ، ډېره بده لادا ده چه وهل شوی دی .

کله کله لازمونږ ځینی لیکوال دا کوشش هم کوي چه خپل ملي افتخارات د پردو په نامه ثبت کړي ، یا یې مسخ کړي او له نورو بېګانه منابعو څخه پرې کربدیت واخلي .

په دې موضوع کې ډېرې خبرې شته ، همدا سبب دی چه زه د افغاني انحطاط علة العلل اول کولتوري ګڼم او بیا سیاسي ، نه بل څه .

• (۸) **مشترک اداب او رسوم** : که څه هم مشترک اداب، اخلاق ، عادات او رسوم چه لباس ، د تعمیر او اداري طرز هم په کې دی . د تاریخ ، دین ، نژاد ، ژبې او ګډ ژوند پیداوار دی ، خو بیا هم په دې ارځي چه د جلا او ځانته عنوان لاندې ونیول شي.

دغه چه وښودل شول هغه څیزونه دي چه افراد ، افرادو ته نږدې کوي او یو ملت له بله جدا کوي .

د دېنه علاوه ادبیات ، شعر ، موسیقي ، ګڼډا ، فنون او هنرونه هغه مهم عناصر دي چه د یوه ملت د پېژندلو او د بل نه په مشخص کولو کې څرګنده اغیزه لري ، دا هم د دې مادي اجزا دي .

د دې دپاره چه یو ملت ژوندی ، ازاد او مستقل پاتې شي او د افتخار ور ژوندون ولري ، لازمه ده چه خپل «ملي هویت» وساتي . ملي هویت څه شی دی ؟ ملي هویت همدغه مواد دي چه په تېرو اتو عناوینو کې بیان شول ، هغه ملتونه چه د ژوند سره علاقه او د ژوند حق لري ، هغوی دې مسائلو ته جدي توجه کوي .

هغه وګړي چه ملیت نه لري ، یا یې بایلودی وي ، یا په ملیت کې ځان ته شخصي ضرر ویني دوی قصداً او عمداً په ملي کولتور ، دین ، اقتصاد ، تاریخ ، ادب ، هنر او فن کې اختلاط کوي . دلایل جوړوي چه دغه ارکان د خلکو په نظر کې بدمعرفي کړي او د دغو په اضمحلال سره د

ناسیونالزم بنا رنګه کړي. (۱) او دا ددې دپاره چه د ضعیف کمزوري، ګډوډ او نا مربوط ملت څخه په اسانۍ استفاده کېدی شي، استثمارېدی شي او استعمار کېدای شي، سر او مال يې وهل کېدی شي او خوړل کېدای شي.

دغه دی خاصیت د استعمار!

دا ده لاره د استثمار!

نعوذ من غضبک یا قهار یا جبار!

فاعتبروا یا اولوالابصار!

---

(۱) زما د هغه استدلالونو په مقابل کې چه په مشرانو جرګه کې به مې د افغاني کولتور په باب اقامه کول، ځینو به ویل: «افغانها لباس ملي ندارند، زبان افغاني تکامل نموده و عادات انها غیر مترقی میباشد.»

د افغان ملت دتاسیس او چلولو په اول کال چه زما تر اداري لاندې ؤ، خپل ملګري راته ولمسول شول اود افغان ولس په دوره کې را باندې زما درباري دوستان په غضب کړی شول، خو زه په حقه وم. (خادم)

ځلورمه برخه :

## ناسیونالزم او استعمار

افغاني ناسیونالزم د ځان د ودانۍ په فکر دی . هو ، هیڅ ملک او ملت ودانېدی نه شي څو پورې چه د مغرضانو ناولي لاسونه چه د استبداد ، استثمار ، استعمار او ایمپیریالزم په شکل په یوه ملت کې کار کوي ، لنډ نه شي . نو ځکه مونږ دلته لازمه وبلله چه د ناسیونالزم او استعمار په عنوان وغږیږو.

• استبداد د یوه واکوال په خپل سر او خپله خوښه کار کول دي چه قانون او د خلکو استرضا ته په کې هیڅ توجه نه وي، بلکه مستبد خپل امر او حکم قانون او خلک د هغه په اطاعت مجبور گڼي .

د استبداد عصري شکل ((بوروکراسي)) ده . بوروکراسي دېته وایې چه هر څه د حاکمې طبقې په لاس کې وي او له خلکو یې چه څنگه خوښه وي استفاده کوي .

کله خپل استبداد ته د قانون جامه وراغوندي ، که دده په کې گټه وي او کله بیا هماغه قانون د پښو لاندې کوي چه که اجرا یې د حاکم له رأئي مخالفه وي .

په بوروکراسۍ کې قانون د غښې جال وي ، په خپله په کې نه نښلي ، خو ښکار ورڅخه وتلی نه شي ، کوم وخت چه په

یوه ملت د صریح استبداد عصنر تېر شي ، نو د قانون په شکل استبداد ته نوبت رسېږي ، په ښکاره خو قانون شوری، عدلیه اوحکومت موجود وي ، مګر دا ټول د ملت د سر او مال د چور چپاو دپاره د یوې ډلې په شکل متفق وي .

ملت او عوام په بوروکراسۍ کې بې لاس او بې پښو حیوانان وي ، اکثره یې لا په دې پوهېږي هم نه چه دا څنګه چل دی چه کاغذ پراني شته ، کار هېچري نه کېږي او چه هر چېرې ورشې ، شرمښان لیدل کېږي د خلکو د وینو تږي ؟

• استعمار که څه هم عربي کلمه او د ابادۍ او ودانۍ په معنی ده ، خو د نن ورځې په اصطلاح د یوه قوي دولت سیاسي ، نظامي ، کولتوري او اقتصادي تسلط ته وایې پر یوه ضعیف قوم ، ملت یا مملکت باندې .

• کوم وخت چه صنعتي او قوي دولتونه ازادو مستعمرو یا کمزورو او نا منکشفو ملکونو ته د سرمائي اومیکانزم د صدور په واسطه په دغسې ملکونو سیاسي او اقتصادي فشار راوړي او کله لا د لاس لاندې ملک کولتور هم کمزور کوي ، ددې دپاره چه څملول شوی ملک بېرته سر پورته کولو ته مساعد نه شي او په دغه شان د هغو د خامو موادو او ارزانه کار نه بده استفاده کوي ، نو دغه استثمار دی ، چه په عصري اصطلاح یې ایمپیریالزم یا نوی استعمار بولي .

یعنی ورته د سرمایه داری لوړه مرحله وایي. (۱)

موږ دغه ټول عناوین د استعمار په کلمه کې شامل ګڼلي دي، د ایمپیریالزم په تعریف کې د مفکرینو اختلاف دی، خو کوم شی چه په اخره کې تقریباً منل شوی دی، دا دی: «د یوه مملکت هر قسم تسلط په بل مملکت باندې ایمپیریالزم بلل کیږي.»

په ساده عبارت: ایمپیریالزم نیوکه، تسلط، توسعه طلبي او مملکت ګیري ده، په هر شکل چه وي، اما د اسیا او افریقا د سیاسیونو په اصطلاح دا کلمه اغلباً په سیاسي تسلط کې استعمالیږي او د اقتصادي تسلط دپاره د استعمار کلمه په کاریږي. (۲)

کله دا کلمې یوه د بلې پر ځای هم استعمالیږي.

• اروپایانو د سیاسي ظلمونو دپاره بېل، بېل نومونه پیدا کړي دي، مګر موږ دغو ټولو ته ظلم وایو او د ظالم او مظلوم په کلماتو ورته تعبیر کوو.

که څوک د چا مال خوري، که څوک چاته سپکه اړوي، که څوک د چا په ملک خېټه اچوي، که څوک په چا باندې د زور حکومت کوي، که څوک د چا ژبه، کولتور، اخلاق،

---

(۱) سیاسي فرهنګ ص ۲۸

(۲) سیاسي فرهنګ.

رسوم او دین تباه کوي ، دا ټول ظالمان دي . قران کریم د ظالم لپاره بئس المهاد ښودلی دی .

## د استعمار خواص او اقسام

استعمار ددې عصر یوه لویه فتنه ده ، یو افت دی ، یو مرض دی او یوه وبا ده ، دا بلا کله او څنګه پیدا شوه ؟
هغه وخت چه په غرب کې ناسیونالزم او ملي فلسفې تعمیم وموند ، غربیانو خپل ملیتونه منظم او مرتب کړل ، په دغه وخت کې شرق د ملیت له فلسفې نا خبره او ویده ؤ ، دوی په کې راننوتل ، خو چه دوی ویښېدل غربیانو په کې خپلې ریښې ځغلولې وې .

د شرق بې ثباته او غیر ملي حکومتونه په اسانۍ رنګېدی شول ، د غرب پروګرام ملي ؤ او د شرق شخصي د غرب حکومتونه په قوي احزابو متکي وو او اوږده ، اوږده پروګرامونه یې جوړلی شول .

د شرقي ملتونو په تاج و تخت ، حکومت او واک ، جاه و جلال ، مال و منال په خپل منځ کې جګړه وه .

د قتل و قتال ، د سائسو ، ګوندیو او رقابتونو بازار ګرم ؤ او د خپلو رقابتونو د پاره یې له اغیارو استمداد هم کاوه ، په شرق کې حکومت د مزو او چړچو معنی لرله ، خو په غرب کې حکومت د ملي وقار ، عروج او ملي عزت او شرافت معنی پیدا کړې وه .

غرب په دغسې وخت کې په شرق راننوت ، غرب پوهېدو چه که د دوی استيلائي پروګرام په يوه شخص تاثير ونه کړي ، لږه موده وروسته زمينه تهيه کېږي او بل د لاس لاندې کولی شي ، نو مرتب حرکت يې شروع کړ ، بيا نو په څه موده کې په اسلامي او غير اسلامي نړۍ مسلط شول او بيا وروسته ورتېر شول افريقا ته .

•د غرب ايمپيرياليزم ددوهم جنګه پورې نظامي او سياسي رنګ درلود ، مګر ددوهم جنګ نه وروسته دنيا تغير وکړ او مسئله اقتصادي شوه ، اګر چه د توري او نظامي قوت اهميت لا له منځه تللی نه دی ، خو نن شکل بدل شو ، اوس په اقتصاد جنګ دی ، اواله يې هم اقتصاد دی ، کولتور وراندې کول او کولتور له منځه وړل يوه وسيله ده ، په دغه وسيله قوي ملت کمزوری کوي او بيا خپل موږی تک وهي .

شرقيان او افريقايان داسې فکر کوي چه که مونږ هم دغربيانو په رنګ کې رنګين شو ، نو دوی به رانه راضي شي يا د ځينو په نظريه : دوی به ددوی په توره ووهو ، مګر همدا مفکوره د غرب له دسائسو څخه ده . او يو دام دی چه د ځمکې غوندې دی او خلک يې نه ويني .

استعمار يو شيطاني علم دی ، چه په هر ځای او هر وخت کې په بېل ، بېل شکل تطبيقېږي ، خو څومره چه تر اوسه د

استعمار په باب تحقیقات شوي دي ، استعمار یا مستقیم دی یاغیر مستقیم .

مسقتیم استعمار دا دی چه یو خارجي ملک په یوه قام او ځمکه مسلط شي ، اشغال یې کړی او خپل قدرت وریاندې تحمیل کاندې . په داسې شان چه اداره یې په خپل لاس کې واخلي، استثمار یې کړي ، خپل کولتور او سنن په کې تعمیم کړي او د اشغال شوي ملت کولتور او هویت له منځه یوسي .

• **استعمار له مستعمرو څخه دا استفاده کوي :**

(۱) د مستعمرې د تجارت کنټرول په خپله ګټه .

(۲) د خپل وطن دپاره د زیاتې او ښې غذا تحصیل .

(۳) د مستعمرې معادن او خام مواد ، په خپل اختیار کې راوړل .

(۴) په مستعمره کې دخپلو مالونو د خرڅلاو دپاره بازار جوړول .

(۵) خپل هره ورځ زیاتیدونکي نفوس مستعمرې ته لیږل .

(۶) له مستعمرې څخه ارزان بیه مزدوران په کار اچول .

(۷) په مستعمره کې نظامي اډې جوړول .

(۸) له مستعمرو څخه ارزانه عسکر جلبول .

(۹) د مذهبي اختلافاتو په وخت کې د مطلوبې فرقې په طرفداري د کومک دپاره خلک لېږل او په نتيجه کې د مهاجرت محال استعمار کول او اشغالول.
(۱۰) د مهاجرينو په واسطه منفعت طلبي او اغتشاش پيدا کول او داسې نور ډېر کارونه او استفادې.

## له استعمار څخه دفاع

استعمارچیان د استعمار د بدې څېرې او بدو کارونو د لټولو دپاره د مستعمره شوو او اړول شوو خلکو په خوله څه داسې دلائل راوړي چه خلک ددې افت څخه د ېره تمه ونکړي.

کله دا زمینه داسې تیاروي چه د نظر لاندې مملکت ورو ، ورو بیائي ، بیا یې چه څو یې د یوې داسې غلامۍ ، تجزیې او د تباهۍ د کندې په غاړه ودروي چه د استعمار لمن ورته امن معلوم شي ، نو بیا یې چه څه خوښه وي ، هغه کوي او ګیر شوی مملکت بیا دغه زهر په مزه په سر اړوي.

### د استعمار دلائل دا دي:

استعمار د ناسیونالزم د ایجاد دپاره لاره هواروي ، د دیموکراسۍ دپاره مخه پرانیزي ، اروپایانو مرئیتوب لغوه کړ ، قبیلوي جنګونه یې ختم کړل. د ارتباط او وړلو راوړلو وسائل یې ایجاد کړل ، د ژوند سطحه یې لوړه کړه ، دځمکې لاندې منابع اروپایانو رابرڅېره کړل ، علمي ، فلاحتي ، زراعتي او تخنیکي لارې یې خلکو ته وښودلې. د ملاریا او نورو وبائي او متعدي امراضو قطعي علاجونه یې پیدا کړل ، د بهتر صحت شرائط یې مهیا کړل ...

● جواب یې دا دی : دغه ټول تحولات چه اشغالګرانو په مستعمرو کې وکړل ، د خپلې فائدې د پاره یې کړي دي ، نه د مستعمرو د فائدې دپاره د ملیت لپاره که هواره شوې وي ، یا دیموکراسي راغلي وي ، سبب یې دا دی چه مستعمرې د تباهی او امحا سره مخامخ شوي ، نو نا علاجه یې خلک متفق شول او ناسیونالزم منځ ته راغلی .

دیموکراسي خو د جرګو په صورت پخوا هم موجوده وه ، اشغالګرو ورته د خپل مفاد دپاره غربي رنګ ورکړ او که لږ ژور وګورو په مستعمرو او نا منکشفو ملکونو کې چه له غربي دیموکراسی څخه څومره فایده اشغالګرانو ته رسیږي ، خپله وطن ته په کې هغومره فائده نه وي .

د غلامی لغوه یو عام عالمي جریان ؤ چه اساس یې اسلام ایښی ؤ ، لویه خبره دا ده چه اوس خو د غربي بلاک په مقابل کې شرقي بلاک په قوت سره موجود دی ، که هر څومره مزاحمت زیاتیږي ، رقیب ته مخه هواریږي .

حاصل دا دی چه هر ملت او ولس خپل اصول او مقررات لري ، خو چه استعمار راشي ، په دغو اصولو او ملي تعاملاتو انقلاب راوړي او مدعا یې دا وي چه د ځان دپاره په غربي اصولو بندګان او غلامان پیدا کړي ، چه ددوی هر کرغیړن او بد عمل ته بنه ووایي .

او دوی په دغه شان له مستعمرو ډېره استفاده وکړي او ډېره موده یې باداري پاتي شي.

حقیقت دا دی چه هر ملت ته د هغوی خپل تمدن د نورو له اصولو څخه ګټور دی، هر هغه شی چه یوه ملت ته غلامي راوړي او واک یې له لاسه اخلي د هغه به څه فایده وي؟ ایا تر استقلال، ازادۍ او خپلواکۍ هم بل لوی نعمت شته؟ ایا په دنیا کې به څه داسې شی وي چه سړی یې د ازادۍ په بدل واخلي؟

استعمار د ټولو وسائلو او ذرائعو په زور یو ملت له پښو غورځوي، که قدرت په کې نوابغ پیدا کړل، بیا را ولاړ شي او که نه، نو څي هلاک شي.

د غربي تمدن د سخافت پېژندلو لپاره د ګاندي چه «دا دی زما مذهب» کتاب لوستل په کار دي.

## غیر مستقیم استعمار:

غیر مستقیم استعمار هغه دی چه په مستعمره کې استعمار چه څېره نه لیدل کېږي، مګر مملکت د استعمار د تسلط لاندې وي، دا بیا په دوه قسمه دي: اول غیر مستقیم حکومت، دوهم نوی استعمار.

**غیر مستقیم حکومت**: دا هغه استعماري حکومت دی چه ظاهراً خو د ملي او وطني خلکو په لاس کې وي، مګر په

حقیقت کې د غه خلک استعمار د لاس آله او د استعماري قوت بلا شرطه غلامان او استعمار ته په مطلق ډول وفادار وي.

داسې کسان چه استعمار ته کار کوي ، طماع ، خپل چاري، د پیسو بندګان ، بې رحمه ، بې عاطفې او د ملي روحیې نه کاملاً بې برخې وي.

په هر طرف چه آغا اشاره وکړي ، دوی په سر منډې وهي او په هره طریقه چه وي ، د بادار خواهشات په مملکت کې اجرا کوي.

په دغسې ملکونو کې چه دغیر مستقیم یا د بل لاس حکومت په ذریعه چلېږي ، استعمار څه داسې نمائندګان هم پیدا کوي او په کار یې اچوي چه پرته له دولتي کورنۍ او اورګان څخه وي ؛ دا هغه کسان وي چه وفاداري او آغا پرستي یې د علم النفس د تحلیل له مخې د حق الیقین درجې ته رسېدلې وي.

دا نمایندګان چه په ځرګنده خو د دغه ملت خلک دي ، مګر په حقیقت کې د ملت سره هېڅ معنوي ارتباط نه لري او د خپل ملت پر سر د بل چا نه پیسې ، منصبونه او امتیازات اخلي او په بدل کې دائما د بادار حقوق ، امال او غوښتنې په نظر کې نیسي او ساتي یې دوی په واقعه کې د استعمار له خوا کنټرولران وي او په خپل ملت کې په پټه د

استعمار د هائی کمشنرانو ډیوټي په غاړه لري او غیر مستقیم حکومت ته لاربنوونه کوي .

احیاناً که د حکومت له ارکانو څخه د کوم یوه په مغزو کې څه داسې شی وګرځي چه د آغا له هدایته مخالف وي ، فوراً اغا ته خبر ورکول کېږي ، بیا نو اشغالګر دولت د پردې تر شا دهغې علاج کوي او که دغسې شخص نه منونکی وي ، نو له صحنې یې باسي او که دا هم ونشوه ، د نورو غلامانو په ذریعه یې علاج کوي او جریان په خپله ګټه را اړوي . (۱)

په دغه شان د مسلط دولت منافع د دغسې مستعمرې په معارف ، مطبوعاتو ، ادبیاتو ، تاریخ ، اداره ، واکدارۍ ، لیډرشپ ، تجارت ، اقتصاد ، پولیس ، فوځ او د سیاسي او اجتماعي ژوند په ټولو شئونو کې د مراقبت لاندې نیول کېږي .

او ددغو ټولو مراقبتونو او نګرانۍ یو هدف وي ، هغه دا چه چېرې نهضت پیدا نه شي دغه قسم استعماري حکومتونه په ایشیا او افریقا کې په رنګارنګ شکلونو اوس هم موجود دي .

(۱) ډېر کرته داسې هم کېږي چه د یوه مملکت ځوانان ، متورین او احساساتي خلک خپل ملک کې په ناپوهۍ داسې اقدامات کوي چه د استعمار په ګټه تمامېږي . (خادم)

البته د خپلو وفادارانو سره له هېڅ قسم تعاون څخه ابا نه کوي . او که له کومې خوا خطر پېښ شي ، نو آغا دا خطر د ځان خطر ګڼي او په قوت سره خپل مريونه ژغوري ، په مقابل کې د ملت په اغفال ، اختناق او سرټکولو کې هيڅ قسم صرفه نه کوي او د غسې نافرمانه ملتونه چه نه اېل کېږي له هرې خوا غارت ، چورچپاو او د پښو لاندې کېږي .
د غير مستقيم او بالواسطه حکومت طريقه په ۱۸۷۹ کې د مستر ګېلډي له خوا د انګليس دولت ته پېشنهاد شوه ، لارډلوګارډ په ډېرو ځايو کې هغه عملي کړه، لوګارډ په (۱۸۷۹ - ۱۷۸۰ ع) کې د افغان انګليس په جنګونو کې هم خدمت کړی دی .

• د بالواسطه (غير مستقيم حکومت) څرګنده نښه دا ده چه د ملت طبقات ، اقوام او قبيلې د لساني ، مذهبي، نژادي ، سياسي ، درباري ، اقتصادي او کولتوري اختلافاتو او رقابتونو په وجهه يو تر بله جلا او دښمنان ساتي .

دا بايد وويل شي چه د انګليس استعماري سياست په ټولو مستعمرو کې تل په پوستوالي او خاص ملائمت سره چلېږي انګريزان زيار کاږي چه د مستعمرې د منطقې مشکلات او انجړی مسئلې څومره چه کېدی شي ، بې د زوربنکاره کولو ، د واقعي سياست په واسطه حل کاندي،

دغه لیار خپلو پیروانو ته هم وربښئي او په دغه شان زهر په شاتو کې لړلي ورکوي. (۱)

سیاست تل یو مرموز شي راغلی دی ، مګر د انګلیس سیاست په حقیقي معنی مرموز دی ، تر دې چه فهم یې د دنیا د ډېرو لویو کسانو تر فهمه لالوړ دی . او پرې تېر وځي.

**نوی استعمار:** نوی استعمار د غیر مستقیم حکومت یو قسم دی ، ددې دواړو فرق تش دومره دی :

چه که په مستعمره کې د استعمار منحوسه څېره په یوه شان له شانونو نظر ته راتله ، نو دا غیر مستقیم حکومت یا استعمار دی . او که ظاهراً د استعمار هیڅ علامه نه لیدل کېده ، خو عرفاني ، سیاسي ، کولتوري ، اقتصادي او اجتماعي رشد په مملکت کې شکل بدلاوه او په حقیقت کې مملکت تر شا روان ؤ ، نو پوه شه چه نوی استعمار (New Colonialism) راغلی او متمرکز شوی دی . یعنی یو مهلک او نا تشخیص شوی مرض د مملکت په وجود کې سرایت کړی دی .

د نوي کلونیالزم یعنی نوي استعمار په واسطه ضعیف او کم رشده ممالک هماغسي د اقتصاد په لومړنیو مرحلو

---

(۱) د ناسیونالزم له کتابه واخستل شو . (خادم)

کې پاتې کېږي ، بلکه لانبکته ځي نوی استعمار د نري رنځ خاصیت لري ، داسې مریض په حقیقت کې مړ وي ، مګر ظاهراً تنفس کوي او ګرځي .

• دا اصلاح د باندونګ له کنفرانسه ( ۱۹۵۵ ع ) وروسته رواج شوه . په دې کنفرانس کې سوکارنو د اندونیزیا جمهور رئیس یو قسم استعمار ته اشاره وکړه چه په نوي لباس کې د کولتوري او اقتصادي نظارت او تسلط لـه لارې، یو لږ شمېر او متحد جمعیت د زاړه استعمار هماغه پخواني اهداف تعقیبوي . (۱)

په لاندې کرښو کې د استعمار شوو ملتونو د لیډرانو وجیزې ولولئ ، نو ددې مبهمې نا پېژندل شوې بلا په حقیقي مفهوم به پوه شئ .

د ګانا رئیس وایې : نوی کلونیالزم هغه سیاسي حالت دی چه د هغه په اساس استعمار په یوه لاس ازادي ورکوي او په بل لاس یې اخلي .

نوی استعمار بې بیرغه امپراطوري ده یا کاذب استقلال دی .

نوی استعمار د ازادې شوې مستعمرې واک د مرتجعو بومي سیاستمدارانو په لاس ورکوي .

---

(۱) سیاسي فرهنګ . مخ ۱۹

نظامي ، پوليسي او د استخباراتو اداره په خپل لاس کې نيسي.

نوی استعمار د هغه قدرت او وسائلو په ذريعه چه لري يې د «ملي نهضتونو» بېخ باسي او اختلاف واچوه او حکومت کوه ، د چور کوه سره يو ځای عملي کوي.

نوی استعمار په مستعمره کې سياسي او مخصوصاً اقتصادي نفوذ ساتل دي ، پس له دې چه سياسي استقلال ورکړی شي او واقعي استقلال له منځه وړل دي.

نوی استعمار د پخواني استعمار نه خورا ډېر خطرناک دی، نوی استعمار زوړ ، مريض او مرګاني نه دی ، بلکه ځوان او فعال دی چه په موجوده حال کې د ملتونو استقلال ته خطره ده.

نوی استعمار د خپلې پراخې او مبهمې شبکې په ذريعه سياسي ، اقتصادي ، ايديالوژيکي او نور وسائل په کار اچوي چه هماغه استعماري منافع د زاړه استعمار په شان تامين کړي ، د دواړو ماهيت او مقاصد فرق نه لري.

## د نوي استعمار پاليسي :

(۱) نوی استعمار په هغه ملک کې چه ناسيونالزم په کې خپور شوی وي او نفوذ يې په کې نه چلېږي ، په قسم قسم

---

(۱) پس له جمهوري انقلابه دغسې دسائس بر ملا شول . (خادم)

پروپاګنډونو او تبلیغاتو خلک په خپل ملي حکومت بدګومانه کوي او ترې خوا بدي کوي یې او په دې شان هنګامه او غوغا پورته کوي.

او که ملي حکومت د استعماري حکومت سره مجادله شروع کړه، نو مرتجع، طماع او بې ایمانه عناصر راپورته کوي او په ملي حکومت کودتا کوي او هغه وخت چه مرتج حکومت جوړ شي او د استعمار سره د هغه په میل روان شي، نو د دغسې فاسدو عناصرو له هېڅ کومک څخه ځان نه ژغوري.

(۲) اوسنی تاریخ شاهد دی چه خارجي استعماري قوتونو د خپلو منافعو د ساتلو د پاره په مختلفو دسیسو سره ملي حکومتونه له پښو غورځولي او خپل فاسد عمال او ناولي خدمتګاران یې پر ملتونو تحمیل کړي دي.

(۳) استعمار تل اقتصادي ګټه په نظر کې لري. هغه وخت چه یوه مستعمره استقلال ته ورسېږي، نو د غه وخت استعمار د مالي او اقتصادي کومکونو په بهانه د مملکت اقتصادي واګې په لاس کې نیسي او په مختلفو عناوینو؛ لکه معلمین، متخصصین، مشاورین، تجارتي شرکتونه او داسې نورو لارو له مملکته پیسې باسي او په دغه شان نه پرېږدي چه مملکت په خپلو پښو ودرېږي.

سکوتوري د ګانا جمهور رئیس وایي : د استعماري دولتونو سرمایه په کار اچول په نا منکشفو هېوادو کې یوه ډېره اثر ناکه حیله ده ، چه د دغسې دولتونو سیاسي رشد عاطل کوي او دغسې ملتونه د استعمار د اقتصادي او سیاسي مقاصدو او مطامعو اله ګرځوي .

هغه وخت چه د استعمار لاس را اوږد شي ، ملي صنائعو ته په هر شان چه وي ماتې ورکوي او بازار د خپلو صنائعو د خرڅلاو دپاره تیاروي .

(۴) نوې استعمار چه په مخ یې د تجدد او ارتقاء پرده اچولې ، په مختلفو سیاسي ، اقتصادي او نظامي حیلو خلک غولوي او په باطن کې خپل ځان ټینګوي او ملت را پرزوي .

(۵) د مملکت د معادنو واک خپل لاس ته راوړي او په خپل مقاد یې اداره کوي .

(۶) سرکونه ، پلونه اود الوتکو میدانونه جوړوي ، مګر په پټه یې د صادرولو د ور طبیعي موادو د وړلو او دخپلو مالونو د راوړلو هدف په نظر کې وي . یا یې د سوق الجیشي د تسهیلاتو نقشه د ځانه سره جوړه کړې وي .

(۷) استعمار ګران په عجیبو غریبو دلائلو او وسائلو خپله ژبه ، عادات ، رسوم ، فنون او هنرونه چه د مغلوب ملت دپاره زهر وي ، په دوی کې خپروي .

(۸) په نا منکشفو ملکونو کې د اقتصادي انکشاف په نامه پلانونه هيڅ اختتام نه لري ، د هر پلان پسې بل وي . تهول هغه قروض چه استعماري ممالک يې نا منکشفو ملتونو ته ورکوي ، په هغو کې ضرور داسې شرائط مضمر وي چه په استهلاکي ، غير توليدي ځايونو کې ولګېږي او زياته برخه يې بيرته پور ورکوونکي ملک ته ولاړه شي ، پروژې نا مکملې پاتې شي او د تکميل دپاره يې نور پورته ضرورت پاتې شي .

په دغه شان بالاخره د انکشاف په نامه قرض اخستونکي ملک په قرضونو او د قرضونو په سودونو کې ګرو شي .

استعماري مسلط ملک په معارف کې ځان ته ځاى پيدا کوي او چه يو ځل په معارف ور ننوتل ، په کې سنګر نيسي، نوى نسل د معارف له لارې د خپل تسلط لاندې راولي ، مسموموي يې او د خپل ملت په غاړه کې يې ور اچوي .

د دغسې مکتب او مدرسې نه چه راوځي ، دغه خلک بيل او ملت بيل وي ، نو په حقيقت کې استعمار د ملت په واحد بدن کې دوه مزاجه پيدا کوي او د اينده استعماري اهدافو دپاره زمينه تياروي .

پنځمه برخه :

## ناسیونالزم د ملتونو سنګر

دغه ټول سیاسي ، اقتصادي او کولتوري ظلمونه چه په مستقیم او غیر مستقیم ډول د پټ او ښکاره استعمار ، ایمپیریالزم او استبداد له خوا د داخلي یا خارجي لاسونو په واسطه کېږي ددغو ټولو چاره په ناسیونالزم کې ده .

• هغه وخت چه یو ملت منظم او متفق شي او د خپل حق دپاره په میدان کې ودرېږي ، بیا یې نه څوک په چال خوړی شي او نه په زور ، ځینې خلک چه اغراض لري یا یې ملي شهامت له لاسه ورکړی وي ، هغوی د لږو او ډېرو مسلحو او تش لاسو ، پوه او ناپوه سوال منځ ته راوړي ، او د ظالمانو په ظلمونو خلک قانع کوي او پخپله له دې منځه استفاده کوي .

ولې حقیقت دا دی چه ازادي او غلامي یو نفسیاتي کیفیت دی ، هر انسان چه ذهناً د ازادۍ مقام ته رسېدلی وي ، هیڅکله د چا جغ پر څټ نشي منلای .

ګاندي جي په تش لاس د دنیا د لویې امپراطورۍ سره مجادله وکړه او ازادي یې ترې واخیسته .

په خپله زمونږ پلرونو ، نیکونو د دنیا د څومره لویو او مغرورو قوتونو مخه نیولې او خپله مېړاه یې ورښودلې ده ،

هغه وخت چه د انګریز مجهز قوم د پښتنو په مقابل کې دري ځله ماتې کوله ، نو پښتانه خو هم ددوی په مقابل کې تش لاسي وو. (۱)

جنرال تیتوته یو وخت چا د ایټم تهدید کړی ؤ ، ده ورته په جواب کې ویلي وو : (( هغه څوک چه له مرګه نه ډارېږي ، په هغو د ایټم ، توپ او جراثیمو مرګ څه فرق کوي ؟ )) .

کیوبا یو وړوکی ملک اود امریکا په خوا کې پروت دی ، خو چه لیډر یې پیدا کړ او د ژوند اراده یې قوي شوه ، نو د هر چا ورنه سترګه سوزي او چه دوی د نورو الوتکې ونه تښتوي ، خلک ورباندې تعرض نشي کولای او دنیا ورته په احترام قائله ده .

سویډن ، ناروې ، البانیا ، یونان ، بلجیم او هالینډ خو هم څه لوی مملکتونه نه دي ، مګر د چا د لاس لاندې هم نه دي .

پښتانه دغسې بهانو ته (( نامردې اسرې )) وایې او نه یې مني ، خوشحال خان وایې :

(( آزادي تر بادشاهیه لاتېری کا
چه د بل تر حکم لاندې شي زندان شي ))

---

(۱) د پښتنو په اصطلاح له اورنګه تر فرنګه او له چنګېزه تر انګرېزه ، له مقدوني اسکندره تر پاکستاني سکندره . (خادم)

البته په سیاسي دنیا کې د دوست او دښمن مسئله اهمیت لري ، مګر د چا دوستي ؟ او په څومره قیمت ؟

د دوستۍ په پلمه سلطه ، ددې عصر بله فتنه ده ، چه باید ځان ورنه وژغورل شي ، د فیلډ مارشال محمد ایوب خان دا خبره ډېره قیمتداره ده چه « مونږ ته په دنیا کې دوستان په کار دي ، نه باداران ! »

استعمار ددې عصر خطرناکه بلا ده . ددې فتنې نه بچ کېدل په لوی توان او کلک ملي ایمان کېدی شي استعمار او امپیریالزم خپل دام او دانې ته داسې رنګ هم ورکولی شي ، چه ښکار ورته په شوق راځي او پکې نښلي .

په قران حکیم کې دا ایت چه « والتقوا فتنةً لاتصیبن الذین ظلموا منکم خاصة » ، «له هغې فتنې ځان وساتئ چه یوازې ستاسې ظالمانو ته یې ضرر نه رسېږي ، بلکه ضرر یې عام دی او هر چاته رسېږي » ؛ لکه چه ددې عصر د غې لویې فتنې ته اشاره وي !

په معاصره پېړۍ کې چه چا د استعمار او استثمار اسرار په ډاګ کړي دي په دغو کې علامه اقبال هم لوړه درجه لري، دی وایي :

« شرق را از خود برد تقلید غرب
باید این اقوام را تنقید غرب »

زمونږ په ديني رواياتو کې راغلي دي چه شيطان ستاسو په رګونو کې داخلېږي او ستاسو په وينه کې دوره کوي ، دا شيطان لکه چه استعمار وي ، دا شيطان د حکومتونو د واکدارانو ، منورينو ، علماؤ او د نورو محصلينو سره کار لري ، چه دوی د دَم لاندې راولي ، نو د ملت په عوامو يې استعمالوي ، لومړی بايد وپوهېږو چه د استعمار او استثمار د راتګ علامې او نښې څه دي ؟

• په هر ملت کې داخلي ظلم او تېری هغه وخت اجتماعي او عمومي رنګ پيدا کوي چه خارجي لاسونه را داخل شي . خارجي لاسونه د خپلې ګټې دپاره په ملتونو کې نفاق اچوي او بې نظمي پيدا کوي ، کولتور يې ګډوډ کوي .

خپل کوټه او استهلاکي مالونه ورباندې پلوري ، د هغو سره ګټور څيزونه ورنه ارزانه اخلي او د دې مقصد دپاره د خپله ملت کمزوري او طماع عناصر د ځانه سره ملګري کوي ، د ملت منورين او ايمانداران په قوت ، زور او دسائسو غلي کوي ، دغې ته وايې : استعمار يا استثمار .

استعمار او استثمار : يعنې دا چه يو به يې ګټي او بل به يې څټي . يا دا چه يو به په خولو کې ډوب وي او بل به په نښتو کې يا په بل عبارت ، توري به لالا وهي ، مړی به عبدالله وهي . يا دا چه يو به مري ، بل به يې د سر لاندې ډوډۍ لټوي .

نو هغه وخت چه په خلکو کې ديانت يعنې عهدو پيمان او امانت داري ، د حرامو او حلالو فرق ، ورک شي ، ياستمداران بې رحمه ، مغرض اوچالبازان شي ، علماء وېرندوکي او مفاد پرست شي، تعليميافته اغيار پرست اود وېش نه په تالاخوبښ وي ، تاجران دملت په ضرر شخصي ګټه په نظر کې ونيسي ، مامورين رشوتخواره او حرام خواره شي ، قاضيان په شريعت او قانون لوبې را واخلي ، ليکوال او شعراء خوشامندګر او بې ذوقه شي ، ايثار، قرباني او د حق دپاره جهاد ورک شي ، د بل په فيشن د بل په کالو او د بل په کولتور افتخار کاوه شي ، شريفان ذليل او رذيلان د جاه او منصب خاوندان شي.

هغه وخت چه په ښکاره ډول خارجيان د يو وطن په شرف او ناموس ، دين او ائين ، مفاد او اقتصاد کې په خپله خوښه د بادارانو غوندې لاس وهل شروع کړي ، نو پوه شه چه استعمار او استثمار په خپل ټول قوت راغلي او متمرکز شوی دی ، د ملت او ولس جرړې باسي ، دغسې يو ملت د تاريخ په څلور خولي کې ولاړ حسابېږي.

دغه وخت د نوابغو د ظهور دی ، دغه وخت د برد او بای دی، دغه وخت د فتحې اوشکست دی ، دغه وخت دی د قربانۍ او جهاد.

ان الله لايخلف الميعاد

واليه المرجع والمآب ! (۱)

(۱) افغان ولس اوله ګڼه.

**د استعمار دسائس :** په تېرو پاڼو کې په اجمال سره د استعمار دسائسو ته اشاره شوېده ، خو دنوي استعمار د راتګ او ځان ځايولو په تاکتيک پوهېدل څه اسان کار نه دی ، ځکه نو دې موضوع ته بيا بيا رجوع کېږي او پاتې شوې نکتې بيانېږي .

هغه څوک چه د استنباط قوه لري او د افغانستان ، ايران هند ، شوروي ، نوي چين ، عربو او افريقا وروستنی تاريخ ولولي ، نو په خپله پوهېدای شي چه استعمار په څه ، څه دسائسو ځان په ازادو ملکونو کې ورننباسي او د ځان د ټينګولو د پاره کوم ، کوم ، چالونه لوبوي .

او چه ټينګ شي بيا د تاريخي ملتونو ببخ څنګه باسي او ملکونه د خپل نفوذ او سلطې لاندې څنګه ساتي او د وژل شوي ملت له خاورې په څه طريقه بل ملت جوړوي ، داسې ملت چه من کل الوجوه غلام او په غلامۍ راضي وي ؟

اما دومره نکته شته چه پخوانو چالونو اوس فرق کړی دی او د يوه پښتون شاعر په اصطلاح د دام او دانې رنګ بدل شوی دی (۱) استعمار په نوي عصر کې ډېر اوږده ، اوږده دامونه ږدي او د سوونو کالو پروګرامونه جوړوي ، که ښکار له يوې لومې خلاص شي په بله کې ننبلي .

(۱) د ښاغلي بينوا هغه شعرته اشاره ده چه وايي : « غلی غلی انقلاب دی بدولي د زمانې رنګ » . (م)

• (١) لویه خبره دا ده چه استعمار په یوه ملت کې خپل سرې څنګه پیدا کوي ؟ او څنګه قدرت ورکوي ؟ او څنګه د دغه قدرت په واسطه پو مملکت استعمار کوي ؟ او خپل پلانونه چه تاریخي ملیت وژل او له خاورو څخه یې مریې ملت جوړول دي څنګه اجرا کوي (١) ؟

• (٢) عسکري مستقیمه یا نا مستقیمه حمله ، ملت سترې کول ، ګوندي او رقابتونه په کې پیدا کول ، په ملت استعماري قرار دادونه او معاهدې تحمیلول او خپل مستقیم یا نا مستقیم سرې ځایول .

• (٣) وروسته تر دې په ملت د کولتوري او اقتصادي انکشاف لارې تړل ، ملت جاهل کول او په جهل عداوت او په قسما قسم تفرقو کې یې ساتل ، سران یې مضمحل کول او وړې تربې ناپوهان او اهل غرض په خپله لاره اړول .

• (۴) د پوهنې پروګرامونه په خپل لاس کې ساتل او د پوهنې په ذریعه و طن خرڅونکي ناپوهه بې ایمانان پیدا کول او ورو ، ورو د ملت واګې دغو ته په لاس کې ورکول .

• (۵) ټول ملي تحریکونه وژل ، غربي ډانسونه ، بې حیائي ګانې ، فحاشي ، بې دیني او هرج و مرج پیدا کول .

. (٢) که کوم ملت خو داري کوي او ځان ساتي ، هغه ته

---

(١) د لوستونکو تدبر او تفکر ته مسئله پرېښودل شوې ده. (م)

همسایګان او نور رقیبان را پورته کول ؛ بیا دغو ته حربي ، اقتصادي او نور کومکونه ورکول ، چه خود داره ملت نا علاجه او وډار شي او استعماري سلطې ته غاړه کېږدي.

• (۷) قوي او واحد ملت ټوټې ،ټوټې او انډې ،انډې کول او هره ټوټه د بلې نه جدا ساتل ؛ چه څو په څه موده کې یو ملت په څو ملتونو تبدیل شي.

• (۸) قروض ، اقتصادي تړونونه ، معلمین ، متخصصین او رقم ، رقم هیئتونه رالېږل او غوښتل مخصوصاً ثقافتي معاهدې کول ، د ملي ژبې سره مخالفت اکثریت تپسوری ساتل او اقلیتونه راپورته کول د ملي کولتور ، عنعنو او ملي تاریخ سره مبارزه د پټ استعمار څرګند دلایل دي.

نوی استعمار دومره دسیسې لري او د غومره تاوې راتاوې او مرموزې دي چه بېل کتاب غواړي ، البته په دې « مونوفست » کې مونږ د مشورې سر د متتبعینو په لاس ورکوو.

ډاکټر مسعود انصاري وایې : چه د یوه ملت استیلاء پر بل، په مغلوب کې دوه ډوله اغېزې کوي : مادي او معنوي. مغلوب ملت دغه دواړه مزیته بایلي ، یعنی هم خوار او غریب کېږي او هم بېغیرته او بې ایمان.

کم رشده او نارسېدلي ملتونه له اول دزده ډېر متحسس کېږي او شکايت کوي ، مګر يا چه له دواړو او مخصوصا له دوهم څخه سخت متاءلم کېږي .

## ملي سنګر :

د نوې دنيا او نوي عصر په هغو ټولو وسائلو کې چه د حريت ، ازادۍ او استقلال ضمانت کوي او يو ملت ته د نېکبختۍ دروازې ببرته کوي ، بې له مليته قوي وسله نشته ، دا لومړنی سنګر دی چه بايد ملت يې د استعمار په مقابل کې جوړ کړي . ډاکټر اقبال وايې :

غربيان را شيوه هاى ساحرى است
تکيه جز بر خويش کردن کافري است

زموږ مراد په استعمار سره ، هره هغه دسيسه او قوت دی چه د يوه ملت د ملي واکمنۍ د بنا مانۍ تهديدوي ، استعمار يعنی هر متجاوز وحشي ، شاړ او ناحقه تسلط مګر هر کله چه په دې عصر کې استعمار په وحشت او بربريت کې نوم ايستلی دی ، نو د هر اجتماعي باطل اقدام دپاره «استعمار» سمبول ګرځېدلی دی .

موږ ناسيونالزم د ملتونو سنګر وګڼو ، ځکه چه د کمونزم مانۍ د سوسيالزم په تهداو او د سوسيالزم بنا د ناسيونالزم پر اساس ولاړه ده ، په حقيقت کې ناسيونالزم د

مسلکونو بنیاد او اخر د ټولو اقتصاد دی ، یعنی غایه او هدف ملي او اجتماعي رفاه او ازادي ،خوشحالي او ارتقا ده .

د پورته اجمال څه لږ شانې شرحه دا ده :

نننۍ دنیا بالکل یوه سیاسي دنیا ده ، مذهب په کې د سیاست په څرخ کې تاوېږي ، یعنې د مذاهبو نوم خو شته ، مګر مذهب د سیاسي مطالبو دپاره استعمالېږي او دجمال عبدالناصر په اصطلاح (( کوم وخت چه مذهب د سیاست دپاره استعمال شي ، نو تقدس یې نه پاتې کېږي ))

• را به شو مسلکونو اوسیاسي لاروته : کـه سـړی لـه جزئیاتو تېر شي ، نو په نننۍ دنیا کې څلور لوی او حاوي مسلکونه او سیاسي روشونه موجود دي چه هغه دا دي :

(۱) ناسیونالزم یعنی ملت پالنه

(۲) کاپیتالزم یعنی سرمایه پرستي .

(۳) سوسیالزم یعنی ټولنپالنه .

(۴) کمونزم یعنی وګړ پالنه .

ناسیونالزم ته مو د مسلکونو بنیاد ووایه ، ځکه چه کوم وخت ناسیونالزم د یوه مسلک په حیث په دنیا کې معرفي شو ، دنیا په سرعت سره د ادب ، هنر ، صنعت ، علم او تخنیک په لارو کې ګامونه واخستل .

دغه وخت له ناسیونالزم ، کاپیتالزم وځېږېد ، یعنی د دنیا ملتونه د پیسو ، سرمائي او اقتصاد په کش مکش کې ولوېده ، پول ، پیسه او سرمایه خو پیدا او زیاته شوه ، خو د سرمایې او سرمایه دار او ورسره د استعمار ظلم پیدا شو او په ردالعمل کې سوسیالزم میدان ته راغی.

په سوسیالزم باندې د علمي او فلسفي بحثونو نتیجه دا شوه چه اقتصاد د ټولو اجتماعي ، سیاسي او اخلاقي روشونو اساس وګڼل شو ، بې له اقتصاده نور ټول فضائل په کولتور کې داخل وپېژندل شول او اقتصاد اشتراکي شو ، دېته يې کمونزم ووايه.

• کمونزم یا په بل عبارت : علمي سوسیالزم علاوه پر دی چه محور په اشتراکي ډول يې ملي اقتصاد دی ، خو ملي کولتور ته په ډېر لوی قیمت قائل دی ، د وطن په مینه د هېواد په ودانۍ او په ازادي بښونکي ملي نهضت د استعمار د کولتور په طرد جدي تشبث کوي او د سرمایه دارۍ څخه پرته دبل قسم رشد مخالفت هم نه کوي ، د کلام خلاصه دا د ه چه مسلکونه ټول د دنیا د عقل پیداوار دی او په دیالیکتیک ډول یو د بل پسې پیدا شوی دی او د دوی ترمنځ اصولي رابطه اود علت او معلول سلسله وجود لري ، خو هر مسلک د خپل زمان او مکان د شرائطو مولود دی او اړه وربوري لري.

• اوس په افغانستان کې د شعوري ملیست او ولسپال ناسیونالزم وخت دی. دا یو حقیقت او واقعیت دی، د علم وظیفه دا ده چه د ماضي او مستقبل په سنجش سره د قدم پورته کولو پلان طرحه کړي.

په نوي عصر او دنیا کې انزوا نا ممکنه ده او د یوه ملت په حال مفیده هم نه ده، نو باید دا پروګرام عملي شي:

• (۱) کومکونه دې له ملګرو ملتو څخه واخستل شي او له هغو دولتو څخه دې استفاده وشي چه استعمار ونکړی شي.

• (۲) ملي ایمان او په خپل ځان اتکاء باید په مملکت کې تقویه شي.

• (۳) ملي حکومتونه دې د ځان د پاره د ملت ملاتړ، په دیموکراتیکو اساساتو حاصل کاندې.

• (۴) ښوونه او روزنه دې په هېڅ شان پردو لاسونو ته نه پرېښودل کېږي.

• (۵) څو پورې چه ځوانان په خپل وطن کې په خپل کولتور او ملیت کلک روږدی شوی نه وي، باید خارج او خارجي لاسونو ته ونه سپارل شي.

• (۶) هغه ملت چه د رشد کمال ته نه وي رسېدلی په هغه کې خارجي ښځې، خارجي مهاجرین او خارجي سیاحین باید د دقیقو ملي قوانینو لاندې وي، چه څوک په

کې ديموکراسۍ په نامه ، کولتوري انارشۍ ته لاره هواره نه کړی شي.

• (۷) د خارجي نشراتو ، تبليغاتو او وارداتو اصولي مراقبت په کار دی ، چه د ملت په فکري ، عملي ، عقيدوي او اجتماعي وحدت کې درزونه پيدا نشي.

• (۸) بايد پام وشي چه ملي فنون او هنرونه د اصلاح په نامه ، مخلوط نکړی شي.

• (۹) بېکاري او بدکاري هم کولتور و ژني او هم اقتصاد.

• (۱۰) بايد دا متل په فکر کې ونيول شي چه «د پردي زوی نه خپله لور ښه ده»، په ملت دې اعتماد وشي او په کارونو کې دې ورته کافي برخه ، سهم او مسئوليت ورکړی شي. حکومت بايد کاملاً په ملت متکي وي او ملت دې په خپل تاريخ ، کولتور او اقتصاد.

بايد پوه شو چه ناسيونالزم په اجتماعي او ملي ډول د ځان واک په خپله کول دي ، چه دا احساس په حقيقي ډول عام شي ، نو خلک خپل هر قسم مشکلات په خپله رفع کوي او حتى مشکلاتو ته سر نيسي ، خو له پردي دامه او پردي واکه ځان ساتي.

شپږمه برخه :

## ناسيونالزم او سوسيالزم

مونږ مخکې ويلي دي چه ناسيونالزم د مسلکونو بنياد دی او دا ځکه چه د ناسيونالزم د انکشاف نه مخکې حکومتونه په استبدادي ، استيلائي او تعليبي ډول راتلل او له منځه تلل .

• په هغه وخت کښې ډېره برخه حکومتونه مذهبي حکومتونه وو . فيلسوفان ؛ لکه چه افلاطون ارزو لرله ، واکوالان شوي نه دي ، که شوي وي ، هغو هم د مذهب په رنګ کې حکومت کړی دی .

• البته د مذهب او مسلک فرق په دې کښې دی شي چه مسلک د يوې جامعې يا د انسان دپاره د انساني عقل او منطق په حکم د حيات د مادي يا معنوي يا د دواړو د بهبود او تنظيم لاړ ښيي .

• مګر مذهب يوه الهي وضعه ده چه د پيغمبر په خوله او ارشاد د خلکو د سعادت دپاره ښوول کېږي ، پيغمبر په مذهب کې يو استازی دی چه خدای د دغه کار دپاره غوره کړی وي .

په مذهبونو کې د انساني افکارو د مداخلې حق نشته ، د اسماني کتاب په شرحه او تاويل کې چه د اسلام په

اصطلاح ورته اجتهاد وایي تر اوسه لا هم اختلاف موجود دی چه اجتهاد بند دی که ازاد ؟

د ثبات او انساني ضمیر د اطمینان دپاره تر مذهبه په دنیا کې بله بنه ذریعه نشته ، ولې په دې لحاظ چه تغیر د کائناتو لا یتغیر قانون دی ، نو د مذهبي احکامو د تطبیق په لاره کې د زمانې په تېرېدو مشکلات پیدا کېږي .

• مخصوصاً د استعمار په عصر کې مذاهب کله د استعمار د کاري وسلې په ډول هم استعمالېږي او دا ځکه چه خدائي احکام پس له پیغمبره چه حقیقتاً یو غوره او عالي انسان وي د هغه د ورثه ؤ لاس ته پاتې کېږي ، ددې وظیفې مدعیان تول د عقل او ضمیر په لحاظ د لوړې سوئي نه وي ، نو لوړ اسماني احکام د ټیټو ځمکنیو خلکو لاس ته ورشي او استعماري چالاکان د دنیا د جاه او جلال او نورو خرافاتو په بدل د دغسې خلکو په ذریعه په کې لاس ووهي او په نتیجه کې کله چور کافر ته هم دا چانس په لاس ورشي چه د پیغمبر په مصلي کښېني .

• مسالک دنیائي پروګرامونه دي چه د انسان د حیاتي خیر و شر په اساس ورباندې بحث ، څېړنه او په کې جرح او تعدیل یو عادي کار حسابېږي ، ددې کار عیب دا دی چه هر نالائق ځان ته په دې حق قائلېدی شي چه وواې زما نظریه

دې هم په مسلک کې ځای کړی شي او که نور هيڅ نه وي نو د سادګانو اذهان خو مغشوش کولی شي.

په دغه لحاظ په دې عصر کې د رايو اکثريت، انتخاباتو، اليکشن او د ملت ملاتړ ته اړه پيدا شوه او له دغو خبرو او مسائلو څخه يو عالم کشالې، جنجالونه او اختلافات منځ ته راغلل.

دلته بيا د استعمارچيانو، استثمار کوونکو، مفسدانو، خود غرضو او خپل چارو دپاره چانس په لاس ورغی چه د ديموکراسۍ په نامه خپل اغوا کړي خلک، پيسې او وسيلې په کار واچوي، خيرو شر ګډوډ کاندي، اوبه خړې کړي او خپل کبان په کې ونيسي.

• نو ددې عمل رد عمل دا شو چه د فلسفې او مسلک ترشا واحد مسلکي حزب ودربږي او هر څه انتخابات چه وي، ددغه مسلک په دننه کې ددغه واحد حزب له جملې څخه د همدغې عقيدې د ايماندارانو په منځ کې يا د دوی د نظارت او کنټرول لاندې وشي.

دلته بيا د ايمان او بې ايمانۍ، مسلک او بې مسلکۍ، کنټرولر او د کنټرول نه دلاندې خلکو مسئله منځ ته راځي او د يو عالم اشتباهاتو زمينه تياروي، خو بيا هم د يوه قوي مسلکي کنټرول په ذريعه د استعمار د لاس وهل او د

انسان د استثمار کولو مخه تر کافي حده پورې نیول کېدی شي .

• هیله ده چه لوستونکي به پوه شوي وي ، چه د ناسیونالزم د حرکت نه دا تولې نورې خبرې پیدا کېږي ، که ناسیونالزم نه وي ، نو سیاسي ، اجتماعي او اقتصادي افکار به په کومه ځمکه عملي شي ؟ په دغه ملاحظه مونږ ناسیونازم ته د مسلکونو بنیاد ویلی دی .

ځینی کسان وایې ناسیونالزم مسلک نه دی ، ځینی وایې : ناسیونالزم سیاسي رژیم نه دی او ځینی وایې چه ناسیونالزم زوړ شوی دی .

خو مونږ وینو چه په اسیا او افریقا کې ټول ازادي غوښتونکي مسلکونه او همدارنګه د اروپا او امریکا انکشاف د ناسیونالزم مرهون دی .

• څومره سیاسي ازاداي حاصله شوې او انساني ذهن انکشاف کړی دی ، ناسیونالزم په کې ښکاره عامل ؤ یا یې په کې د زبر بنا حیثیت لاره .

• دین د ملیت او ملیت د دین سره تضاد او منافات نه لري ، اسلام ملیتونه نه دي نفې کړي او نه افغانزم د اسلام سره اختلاف لري ، بلکه یو د بل مؤید واقع کېدی شي .

پورته ذکر شوي سوالونه هغه قسم اشتباهات او شکونه دي چه ځینی د غرض خاوندان یې د ناسیونالزم پسې په

پوهـه یـا نـاپوهی خپـروي او بطـلان یـې څـه ډېـر دلائـل نـه غواړي .

• ناســــیونالزم د ســــوســـیالزم ســـره هم رقیب نه دی ، سوسیالزم غواړي چه د جامعې حق د فرد په حق مقدم وګڼل شـي او دا خـو د ناسـیونالزم د تقـویې سبب کېـږي ، نـه د کمزورۍ .

ناسیونالزم چه ملت متحد کوي او د خپلو حقوقـو د لاس ته راوړلو لاره ورښیي ، او د هغه چا په مقابل کې یې دروي چـه د ملـت د کولتـور او اقتصـاد دښـمن وي او تېـری پـري کوي .

کـه سوسـیالزم د اسـتعمار او اسـتثمار دښـمن وي ، نـو ناسیونالزم خو هم خپل ملي غصب شوی حق لاس تـه راوړل غواړي ، نو په دې حسـاب سـره د ناسیونالزم او سوسیالزم هدف او دښمن مشترک دی .

د شوروي اتحاد مشـهور عـالم او تیوریسن « سوسـلوف » هغه نشریه بایـد وکتـل شـي چـه د چـین د کمونسـت ګوند د الزاماتو په جواب کې نشر شوېده ، په هغې کې څـو ځایـه پـه صراحت سره سوسیالزم او ازادي غوښتونکی ناسیونالزم د یو محاذ ملګري ښودل شوي دي .

شوروي اتحاد او ولسـي چین هر کله ویلي دي ، چـه دوی د استعمار او د هغه د بقایاؤ لـه جـغ څخـه د غـاړه غړوونکـو

ناسیونالستي تحریکونو پر منخ بیوونکو احزابو او ملتونو پر خوا دي (؟). دا خبرې به وخت او زمان رابرسېره کړي او کبدی شي همدغه مترقي او آزادیخواه سوسیالیزم استعماري بنه غوره کړي (؟).

• البته په فاشیزم سوسیالزم انتقاد لري ، نو یو روغ ناسیونالست ددې سره څنګه موافقه کولی شي چه زور حق دی او هغه څوک چه کمزوري وي بلا شرطه او بې حسابه دې د هغو سر او مال وخوړل شي ؟

هو ، دومره خبره شته چه علمي سوسیالزم په سرمایه او د تولید د اسبابو په شخصي مالکیت قائل نه دی او په ناسیونالزم کې دا تحریم نشته ، مګر دلته دا خبره هم شته چه په ناسیونالزم کې ددغه تحریم ، تحریم هم نشته .

ناسیونالزم یوه فلسفه ده چه له دې څخه سوسیالزم راوتلی دی او په دې انتاج دا مور نه ده شنډه شوې .

• ناسیونالزم په دنیا کې درګرده خپره ېږي او درګرده د ظلم ، استعمار سره مجادله کوي ، دنیا درګرده د ناسیونالزم په برکت ازاد ېږي .

نو څنګه ووایو چه ناسیونالزم زوړی وی دی ؟ بې له دې چه ووایو : څوک چه دغسې خبرې کوي ، د دغو ماغزه زاړه دي .

دغه زاړه ماغزه ناسیونالزم ته چه یوه څرګنده او بارزه واقعه او حقیقت دی ، تاوان نه شي رسولای ، مګر سوسیالزم دنیا ته د ناسیونالزم دښمن معرفي کوي .

د سوسیالزم پوهان پخپله اعتراف کوي چه شرق د ناسیونالزم په دوره کې دی او د دیالیکتیک فلسفه د ناسیونالزم تکامل د سوسیالزم دپاره پوړۍ ګڼي .

په افغانستان کې د میرویس خان او احمد شاه بابا ناسیونالزم په مستقیم زور او ستم او په غیر مستقیم چال او فریب رنګ شو ، اوس زمونږ وظیفه څه ده ، بنیاد محکم کړو او که په خام بنسټ د ماڼۍ په تعمیر لاس پورې کړو ؟

افغانان یعنې ټول پښتون ولس هره ورځ د بلې نه ویښېږي او سترګې یې غړېږي دوی د «ټولنپال افغان» د عنوان لاندې ځان جوړول غواړي او بیا وریسې د دنیا په عمران او ودانۍ کې برخه اخستل ، پښتانه دنیا پېژني او غولول یې مشکل کار دی .

تر ټولو مهمه دا ده چه که ملیتونه بد وي ، یا د سوسیالزم سره متضاد وي ، نو دا د ملګرو ملتونو موسسه راغونډه ده ؟ او هلته د اسیائي او افریقائي ملتونو ګروپ څه معنی لري؟

په تاسف سره اعتراف په کار دی چه زمونږ په بدبخت ملک کې هم داسې ځینې خلک او اذهان شته چه سړی نه پوهېږي په حال یې وژاړي ، که وخاندي ؟

افغان ناسیونالستان د ټولنپالنې تائید کوي ، خو نه شي کولای چه افغاني ترانه د افغاني بیرغ لاندې ګناه وګڼي ، یا یې ترک کړي ، تر هغې چه ټولې دنیا په ملیت افتخار نه وي ترک کړی او تر هغې چه د ملګرو ملتونو بیرغ لوړ ریږي .

لینن ویلي دي چه د سوسیالزم مانۍ په خرابه نه درول کېږي، نو ضرور متمدن ملت غواړي .

زه وایم کـه د روس او چین ملت نـه وای ، نو لینن او ماوځې تونګ به څنګه سوسیالزم جوړ کړی وای ؟! پر مونږ هم تر ټولو د مخه د ملت جوړول واجب او فرض دی .

• منم چه علمي سوسیالزم د کاپیتالزم ، کلونیالزم او امپیریالزم دښمن دی ؛ لکه چه دا ایزمونه تر ډېره حده د مساوات ، ازادۍ او هیومنزم دښمنان دي او فقط پیسې ټولول یې مراد دي او د پیسو په زور یې ژوند کول هدف دی، او د انسانانو دپاره یې د غلامۍ نوی دام جوړ کړی دی . دوی غواړي چه په خپله ازاد اوسي او د نورو خلکو د ازادۍ او اعتلاء مخه ونیسي .

• مګر دا هم باید ومنو چه ناسیونالزم هم داسې

سنگر دی چه په اسانۍ په کې د انسانیت دښمنان نه شي را ننوتای (۱) که ښکاره راځي ناسیونالزم یې په تېره توره وهي او که په دسیسه راځي ناسیونالزم یې نقاب له مخه پورته کوي او بیا ورسره هغه کوي ؛ لکه هر مخالف یې چه د بل سره کوي ، د وطن ، ملت ، ملي ژبې ، ملي کولتور او د ملي اقتصاد سره دښمني او شخصیاتو ته لاره هوارول داسې کارونه نه دي ، چه پټ وسائل شي او په زور هم کلي نه جوړېږي .

که په ناسیونالزم کې د سرمایې ضبط او ملي کول نه وي او د تولید اسباب په مطلق ډول نه دولتي کېږي ، خو صالح ملي حکومت کولی شي چه د هر قسم افراط او تفریط مخ په اسانۍ سره ونیسي او دیموکراتیک قیود ولګوي ، خو په دې شرط چه حکومت په حقیقي توګه د ملت پالونکو لاس ته ورغلی وي .

• هو ، دا باید ومنو چه د ناسیونالزم علم او عمل ساده او صریح دی ، مګر د سوسیالزم دواړه مرحلې پوره رشد غواړي ، نو نتیجه دا شوه چه د ازادۍ او ترقۍ غوښتونکو ملتونو دپاره د ناسیونالزم مرحله تېرول لازمي کار دی ،

---

(۱) امپیریالستان خو هم ناسیونالستان دی مګر اوس د نور عناوینو لاندی راغلي دي . (م)

البته ناسیونالزم په دیموکراسۍ کې ښه وده کولی شي ، خو چه حقیقي وي او دا کار ربنتیانې لیډر شپ غواړي.

• اوس په افغانستان کې د سرمایه دار او مزدور فیوډال او دهقان ، استعمارګر او مستعمرې مسئله په ډاګه په منځ کې نشته ، څه شی چه دی زورور او کمزوری ، ظالم او مظلوم د قدرت خاوند او بېوا که.

اومه برخه:

## ناسیونالزم او دیموکراسي

په تېرو شپږو برخو کې د ناسیونالزم د شرحې او د نورو مسلکونو سره د مقائسې په باب کافي څېړنه شوېده ، ناسیونالزم یعنی ملت پرستي. خواهي چه په پښتو ورته تبر پالنه ویلی شو ، ځکه تبر او قام مترادفې کلمې دي او چه لږه توسعه په کې وشي او ټولنه د کوم پلار نه ، بلکه د یو وطن یا کولتور اولاد وبلل شي نو تبر په اسانی سره د ملت معنی افاده کولی شي.

مونږ دغه مسئله داسې رالنډه کړېده چه «قومیت یوه صبغه ده ، نه د نسب سلسله.»

• مخکې اشاره شوېده چه که ناسیونالزم یعنی تبر پالنه د خوړل شوي او غصب شوي کولتوري ، اقتصادي او سیاسي حق د راګرځولو دپاره مبارزه کوي او ځملول شوی ملت بېرته په پښو دروي ، نو دا د دنیا د هر ملت او د هر ملت د هر فرد داسې وظیفه او فریضه ده چه هیڅ منکر او حقوقي معارض نه لري.

• خو تبر پالنه په هغه صورت کې د خپله مملکت او عالمي امن او ښېګڼې دپاره ګټور ثابتېږي چه د دیموکراسي په فائده تمامېږي ، نو ځکه دی وایې چه اول

دې سرمايه او د سرمايې د پيدا کولو ذرائع زر ځمکه او فابريکې اشتراکي شي.

• خو حقيقت دا دی چه ديموکراتيک ناسيونالزم هم د دنيا ډېرو ملتونو ته ډېره ګټه رسولې ده ، هغوی يې را ژوندي کړي دي ، له خاورو ځخه يې را

پورته کړي ، استقلال ته يې رسولي او د بنې ورځې خاوندانکړي يې دي ؛ لکه هند ، اندونيشيا ، ګانا او نور.

• ابراهام لينکن وايي : (( ديموکراسي د ملت حکومت دی، پر ملت باندې ، د ملت دپاره )) ديموکراسي د سياسي فلسفې په ډول : يو رژيم دی چه وګړي له خپلو کارونو د ادارې او په حکومت باندې د نظارت په باب مستحق او د دولت وجود د خلکو د ادارې محصول ګڼي.

• ديموکراسي په خپل ارتقائي سير کې له محدودې معنی ځخه چه هغه (( د خلکو ازادانه اشتراک دی ، د جامعې په مهمو تصميمونو کې په مستقيم يا غير مستقيم ډول)) لوړې او عامې معنی ته ورسېده.

عامه معنی يې دا ده چه ديموکراسي د يوې جامعې د افرادو دپاره د يو داسې فرصت برابرول دي چه د اجتماعي فوائدو او ازاديو ځخه مستفيد شي.

• نن دا کلمه په خپلې سياسي معنی کې محدوده نه ده

پاتې شوې ، بلکه سیاسي دیموکراسي ، اجتماعي دیموکراسي او اقتصادي دیموکراسي معنی ورکوي دلته نو له دیموکراسۍ څخه د مساوات او عدالت معنی اخستل کېږي .

د دیموکراسۍ له سیاسي مفهوم څخه په لاندې ډول استنباط کېدی شي :

- (۱) د اکثریت اراده بې قیده حقه ده او باید چه په ټولو تطبیق شي .
- (۲) افراد په ازادانه توګه د اکثریت د ارادې د څرګندول دپاره مکلف دي او اقلیت ته دا حق حاصل دی چه په اکثریت تبدیل شي .
- (۳) او دا هم تري استنباط کېږي چه د یوه مملکت افراد د قانون په مقابل کې مساوي وي .
- (۴) دولت د ملت د اکثریت په مقابل کې مسئول دی ، هغه قوانین چه د ملت اکثریت یې پاس کړي ، حتماً باید تطبیق شي .
- (۵) خلکو ته د ازادو او مخفي رایو حق حاصل دی .
- (۶) د احزابو ، د وینا ، مطبوعاتو ، چاپخانو ، او عقیدې ازادي او نورې ازادۍ چه د بشر د حقوقو په اعلامیه کې منل شوي دي ، د دیموکراسۍ ارکان دي .
- په اوسني عصر کې دا خبره اختلافي ده چه د

ديموكراسي د ازاديو حجور فرد دی که جامعه ؟

غربي بلاک د فرد په ازادئ قائل دی ، دوی وايي چه جامعه له افرادو څخه جوړيږي ، نو فرد په اقتصادي ګټه وټه کې هم ازاد دی او لاس يې بايد ونه نيول شي .

شرقي بلاک وايي چه د فرد لامحدود مالکيت ، جامعې ته ضرر رسوي ، نو څکه يا دې ور باندې معقول قيود ولګول شي او يا دې ورنه د توليد د وسائلو خصوصي مالکيت سلب کړی شي ، چه يو فرد د پيسو په زور په خپله نفع بل فرد استثمار نکړی شي .

دوی وايي دا مالکيت د دولت حق دی ، دولت بايد مستحصله ثروت د ټولو افرادو تر منځ په عادلانه ډول توزيع کاندي .

په دې صورت کې چه خلک خصوصي مالکيت له لاسه ورکړي ، دولتي اختيارات بايد د کارګرې طبقې په لاس کې وي او هر کله چه دا کار په رضا او ديموکراتيک صورت نه کېږي ، نو انقلاب او د پرولتار يا د يکتاتوري لازمې ګڼي .

• پارلماني ديموکراسي چه د پارلمان د ازادو حزبي انتخاباتو پورې اړه لري ، بايد د تهديد او تطميع نه مبرا وي . کابينه هم هغه حزب ته تکيه کوي چه اکثريت لري ، دا شکل په مشروطه شاهي او جمهوري دواړو قسمونو نظامونو کې ممکن دی .

اوس هر سړی په خپله پوهېدی شي چه د ناسيونالزم د ارکانو انکشاف او تطبيق د ديموکراسۍ له شرائطو څخه پرته مشکل نه ، بلکه ناممکن دی ، ځکه هيڅ ملت په زور نشي جوړيدای ، ديموکراتيکې مبارزې يو خاصيت لري چه که ګوتې په کې ونه وهل شي ، په اسانۍ سره معيار څرګندوي او ملي پرابلمونه حل کوي .

ايا بدبختانه اموخته خواره چه تل يې په تياره کې ګوتې وهلې او ګټه يې کړې وي ، د حقيقي ديموکراسۍ ته په اسانۍ غاړه نږدي .

• د پښتنو په دنيا کې د ديموکراسۍ مفهوم څه نا اشنا څيز نه دی ، دوی بې بنائي چه دا غربي کلمات او مصطلحاتو سره بلد نه وي ، مګر په دې ډېر ښه پوهېږي چه ټولې انجرې مسئلې په جرګه په ښه شان حل کېدی شي او چه څوک جرګې ته غاړه نه ږدي يا يې نه اجرا کوي ، دغسې خلک په خپله پړه او ملامته وي ، دوی چه په چا دا حکم وکړي چه دا د جرګې سړی دی ، نو معنی يې دا ده چه د پوره سړيتوب خاوند دی ، د پښتنو ټول سياسي او اجتماعي نظام په جرګه ولاړ دی .

• په اصل کې د ديموکراسۍ مفکوره د حکومت د بې

لارۍ ، خپل سرۍ ، تېري ، کوږوالي ، ظلم ، ناږامۍ او استبداد د مخنيوي د پاره پيدا شوېده او دا چه حکومت د څه د پاره پيدا شو څه ډېره پتېه نه ده .

• هغه وخت چه انسان له غارونو راووت ، په کر ، کيلـه ، مالدارۍ او زراعت يې لاس پورې کړ ، نو کلي ، ښار او اجتماع ته اړيتا پيدا شوه .

په اجتماع کې د يو پر بل د ظلم او حق خوړلو د مخنيوي دپاره د يوه منځلي او عدالت ساتونکي قوت احساس پيدا شو ، دا قوت په کورنۍ کې پلار او په ټولنه کې واکوال ؤ.

• زرګونه کاله مخکې چه په باختر کې ياما = ويما = يم = جم يا جمشيد د ښاري نظام واره = باره = احاطه او تيره کېښوده ، هدف يې دا ؤ چه څنګه کورنۍ ، ښاروالۍ او ټولنه نيکبخته شي او په څه ډول انسان د مورو پلار ، استاذ ، لارښوونکي ، بادشاه ، جامعې او يو د بل حق وپېژني ؟ او پر ځای يې کړي ؟ او په څه طريقه قوي نسل ، تندرسته څاروي ، ښه تخم او ښه زراعت وروزل شي ؟ او په څه شان مسعوده او مرفه جامعه منځ ته راشي ؟

نو په دغه وخت کې واکوال يعنی بادشاه چه شاؤ يې باله په مملکت کې د پلار ( په لار ) وظيفه اجرا کوله ، خو په پلار کې هم د ( بې لارۍ ) امکان شته ؛ لکه چه پخپله جمشيد مغررو ، بې لارې او خپل سرۍ شو او د خلکو په مخکې يې

دخدائي دعوى وكړه ، نو سهاك راپورته شو دده كار يې تمام كړ اوواك يې په خپل لاس كې واخيست .

عدالت او ديانت يې وساتلو او حمايه يې كړ (١) ، نو زمونږ خلك اوس په پخواني روايت واكوال (حاكم) ته د نن ورځې په وراثه وايې : «صاحب ، ته زمونږ مور او پلار يې»

حكومت يو لوى قوت ، انرژي او واك دى . په علمي ملاحظه هره انرژي بايد په واك كې وساتل شي .

بېواكه ، بې سره او بې جلبه انرژي داسې مثال لري ؛ لكه تالنده ، جكړ او سيلاب ، ځمكې وړي كورونه نړوي او تباهي راوړي . كه حكومت بې سره شو ، نو پناه په خداى .

• بې سره حكومت په زرو ، زارۍ ، ښكاره يا پټه ، حيله او دسيسه تباهي او خرابي راوړي ، نو د حكومت د بدو اعمالو د مخنيوي دپاره د ديموكراسۍ نظريه او فلسفه را وايستل شوه ، نن په ځلور ګوټه دنيا كې له ديموكراسۍ څوك انكار نه شي كولاى .

• دا هم د ياد وړ خبره ده چه كه په مطلق صورت له پارلمانه د اكثريت په تصويب تېره شوې موضوع قانون وګڼل شي ، نو ديموكراسي هم خطاګانې لري ؛ مثلاً كله د يوه لوى دولت په پارلمان كې لواطت روا وګڼل شي ، نو په

(١) وګورئ د نوي لار په كتاب كې د سهاك پېژندنې مقاله . (م)

دې صورت کې د کينډی ګانو غونډې د لويو خلکو سرته امان نه پاتې کېږي ، يا دا چه زوراوران په کمزورو ملکونو کې حزبونه جوړوي او حتی د کابينې شوری او وطن لويو کسانو ته په ډاګ پيسې ورکوي ، د ځان پرته او د وطن پر عليه يې استعمالوي .

يامثلاً کله داسې هم کېږي چه د يوه ملت زيات خلک رشوتخواره ، سود خواره ، قاچاقبران ، فحاش او ظالمان شي ، دلته د غرض خاوندان کولی شي چه ووايې : څه وکړو ديموکراسي ده نو ...

• نو د کار چاره په دې کې ده چه يو څه اساسي ناقابل تغير منل شوي شيزونه دې د ملت په کولتور کې د واجب التعميل او واجب الاحترام په ډول د تل دپاره مجود وي چه ديموکراسي د انارشي ، فضولياتو او د فطرت او عقل د مخالفت اندازې ته ونه رسېږي . لکه د اسلام او کمونزم ديموکراسي چه ټاکلي چوکاټ لري ، يا لکه سوکارنو چه له مجبوريته يې د لارښود شوې ديموکراسۍ اعلان وکړ .

• همدغه شان د پښتنو په کولتور کې چه ملي ازادۍ ، لويه جرګه ، غيرت او شهامت ناقابل شکست راغلي دي ، نو دداسې اصولو په بنا پښتون د دنيا په ټولو بحرانونو کې تر اوسه ژوندي پاتې شوي دي او که ځينې موانع يې له منځه لرې شي ، باور دی چه ددې قوم معنوي صلاحيت

ددنیا د لویو قومونو لکه انګلیس ، جرمن ، فرانس او روس څخه په هیڅ شان کم نه دی .

## سیاسي بې لاري

سیاسي بې لاري یعنی سیاسي ضلالت یا د حکومت بې سري څه معمولي خبره نه ده .

مونږ ویلي دي چه حکومت یوه انرجي ده که بې جلبه شي لکه لویه زلزله یا د ایتم بم چه انفلاق وکړي ، عالمونه تباه کوي ، بې لارې حکومت د خپلې بقا دپاره ملت هم بې لارې کوي او چه ملت بې لارې شي نو دا یوه داسې خساره ده چه تلافي یې په اسانه ممکنه نه ده ، اما دغه بې لاري چه حکومتونه یې د خپلې بقا دپاره غوره کوي ، په اخره کې خپله د حکومتونو د تباهی سبب هم شي .

ځکه چه « د ظلم کاسه نسکوره ده » ، حکومت د کفر سره پاتې کېږي د ظلم سره نه ، په قران کریم کې راغلي دي : «که خدای تعالی ځینی خلک په ځینو نه دفع کولای ، ځمکه به فاسده شوې وای ! »

• د حکومت لوی فساد دا دی چه د خارجي قوتونو او لویو دولتونو سره د خپل ملت په ضرر سازش وکړي ، ددغسې حکومت لویه علامه دا ده ، چه په ښکاره نمائشي کارونه کوي . مګر په خفا کې خپله هم پیسې ټولوي او خپل

ولي نعمت ته چه دغسې مرتجع حکومتونه منځ ته راوړي او بيا يې ټينګوي ، هغه ته هم په خپل وطن کې کولتوري ، اقتصادي او سياسي امتيازات ورکوي.

په دغه شان مرتجع حکومت د ملت په وينو او غوښو اخته وي ، خوري يې او د قران حکيم په اصطلاح «نران يې وژني او ښځې (ښځونوکي) يې ژوندي ساتي.»

زمونږ د پيغامبر صلعم وينا ده چه «د دنيا محبت د ټولو ګناهونو سر دی.» نو چه حکومت د پيسو په مينه کې غرق شي ، بيا نو هر څه هېر کړي.

تر دې چه ځان يې هم هېر شي ، پيسه نعوذ بالله خدای ګڼي او ورته سجده کوي. د ژوند ځرګنده او ښکاره خوا ويني او بنيادي او معنوي ډډه يې له پامه ولوېږي. دی فکر کوي چه په پيسه هر څه کېږي او که ولوېد ، بادار يې شته راټينګ به يې کړي.

په دغه شان د وطن کاني ، بوټي ځان ته دښمن کړي او هر څه ورته توره بلا شي ، فضا يې ځان ته په خپله مسمومه کړې وي ، تنفس په کې ورته مشکل شي اغا هم نور بې نفوذه حکومت نه غواړي ، بيا نو دغسې حکومت له منځه ولاړ شي. (۱)

(۱) افغانان په خپله خوا کې هم دغسې حکومتونه کټلای شي ، چېرته چه پيسې نشته ، هلته نور ډېر منافع شته. (م)

• هر حکومت چه په دغه ډول بې سره، بې لارې او په سیاسي ضلالت اخته شي، نو په لاندې وسائلو تشبث کوي:

۱. ماکیاولزم.
۲. بروکراسي.
۳. غلامانه بلاک بازي.
۴. جبونه بېطرفي.
۵. خارجي امتیازات.
۶. د وازې دروازې گمرکي سیاست.
۷. مخلوط اقتصاد.
۸. په ملت بې اعتباري.

په دې ټولو کې مراد هماغه یو څو ټکي وي: په پیسو اتکاء، د بادار استرضا او ملت له پښو غورځول.

• **ماکیاولزم:**

ماکیاولزم د یوه سیاسي مکتب نوم دی، چه ایتالیا یې سیاس او مفکر نیکولو ماکیاولي (۱۴۶۹ - ۱۵۲۷ ع) ته منسوب دی. ماکیاولي په سیاست کې هره حیله او دسیسه جائزه گڼي. دی وایي اخلاق بېل شی دی او سیاست بېل. ده په خپل کتاب «شهریار» کې لیکلي دي: «که واکوال غواړي چه د وام وکړي، نو باید چه له شرارت څخه ونه ډار شي، ځکه چه د دولت ساتنه بې له شرارته ناممکنه ده.

واکوال باید په هر شان چه وي سیاسي موفقیت حاصل کړي. واکوال ددې دپاره چه قدرت پیدا کړي، ویې ساتي او زیات یې کړي، کولی شي چه له زور، دسیسي، غدر او خیانت او وعده خلافۍ څخه کار واخلي.)) (۱)

- **بوروکراسي**:

بورو د فرانسوي ژبې لغت دی، پراخه اداري ته ویل کېږي. کراسي یوناني لغت دی، د حکومت په معنی، نو بوروکراسي هغه قسم حکومت ته وایې چه واکوال په هر څه مسلط وي، ملت یوه بې لاس او بې پښو اله وي د حکومت په اختیار کې او دولت ټول مردار خواره د یوې طبقې په شکل راغونډ کړي وي چه د ملت لاش وخوري.

دغه قسم حکومت ته او لیګارشي هم وایې. یعنې هغه حاکم اقلیت چه د دولت قدرت د خپلو منافعو دپاره استعمالوي او ناراحته اکثریت په زور چیتوي.

- **غلامانه بلاکبازي**:

پس له دوهم جنګ څخه دنیا درې جنبې شوه: غربي جنبه، شرقي جنبه او بېطرفه جنبه.

په غربي جنبه ډله یا بلاک (بلوک) کې امریکا، غربي اروپا او ځیني سرمایه دار ملکونه شامل دي.

---

(۱) نن د ټولې دنیا سیاستونه همدا کار کوي، ځکه دنیا نه دوزخ جوړ دی.

په شرقي بلاک (بلوک) کې شوروي اتحاد ، مغولستان، چين ، شمالي کوريا ، کيوبا ، شمالي ويتنام او د شرقي اروپا ممالک شامل دي.

دريمه ډله بې طرفه ممالک دي چه سويډن ، يوګوسلاويا ، ځينې عربي ممالک ، هند ، افغانستان ، انډونيشيا او نور په کې داخل دي.

غلامانه بلاکبازي د ېته وايي چه يو مملکت د ايدیالوژۍ د ساتلو دپاره نه ، بلکه د بې همتۍ او ډار له وجهې په يوه بلاک پورې ننبلي چه هلته د مقتدرو دولتونو په اتکاء خپله بوروکراسي يعنې سياسي ضلالت وساتي او ملت په ډاډه زړه چور کاندي.

• جبونه بېطرفي:

بېطرفي څه بد شی نه دی ، بلکه د بېطرفۍ په وجهه د دوه لويو قوتونو د تصادم مخنيوی کېدی شي.

فقيد نهرو په دې لاره کې ښه رول ولوباوه ، لوريې اندراګاندي هم يو څه وخت په بېطرفۍ ټينګه وه. (۱)

سويډن ، ربښتيا فعال بېطرفه دی او انډونيشيا هم د سوکارنو په وخت کې بېطرفي فعال حد ته رسولې وه.

(۱) په امن کې د ګډ ژوند پنځه ګوني اصول پانچاشيلا نومېږي ، چه په دنيا کې زيات شهرت لري.

جبونه بېطرفي دېته وايي چه يو مملكت په مخ د بېطرفۍ داوږ واچوي او ور لاندې يې چه خوښه وي هغه کارونه په پټه کوي.

بېطرفه ممالک بايد د لويو مملکتونو په مقابل کې خپل سياسي، کولتوري او اقتصادي استقلال او وقار وساتي، دوستي وکړي خو، د چا د سلطې او نفوذ لاندې رانشي.

هغه ملکونه چه بېطرفي په فعال صورت نه شي ساتلی او د وېرې يا د اغراضو له وجهې ځان په بېطرفانو کې حسابوي او په حقيقت کې يې مراد خپل اغراض پټول وي، نو دې بېطرفۍ ته بايد جبونه بېطرفي وويل شي.

بېطرفه ممالک خو يا د شرق او غرب د دواړو بلاکونو تګ لاره رد کوي. يا له دواړو يو څه مني، مګر په حقيقت کې بېطرفي د ملي منافعو په ملاحظه منل کېږي.

او که ملي منافع په نظر کې نه وي، نو بيا بېطرفي يا جبونه ده يا خنثۍ، جبونان د خارجي زوراورانو سره په اسانۍ موافقه کوي.

خنثی بې طرفي هغه ده چه لوی مملکتونه يو مملکت بې طرفه ومني او د ازادۍ تضمين يې وکړي، دغسې بېطرفه ملک ته ((بفرستېټ)) هم وايي چه د لويو ملکونو ترمنځ فاصل حد وي.

له دې قسمه ډېره قديمه بې طرفي د سويس ده چه په ملګرو ملتونو کې غړيتوب هم نه لري.

- **مختلط اقتصاد:**

اقتصادي لارې اساسا دوه دي: اول کاپيتالستي اقتصاد يعنی سرمايه داري ده چه دلته دولت د اقتصاد نګراني او حمايه کوي، خو لاس په کې نه وهي؛ لکه دغربي بلاک اقتصادي تګ لاره. په دې نوع اقتصاد کې د ملت افراد خصوصي مالکيت لري او توليدي وسائل يې په لاس کې وي او دغه وسائل د شخصي ګټې او سود دپاره په کار اچوي. دا بيا په دوه قسمه دي:

(۱) لويه سرمايه داري چه د ډېرو پيسو، ځمکو او لويو کارخانو استملاک په کې حسابېږي.

(۲) وړه سرمايه داري چه د لږو پيسو، ځمکو او وړو کارخانو او ماشينونو مالکيت په کې داخلېږي.

دا قسم اقتصاد په مشکل سره په سرمايه دارۍ او بورژوازۍ کې راتلای شي، دېته وړه بورژوازي وايې.

دوهم سوسيالستي اقتصاد دی: دلته د توليد وسائل او ذرائع لکه ځمکه، فابريکې او سرمايه د دولت په لاس کې وي. دولت خلکو ته کار مهيا کوي.

مناسب اجرت هر چاته او د ژوند وسائل د هرچا دپاره د دولت له خوا برابرېږي. مګر دولت هم ظاهراً له همدغو

خلکو څخه جوړېږي چه کار کوي . او دولتي منصبونه په نوبت سره ، د صلاحيت او لياقت لـه مخې ، د شوراګانو او انتخاباتو له لارې اشتغالېږي .

ددې دواړو قسمونو په منځ کې يو بـل قسم اقتصاد دی چه « لاربنوول شوی » يې بولي . په دې صورت کې دولت اشتراکي نه وي ، خو په اقتصاد کې د ولس او ملت په ګټه لاربنوونه کوي . لکه د غربي المان اقتصادي سيستم . په دې تګ لاره کې ضروري ده چه دولت اوحکومت دې په حقيقي معنی « ملي » وي . يعنې د کورنۍ يا د کومې خاصې طبقې په لاس کې دې نه وي ، وروسته لاځينو يوه بله مرحله پيدا کړه . دغې ته « لاربنوول شوی او مخلوط اقتصاد » وايې .

لاربنوول شوی او مخلوط اقتصاد هغه شی دی چه حکومت په کې ګوتې وهلی شي ، په دې شان چه که خوښه يې وي ، کاپيتالستي اوصول به تطبيقوي او که خوښه يې وي ، سوسيالستي به عملي کوي ، نو معنی يې دا شوه چه حکومت د کوم اقتصادي رژيم پابند نه دی او د اقتصاد په معامله کې بالکل ازاد او کل اختيار دی ، په دې حال کې که حکومت ملي ؤ ، خو يوه خبره او که ملي نه ؤ ، نو پناه په خدای .

• د وازې دروازې ګمرکي سیاست :

دا هم یوه اقتصادي اصطلاح ده ، معنا یې دا ده چه په مساوي شرائطو د هر چا او هر ملت سره تجارت کول او هیڅ یوه ته په هیڅ انحصار او امتیاز نه قائلېدل (۱) یا دا چه داخلي صنائعو او تولیداتو ته هیڅ ترجیح نه ورکول . د وازې دروازې په سیاست کې حکومت کولی شي چه خپل تجارتي ټیکسونه واخلي ، مګر مملکت د «اقتصادي اسهال» په مرض اخته کېږي او هیڅ رشد نشي کولای .

البته بوروکراسي وربانډې بنه محکمېدای شي ، نو دا یوه بله مؤثره پلمه ده د ملت پر مخالفت چه خوار شي او د خوارو بزه ګار شي .

---

(۱) او که حکومت هر خارجي زورور دولت ته د هغه د خوښې سره سم په امتیاز قائلېږي ، نو دا په جیونه بیطرفی کې راځي . (م)

- **خارجي امتيازات :**

که په ضعيفو او کم رشده ملکونو کې حکومت بې ايمانه او طماع ؤ نو کولی شي چه د لويو ، قوي او ذي علاقه دولتونو سره سازوباز وکړي او هغو ته څه داسې امتيازات ورکړي چه د مملکت د استقلال او تماميت سره منافي وي او تلافي يې په ډېر لوی قيمت تمامېږي .

- **په ملت بې اعتباري :**

په ملت بې اعتباري د حکومت د پټ سياسي ضلالت ښکاره ثبوت دی ، اګر چه په دې باب کې ويل کېدای شي چه حکومتونه حق لري ځينی اسرار پټ وساتي ، مګر هيڅ حق نه لري چه د تمام عمر دپاره يوه موضوع يا د هرې موضوع ځينی خواوې په اخفا کې واچوي .

د کاروبار ، شغل او عمل ، حقوقي او ديموکراتيکي صلاحيتونه او ازادۍ ګانې د ملت حق دی او دا حق په هيڅ بهانه نه شي سلب کېدای .

پورته مونږ په سياسي ضلالت يو اجمالي بحث وکړ ، علاج يې د (بلکا) (۱) په دې شعر کې ښودل شوی دی :

علاج د دغو ټولو ړښتيانې ديموکراسي ده
چه نه وي صدافت حل د مراد نشي کېدلای

---

(۱) د خادم د اشعارو دريمه مجموعه (بلکا) نومېږي چه نه ده نشر شوې .

اتمه برخه :

## ناسيونال ديموكراتيک سوسيالزم

ناسيونال ديموكراتيک سوسيالزم د يو مسلک نوم دی ، دا مسلک د افغان سوسيال ديموکرات ، سوشل افغان ، افغان ولس ، او ټولنپال افغان په نومونو په افغاني يعنې پښتني محافلو او نشراتو کې ياد شوی دی . په دې مسلک کې د افغان او افغانستان ملي انکشاف د ديموکراسۍ او ټولنپالنې په شرائطو مشروط په نظر کې نيول شوی دی ، په لاندې ترتيب :

- (۱) ناسيونالزم يعنی ټبر پالنه ، (۲) ديموکراسي يعنی برابري ، عدالت او مساوات ، (۳) سوسيالزم يعنی ټولنپالنه او د سرمايې د ټبري مخنيوی .

دا درې واړه اساسات په دې مسلک کې په موازي ډول په نظر کې نيول شوي دي ، يعنې ناسيونالزم به په ديموکراسۍ او ديموکراسي به د ټولنپالنې د مفاد په نظر کې نيولو سره مقيده وي .

او دا ځکه چه په افغان او افغانستان کې دغه فلسفي او مسلکي مفاهيم د عصر د تقاضا او غوښتنې سره سم نه شرحه شوي دي او نه ترويج شوي ، اما په عنعنوي ډول تر بل هر ځايه دلته ورسره خلک ښه اشنا دي .

* (الف) : د امیر کروړ مشهوره بولله ((زه یم زمـری پـه دې نړۍ له ما اتل نشته)) د تېر پالنې په روحیه داسې ډکه، مالامال او بنکلل شوېده چه تر دې بنه د بل مثال موندل به یې دغه وخت کې ډېر مشکل وي . امیر وایې :

((خپلو وګړو لره لور پېرزوینه کوم + دوی به ډاډینه بنه بامم بنه یې روزنه کوم + بنه یې ودنه کوم + له ما اتل نشته !))

ګورئ امیر په هغه وخت کې د خپلو وګړو کلمه ویلې ده، خپل قوم او عزیزان یې نه دي ویلي، ځکه چه خپل وګړي د ملت معنی افاده کوي، یعنی هغه څوک چه په یوه وطن کې د خپل حکومت د سیوري لاندې ژوند کوي، نو معلومېږي چه امیر په غیر شعوري ډول د ملت په معنی بنه مستشعر ؤ.

خپل ملت په ډاډ او اعتماد پالل، بنه روزنه او تربیه ورکول، په بنه شان دوی د ودې، نمو، یعنی ارتقاء او اعتلاء خواته سوق کول، حقیقتاً داسې مفکوره او پروګرام دی چه که اوس هم ورباندې په شعوري ډول عمل وکړو، نو د ټولو خواریو، ذلتونو، حقارتونو او پسماندګیو یګانه چاره او علاج په همدې کې دی، ملت په دغه شان پالل او رسول د ټولو کولتوري، سیاسي او اقتصادي رنځونو درمان دی، خوشحال خان چه د ملیت کومې شرحې کړې

دي ، هغه واضحې دي ، ډېرې تبصرې پرې شوي دي چه کفايت کوي .

دشيخ ملي او بايزيد ، روښان کارنامې هم د هېرېدو نه دي .

• (ب) : د ازادۍ او مساوات په باب پښتسانه وايي : « پښتــانه ټول من دي نيم من په کې نشته » او په همدغه رقابت عنعنه په پښتنولۍ کې لوی مقام لري .

سيالي او رقابت د انسان د غرائزو د تحريک دپاره لوی عامل دی او د غه د غيرت مبداء او سرچينه ده ، همتناک سړی سيالي کوي چه ځان د بل سره په فضائلو او سرېتوب کې سم کړي .

په دغه اساس له بدو او شرمناکو چارو څخه ځان ژغورل هم د پښتنولۍ په تعامل کې په سيالۍ پورې مربوط ګڼل کېږي .

د مساوات ، برابرۍ ، سم سمکي توب ، سيالۍ او غيرت په برکت پښتنو په دنيا کې ډېر کارونه کړي دي ، دغيرت ، شرم ، حيا او ناموس عناوين له دغه ببخ څخه راټوکېدلي دي . (۱) چه څوک غيرت نه لري د هغه به شرم څه وي او حيا څه ؟ ، نو ځکه پښتانه يعنی افغانان په ملي

(۱) وګورئ د خوشحال خان په دستار نامه د خادم تبصره .

او اجتماعي كارونو كې مسابقه او يو تر بله وړاندې والى كوي. جنګ وي كه صلحه، مېلمه وي كه حجره، علم وي كه دانش، جرګه وي كه ښه خبره، هر يو يې د بل په سيالۍ كوي.

دا بايد په ياد وساتل شي چه برابري په خپله ازادي راوړي. هغه وخت چه دوه يا ډېر كسان په دې فكر كې وي چه موږ ټول برابر او يو د بل نه كم نه يو، نو په همدغه روحيه يو بل ته په مساويانه احترام قائلېږي. او هيڅوک په بل غير اخلاقي امرانه حكم نه شي كولاى. په همدغه دلائلو د پښتنو ځمكې ته د غلامۍ دوره په هغه شان چه نوره دنيا يې اشغال كړې وه او انسان به د انسان په سر تجارت كاوه، نه ده راغلې. هو، د پښتنو خاني، فيوډالي او تفوق طلبي نه ده، البته د استعمار د عصر خاني چه غربيانو جوړه كړه، په حساب كې نه راځي. (۱)

• (پ) ټولنپالنه: يعنى اجتماعي ښېګڼه په شخصي ګټه مقدمه ګڼل د دې خلكو خاصه ده، دې عمل ته اوسني خلك سوسيالزم وايي. د سوسيالزم په اساساتو پښتانه ډېر

---

(۱) وګورئ د پښتنولۍ كتاب د خادم تاليف.

پخوا روان وو د شیخ ملي د دفتر اقتباسات لاتر اوسه د دنیا د مولفیونو ترمنځ لاس تر لاسه کېږي . (۱)

خان بابا عبدالغفار خان وایي : د شیخ ملي د ویش قانون د پرنګیانو د راتګ پورې پخپله په پېښور کې هم رائج ؤ ، خو چه پرنګیان راغلل او ټینګ شول ، دوی د سیاسي انقلاب سره کولتوري ، او د دوارو سره یو ځای اجتماعي او مدني انقلاب هم په مونږ وکړ .

پرنګیانو د شیخ ملي د دفتر د قانون په عوض ځمکې او جایدادونه د خلکو په نامه ثبت او سجل کړل . او په دغه شان یې د غربي منحوسې سرمایه دارۍ ، خانۍ او فیوډالزم بنیادونه ټینګ کړل ، ددې دپاره چه دولت او سرمایه څو لاسونو ته جمع شي ، نو بیا د قوم نه د ازادۍ روحیه کوچ کوي . اداره یې اسانېږي او په اسانۍ استعمار کېدی شي ، خو باید هېره نه کړی شي چه پښتني ټولنپالنه د غرب د سوسیالزم سره فرق لري ، یو شی نه دی .

افغاني ټولنپالنه خالصه پښتني کولتور ، تمدن او تهذیب دی .

(۱) وایې چه مارکس په پښتنو کې د ځمکې د اشتراکیت کار ته په خپلو اثارو کې حواله ورکړې ، او په دې استناد یې دا کار عملي ثابت کړی دی او دا یې د هغه چا په جواب کې ویلي دي چه دا کار یې ناممکن ګڼه.

• اوس باید د پښتنو دنیا څه وکړي؟ له کومه ځایه ابتدا وکړي، او کوم ځای ته ځان ورسوي ؟ اوس هر څوک هر څه وایي : څوک انټرناسیونال سوسیالزم غواړي وایي دا مترقي نظریه ده. ددوی مثال داسې دی لکه یوه ورځ چه یو اخبار خرڅوونکي ناري وهلې : «طفلیکه در شکم مادر قران میخواند !»

څوک د ملي سننو په ژبه د منلو سره د سوسیالزم ناري وهي، خو د هغو خپل عادات، رسوم او ژوند پوره بورژوازي دی. او چه د سر نه د پښو پورې یې وګورې د ملت نښه به په کې پیدا نکړې.

څوک لاد سوسیالستانو په مقابل کې د ملیت او ملي توحید ناري وهي، خو دوی ته که وویل شي چه د ملت د سازولو اسباب او شرائط څه شی دی، اول خو به دوی له ځوابه ځان په ډډه کړي، او که ونښوه نو بیا سپکې، سپورې وایي.

یوه بله ډله ده دوی وایي اقتصاد دې منظم شي. دوی وایي ځکه چه نننۍ دنیا اقتصادي ده، خو که دې ورته وویل: بې منظم ملته، بې ملي حکومته، او حتی بې تولنیز نظامه، اقتصاد څنګه سمبدای شي، دی خبرو ته غوږ نږدي، په یو مخ تقلیدي ناري وهي، «نان، نان، نان !!!»

زمونږ منورين او ددوی شيخان (مقلدين) عجيبه ناسيونالزم، عجيبه اقتصاد او نا اشنا ناسيونالزم غواړي، بې ملي ژبې، بې ملي حکومته، بې کولتوري او اجتماعي سمونه، مليت، ناسيونالزم، ملي اقتصاد، سوسيالزم او انټر ناسيونالزم غوبنتل بې له يو طفلانه هوس څخه نور څه شی دی؟

څوک لا په همدغه طفلانه فکر، عمل او حرکاتو د بل انقلاب خبرې کوي، او نارې وهي، خو دوی بېچارګان نه پوهېږي چه په دوی پخپله انقلاب شوی دی او دوی ته د انقلاب له خبرو، د حساب او کتاب خبرې په کار دي. (۱)

اوس نو که مونږ يو ملي ارتقائي پروګرام جوړوو بايد چه داسې وي:

اول ملي توحيد.

دوهم ملي حکومت.

دريم ملي اقتصاد.

څلورم ملي بورژوازي.

پنځم ملي سوسيالزم.

شپږم انټر ناسيونالزم.

---

(۱) دا د خادم د تاليف (بلکا) د اشعارو حاصل دی. دا کتاب چاپ شوی نه دی، دغه مطالب له انقلابه مخکې ليکل شوي دي. (م)

دغه مفاهیم د دیالکتیک په اصولو یو پر بل پورې تړلي دي او د علت او معلول سلسله پکې موجوده ده ، تر ټولو دمخه که داسې انکشاف پیدا شي چه ملت واقعي ملي حکومت تاسیس کړی شي ، نو دا د ډېرو پرابلمونو حل دی ، خو که دا لاره بنده وي ، نو بیا د ملي انکشاف او توحید دپاره زیار او ابتکار په کار اچول خورا سالمه او مؤثره طریقه ده. (۱)

که یو ملت بېخي ګډوډ شوی وي ، نو بنائي چه ملي پوهان په ملي ایدیال را غونډ شي ، دسیسه او تشدد ، د پښتنو ددنیا دپاره سپینه لیاره نه ده.

هغه خلک چه نوي بې تجربې ځوانان په ځان راغونډوي او د تشدد نارې وهي ، سادګان به وغولولی شي ، خو کار مې یقین نه دی چه ویې کړي ، دوی غوارړي چه نهضت په نطفه کې عقیم شي.

ځیني کسان وایې بې د دیالیکتیکي مراحلو د طی نه په یوه ټوپ هم اعلی معیار ته رسېدل ممکن دي ، خو دوی باید فکر وکړي چه دا کار په خپله که د بل په لاس ؟ ، په کومه ځمکه او کومو شرائطو کې ؟ هر تخم په هره ځمکه کې شین کېدای شي ؟

---

(۱) ربښتیا چه د کتاب د لیکلو په وخت کې د ملي حکومت د جوړولو لاره بنده وه. (مؤلف)

ځینې کسان داسې فکر کوي چه په هغو ملکونو کې چه چور پاتې وي ، بې د یوه لوی قوت له اتکاء هیڅ نشي کېدای ، دا هغه کسان دي چه غواړي د جراثیمو علاج په زهرو وکړي . حال دا چه ځینې جراثیم لا د غومره مضر نه وي، لکه زهر ، ډېر کسان د سلورسان په پچکارۍ دستي مړه شوي دي .

یو لږ تعداد ساده خلک بې د سم نظام له جوړېدو او بې د یوه سپین سیاست له غوره کولو نه هم د اقتصادي سمون او ترقۍ خوبونه وینې ، خو دا هغه خوبونه دي چه تعبیر نه لري، هغه مملکت چه د اقتصادي اسهال (۱) په مرض اخته وي ، چه څو یې د اسهال علاج ونه شي ، کله یې په ګېډه کې غذا پاتې کېږي چه د مملکت بدن ته قوت او انرژي ورسېږي .

مخکې یاد شوی ملي ارتقائي پروګرام ، په هر صورت یو ملي منور اورګانزم غواړي ، که حزبي قانون نافذ شوی ؤ د حزب په تشکیل ، او که قانون نه ؤ نافذ د یوه جمعیت په تاسیس فعالیت په کار دی ، خو په هېڅ ډول د قوانینو له چوکاټه وتل روا نه دي .

* په منور اورګان سره زما مراد پاخه ، تجربه کار ، د علم

---

(۱) "اقتصادي اسهال " د افغان ولس د یوې سر مقالې عنوان دی . زیات تفصیل هلته دی . (خادم)

او عمل ، اخلاص او صميميت خاوندان دي چه د حرص او جاه طلبئ په دام کې نښتي نه وي ، ليډر يا اجرائيه کمېټه بايد په ځان قدم کېږدي ، چه ملي معراج ته ورسېږي .

• (۱) زمونږ په ياد شوي ملي پروګرام کې لومړی ملي توحيد دی . ملي توحيد په ملي کلچر او ملي کلچر په ملي تاريخ ولاړ دی .

په افغانستان کې رسمي دين اسلام دی ، مذاهب په کې سني او شيعه دي ، ژبې په کې پښتو او دري دي ، قومونه په کې پښتون ، تاجک (۱) وزبک او هزاره دي .

طبقات په کې حکومت ، پيسه دار ، خان ، د مذهبي نفوذ خاوندان ، کاريګر او غريبه طبقه ده .

که څوک د اختلافاتو خليج لويوي ، لوئېدی شي ، او که څوک اختلافات حل کول او طبقات يو کول او پرابلمونه هوارول غواړي ، نو دا پنځلس مليونه خلک ، ټول افغانان او پښتانه دي .

په لږه استثنا سره ټول کارګر ، زحمت کښ خلک دي . په يوه وطن کې اوسېږي . اوله او ملي ژبه يې پښتو او دوهمه يې فارسي ده چه دري يې بولي . که د نورو ژبو دپاره څوک د خدمت شوق ولري ، بايد تقدير شي .

---

(۱) داردیان له شتله تر کشميره او د پاميري ژبو ويونکي تاجک ګڼل لوی ظلم دی ، ځکه دوی پښتانه دي . (خادم)

زیات تعداد خلک مسلمانان او حنفیان دي ، حنفي مذهب رسمیت لري ، کار و کسب ازاد دي ، وطن پالنه او د دولت غوښتنه مشترک شعار دی ، مذهبي شعائر پر ځای کول ممانعت نه لري .

د ملي توحید لوی شرائط وطن او وطنداراتو ته په مساوي احترام قائلېدل ، دمحلي او ملي رسوماتو درناوی کول ، د چا حق نه خوړل او د خارجي او اجنبي سیاسي کولتوري او اقتصادي فشارونو په مقابل کې ملي مقاومت، خارج پرستان ، د پیسو غلامان ، هېواد پلورونکي پېژندل او د هغو د سائسو ته پام کول او د دغو سره د ملي قوانینو او مقرراتو په چوکاټ کې د حساب زمینه تیارول دي .

• (۲) ملي حکومت : هغه وخت چه ملي توحید د خپلو شرائطو په اساس په دیموکراتیک ډول منځ ته راشي ، نو ملي حکومت په خپله سازېږي .

ځکه ملي حکومت هغه کابینه ده چه د ملي نمائندګانو (شوری) له خوا بې له مداخلې په چوکیو کښېنول شوي وي، ملي حکومت په انتخاباتو او د خلکو په حقوقي ازادیو کې لاس نه وهي . د ملي حکومت اوله وظیفه د امن قیام او د ملت د سراو مال د مصئونیت تضمین دی.

ملي حکومت باید اجنبي لاسونه لنډ کړي ، په خارج پورې تړلي کسان، د بل په موږدي شنېدونکي اسونه ، خارجي ښځې ، دا ټول د دقیق مراقبت لاندې ونیسي .
ملت ته د احزابو ، نشراتو ، چاپخانو او نورو ازادیو په واسطه د سیاسي ، کولتوري او اقتصادي رشد چانس ورکړي .
د ملي حکومت د ارکانو او ملت تر منځ په حیاتي سویه کې باید د کار او وظیفې په اندازه فرق وي .
نه دی ، بلکه ملت ته مسئول ولسوال دی ، په حقیقت کې : « حکومت د ملت منظمه قوه ده ، نه پر ملت مسلطه ډله » « ملت خپلې ټولې ارزوګانې ، احتیاجات او اړتیاوې د ملي حکومت په واسطه تر سره کوي . » ملي حکومت د ملت نه بېل شی نه دی ، که بېل شو، ملي نه دی . ملي حکومت د پچه کار نه دی ، بلکه ملي حکومت د خدمت او صلاحیت د ښودلو او اثبات په صورت کې په نوبت بنا دی .
• (۳) **ملي اقتصاد** : ملي اقتصاد د ملي توحید او ملي حکومت پسې دریم قدم د ی . « واحد ، متمرکز ، او ارادي ملیت یو قوت دی . حکومت د دغه قوت لاس او پښې دي . » ملي انرجي متمرکزه کېدل او په فعالیت راتلل خو هدف لري ، هدف یې ملي اقتصاد د ی . په داخل کې باید رشوت ، اختلاس ، حق تلفي ، بې بازخواستي ، کاغذپراني

او ارذال پرستي قطعاً نه وي ، خلکو ته زده کړه او کار په اسانو شرائطو میسر وي ، بېکاري ، مفت خوري او حرام خوري باید کورټ اداره شي .

د مملکت ټول تولیدي منابع د اساسي ادارې لاندې ، د مملکت په نفعه په کار ولوېږي ، سر حدونه کنټرول او د خلکو روغتیا ته اصولي پاملرنه وشي .

حق حقدار ته ورکړې شي ، مناصب او مشاغل د صلاحیت له مخې په نظر کې ونیول شي ، د سرمایې په کار اچولو او انتفاع شرائط اسان شي ، دماغ ، فکر ، قلم ، تالفي ، تصنیف ، نبوغ او ابتکار مخصوصاً په علم ، ادب او فن کې په ښه شان تقدیر شي .

قرضونه او سرمایه په کار اچول د زیات تولید دپاره د ملت په اجازه په کار ولوېږي ، هیڅوک ونشي کړای چه په خارج کې سرمایه ولري ، مګر هغه کسان چه د شورئ په اجازه د مملکتي مفاد دپاره دا کار وکړي ، که دا کارونه وشول بیا به نو ولې ملي اقتصاد نه ښه کېږي ؟

اقتصاد د ټولو سیاسي ، اجتماعي ، کولتوري ، مظاهرو څخه پرته کوم بېل داسې څیز نه دی چه سړی د ټولو شرائطو څخه سترګې پټې کړي او ناري کړي چه اقتصاد ، اقتصاد !!

د جامعې ټول حياتي مظاهر او پرابلمونه يو د بل سره معقول او منطقي ارتباط لري ، هيڅ يو په ځانته او عليحده ډول بېل نشي مطالعه کېداى !

• (۴) ملي بورژوازي : دغه قسم بورژوازي ملي بډائي ده، چه ملي اقتصاد ترقي وکړي ، نو خامخا ځينې کسان د ځمکو ، فابريکو ، تجارتخانو ، صنائعو او بانکونو خاوندان کېږي .

په دغه وخت کې واړه او کوچني کاسبان ، د لږې سرمائې خاوندان ، دلاس مزدوران ، ماموران او زيار کښـه ډلـه متضرره کېږي . او په جامعه کې بډايه ، متوسطه او ټيټه طبقه پيدا کېږي ، چه خلک يعنې ملت په دريو طبقو وويشل شي ، نو لومړۍ طبقه د سرمايې حاصل اخلي او تقريباً هيڅ کار نه کوي ، دريمه طبقه خلک د ډېر کار په سبب خپل صحت ، عافيت او د نبوغ قوه بايلي . لوړه طبقه د بېکارۍ تفنن او عياشۍ لـه کبلـه ، او لاندې طبقـه د مشقت، زحمت او نا وزګارتيا په وجه د ژوند له خوندونو ، مزو او مزاياؤ څخه محروم شي .

منځنۍ طبقه کله پاس او کله لاندې ته ګوري ، خوربږي ، پخسېږي او نا ارامه کېږي .

•

دغلته نو نجات په سوسیالزم کې دی او که سرمایه دار پرېښودل شي ، نو د لویو او خطرناکو فسادونو طوفان راپورته کېږي .

اما په دې قدم کې باید سوسیالزم په ملي حدودو او ملي شرائطو کې په اعتدال سره تر نظر لاندې ونیول شي ، او که نه نو ملت پالونکي به په ناحقه د ملت حقد او کینه ځان ته راواړوي . د ملت ارتقائي سیر به په قهقرائي بدل شي او هغه کار او فعالت چه خلک یې په خپله خوښه او د جائز رقابت له مخې کوي ، د رکود او عطالت سره به مخامخ شي .

د ملت ورانول ډېر اسانه کار دی ، خو نظم ، نسق او کاروان تري جوړول دومره ګران کار دی چه په ملیونونو کسانو کې که کوم یو کس د دغه کار صلاحیت ولري ، نو نور ټول عادي دماغونه او عادي سوئې خلک وي ، که څوک ځینې لویو منظمو تاریخي دولتونو ته ګوري ، نو د قیاس مع الفاروق ارتکاب د ملت د ورانولو قوي ګومان شته .

د ملي بورژوازۍ نه زمونږ مراد په خپل وطن کې دا دی چه ملت ته په وسیعه پیمانه . مامونه طریقه او مساوي ډول د اقتصاد د پرمخ بیولو په کار کې لاره هواره کړو ، نه دا چه عمداً د سرمایې او سرمایه دار د ظلم دوره په ملک راولو

او بیا یې د لوئي تباهۍ په قبلولو سره د مخنیوي اقدام وکړو !!!

• (۵) **ملي سوسیالزم** : ملي سوسیالزم په جامعه کې د ثروت د تولید او توزیع په داسې شان انتظام دی چه غریبه ، کاریګره ، متوسطه طبقه او د لږ مال خاوندان د سرمایې او سرمایه دار له قوت څخه متضرر نه شي .

مونږ دا خبره څو ، څو ځله کړې ده چه « روغ سیاست د نهضتونو پلار دی » روغ سیاست بې له ملي حکومت څخه بېخي منځ ته راتلی نه شي ، د ملي حکومت اساسات موهم نبودلي دي ، نو ملي سوسیالزم په ملي حکومت اړه لري . چه حکومت ملي وي ، نو د ملي سوسیالزم لاره دا ده چه ځینې عام المنفعه موسسې او ادارې د شخصي مالکیت څخه واخیستل شي او عامه ملي لاس یعنی حکومت ته وسپارل شي .

خو که حکومت ملي نه وي او وسیع اختیارات ورکړی شي ، نو بوروکراسي راځي او دا د زرګونو فسادونو منبع ده او که په دغه شان حکومت په ملت مسلط شو ، نو اصلاح یې خورا ګران کار دی .

بوروکرات حکومت د ملت سره هینله شروع کوي . حکومت په ټول قوت متوجه کېږي چه په ملت کې فعال عناصر فلج، منحرف او بې لارې کړي . نهضتونه او د

نهضتونو منابع په نطفه کې عقیم کړي ، اقتصادي ماشین په شخصي مفاد د مملکت په ضرر وڅرخوي ، مفسدان پیدا کړي او د هغو په لاس ملت فاسد کړي .

د مترقي مالیاتو سستم هم یوه معتنا به لاره ده چه د ډېر ثروت او سرمایې د بغاوت مخه نیسي او وړو مالکانو او کارګرانو ته موقع ورکوي چه وده وکړي .

که ملي حکومت داسې اصول او قوانین وضع کړي چه د ځمکې ملکیت تحدید شي او په نغدو پیسو سود تحریم کړي او څه داسې موسسات جوړ کړي چه د بیکارۍ مخه ونیسي ، نو د ملي سوسیالزم سره بنه کومک کولی شي .

په ملي سوسیالزم کې به هیڅوک ونشي کولای چه په خارجي بانکونو کې پیسې وساتي او نه دا چه خپلې پیسې په خارجي ملکونو کې په کار واچوي ، البته په داخل کې پیسې په تولیدي چارو کې په کار اچول لکه ځمکې ابادول ، بندونه جوړول ، برقي ستیشنونه تاسیسول ، ځینی فابریکې درول ، واړه او کوچني صنائع باید تشویق شي ، د مالدارۍ د تزئید ، تشویق او لبنیاتو د اصولي جوړولو ، پاستوریزه کولو او هر ځای ته رسولو دپاره د دولت جدي توجه او مناسب قروض او کومکونه لازم دي .

زمونږ وطن زراعتي ، ځنګلي ، د مالدارۍ او مېوو نه ډک وطن دی ، له مېوو څخه تر اوسه سم کار نه دی اخستل

شوی ، حتی د مېوو پاستوریزه جوس او اوبه چه هم د خلکو صحت تامینوي او هم د خرڅلاو منبع ده ، تر اوسه ورته هیڅ توجه نه ده شوې.

که زمونږ کروندې ، څنګلونه ، رمې او ددوی عصري حاصلات منظم شول ، معادن به هم له چور چپاو او اتلاف څخه په امن شي، مګر بې د ملي سوسیالزم له نظامه چه هر شی شرکتي شوی دی ورک شوی دی.

حکومت باید تر ټولو دمخه طبي او معالجوي سیستم ملي کړي ، امراض باید وړیا معالجه شي ، معارف هم باید فیس ونه لري ، چانسونه دې هم د لیاقت او استعداد له مخې په نظر کې ونیول شي ، په رشوت باندې باید سخت قیود تر مرګه پورې ولګول شي.

د خارج سره سازو باز باید ملي خیانت وګڼل شي او د اثبات په صورت یې سزا باید ډېره غټه وي.

په ناموس ، فحاشی او دلالی پیسې اخسـتل دې په مطلق صورت منع شي ، خارجي امتیازات دې ورو ، ورو لغوه شي ،کارونه دې د خپل ملت لاس ته منتقل شي.

په ملي سوسیالزم کې دیموکراسي مقیده وي ، نه بلا شرطه، ځکه دلته ټول سیاسي ، اجتماعي او اقتصادي فعالیت د جامعې په ګټه حرکت کوي.

نو څکه مملکت د څو محدودو حزبونو له خوا اداره کېږي او هر څوک هر څه نه ویلای شي او نه کولای.

په دغه وخت کې حکومت ډېر بیداره وي او هر کله چه هر څه د ملت او جامعې دپاره کوي، نو د ملت عام ولس، د حکومت او دولت پشتیبان او ملاتړ وي، که خراب کار خلک پیدا شي، نو څکه ورادات، صادرات، تولید او توزیع تر ډېره حده د حکومت د مراقبت لاندې وي.

په ملي سوسیالزم کې د مملکت دروازه د هو ټل او منډئي غوندې، د هر چا دپاره وازه نه وي.

ملي دوست او دښمن په ښه شان پېژندل کېږي، خارجي دولتونه او استعمارچیان په اسانۍ تخریب نشي کولای ملت هم خپل قانوني حدود په ښه شان وپېژني او بیا هیڅوک له دغو حدودو وړاندې وروسته پل نه شي ایښوداى.

• (۶) **انټر ناسیونال سوسیالزم**: چه علمي سوسیالزم یې هم بولي او په کمونزم شهرت لري، دلته سوسیالستي جریان یوه ټاکلې لاره غوره کوي. په دې مرحله کې فلسفې، خبرې، ناندرۍ، تردد او تشکیک په یو مخ له منځه ځي فقط یو شی پاتې کېږي، چه یوه ټولنه او یوه لاره ده، نور په کې هیڅ نه ځائیږي.

علمي سوسیالزم د یوه واحد متمرکز حزب په واسطه د تګ لاره، سیاست، اقتصاد، کولتور او اجتماعي شئون د

خپلو ثابتو اصولو په مراعات تاکي ، پاليسي تشخيصوي او حکومت چه هغه هم له حزب څخه جوړيږي ، مکلف دی چه د حزب د مرکزي شورى تصاويب بې له هيڅ قسم مداخلې عملي کړي .

د ملت او مملکت د سوئې لوړوالی د مادي او معنى په دواړو اړخونو کښې هدف وي . او د ملي مکمل تنظيم په واسطه د هر ورانکاري او متجاوز قوت مخه په پوره مهارت نيول کيږي ، کار د هر چا وظيفه وي ، علم ، فن، هنر او تخنيک ته زياته توجه وي . کارونه د تخصص او لياقت له مخې تقسيم وي ، هر څوک خپل کار کوي ، او دخل في المعقولات ، يا د بل په وظيفه کې لاس وهل لويه ګناه ګڼل کيږي ، د ټاکلي لارې نه لږ انحراف د مرګ سزا لري .
خلکو ته د ژوند شرائط تهيه کيږي .
خو سرمايه او د توليد ذرائع بالکل دولتي وي ، مګر دولت د همدغو خلکو په لاس کې وي چه کار کوي .

• البته دې معيار ته رسېدل دوه لياري لري :
يوه اختياري ده چه د ملت سويه د نورو ابتدائي مراحلو په طی کولو دغه حد ته ورسيږي ، بله اجباري ده چه ملت د بل مقتدر قوت په واسطه دغې مرحلې ته سوق شي ، نو په دې صورت ملت بايد بلا شرطه تسليم شي .

او د هدایت سره سم عمل وکړي ، خو علمي سوسیالزم د ملت یوه مرحله ده چه مارکس او لینن یې د تاریخ جبر ګڼي، او وايې چه د نورو مراحلو د تېرولو نه وروسته حتماً راتلونکې ده ، خو د نن ورځې دنیا ددې جبر مخه په بوروکراسي ، یا دیموکراسي جبر نیسي.

کله دغه مرحله د نورو مرحلو د تېرولو نه بغیر په یو وار هم راځي (۱) خو دلته د تاریخ جبر د عسکري جبر تابع وي؛ لکه چه اشاره وشوه ، خو دا خبره باید هېره نه شي چه مستقل انتېر ناسیونال سوسیالزم یا کمونزم په موجوده عصر کې د ملي صبغې نه معرا او لغړ هیڅکله تصور کېدی او عملي کېدی نه شي.

• نوم یې چه هر څه وي ((خو کمونزم لا د ملیت له قیودو او شرائطو څخه نه دی خلاص شوی)).

دا ځای د ډېر تدبر او تعمق دی ، او دا هغه مسئله ده چه باید ((من مزلة الاقدام)) یې وبولو (۲)

• نو د دغسې ملکونو د پاره لکه افغان او افغانستان یا د افروشیا نور مملکتونه یوه واحده سمه او بېخطره لار بې له ((ناسیونال دیموکراتیک سوسیالزم)) یعنی ((تولنپالنې)) څخه بله هیڅ لار نشته.

---

(۱) تجربو وښوده چه کمونزم هم د دنیا قناعت حاصل نه کړ. (م)

(۲) د بلکا له یو لوی نظم څخه اقتباس. (خادم)

غـوارم چـه پـه لانـدې شـعر خپـل د «تولنپـال افغـان مونوفست» يعنې «د پښتون مليت ضابطه» ختم کړم او د موضوع محاکمه د پښتون ملت عقل او د رايت ته وسپارم:

سوشل ديموکراسي که افغانزم سره مله شي  
بيا هيڅ په دغه فکر انتقاد نشي کېدلای  
هيڅ لويه بدبختي به له دې زياته بله نه وي  
په طرحه د «خادم» که اعتماد نشي کېدلای (۱)

---

(۱) د بلکا له يو نوي نظم څخه اقتباس. (خادم)

وروستنۍ خبرې :

## افغان او جهان

تنني افغانستان د پخواني لوی افغانستان وړه نمونه ده ، څرنګه چه لوی وو وړ شو ، نو که همدغه علل او اسباب چه لوی يې د ووړ حد ته را ورساوه ، موجود وي ، نو دا ووړ ورک کولای او چور محوه کولای هم شي.

تاريخ داسې د ډېر ملتونه په ياد لري چه لوی وو او واړه شول ا د داسې ملتونو ذکر هم کوي چه چور ورک شول ، افغانستان ددې دنيا د ايشياتي برخې يو هېواد دی ، چه د قديم تمدن ، لوی تاريخ ، بډای کولتور ، ممتاز او عالي ادبياتو ، خوند ورو رنګارنګ فنونو او هنرونو ، قوي اخلاقو او سجاياؤ ، په برکت په دنيا کې معروف او مشهور دی .

ډېره مناسبه ښکاري چه ددنيا د نورو هېوادونو سره مقايسه شي ، او ددې کار د پاره بايد د دنيا په ژوندو هېوادونو او ملتونو لږ وګرېږ چه د دوی اجتماعي او سياسي ژوند د کومو علامو مرهون دی ؟ نو د افغانستان لاره به پخپله څرګنده شي چه بايد څه وکړي ؟

د افغانستان سره نږدې ملکونه ايران ، پاکستان . شوروي اتحاد ، چين ، هند ، ترکيه او عربي ملکونه دي .

په لرې ملکونو کې چه باید یاد شي ، انګلستان ، فرانس ، جرمن او امریکا ده ، دلته بنائي چه وواېو دوی په کومه روحیه ژوندي او په کومو اساساتو ولاړ دي ؟ او خپل موقف یې څنګه ساتلی دی .

• (۱) ایران : ایران او افغانستان دوه ورونه دي ، چه د پېر پخواني د پلار په مېنه دوه بېل . بېل کورونه یعني ملتونه جوړ کړي دي.

افغانستان یې پخوا اریانا باله ، چه لفظا هم د ایران سره نژدې شباهت لري او معنی یې ده د اریایانو ملک ، ایران هم څو موده مخکې پارس بلل کېده ، خو اوس یو ته ایران او بل ته افغانستان وایې .

ایران په وطنیت ، فارسي ژبه ، ایراني قومیت او شیعه مذهب متشبث او ژوندی دی.

ایران د اضطرار په حالت کې نسبتا ، زر تسلیم کېږي ، خو په ظاهر کې ، اما له تسلیمیدو وروسته په دیپلوماسي وسائلو د هر قسم خارجي سلطې سره مبارزه کوي او عاقبت ځان خلاصوي ، همدغه لاره یې د عربو ، غربي استعمار خپلو ګاونډیانو او نورو سره نیولې ده ، هر څوک پوهه لري چه ایران یو ژوندی او د قوي کولتور خاوند ملت دی او دغسې ملتونه نشي خوړل کېدای .

پاکستان ۲۴ کاله مخکې جوړ شو ، د پاکستان د جوړېدو اصلي سبب د متحد هند د کانګرس حزب مبارزې وې چه د هند ځینې مسلمانانو او استعماري مسلط قوت ته یې دا موقعه په لاس ورکړه چه متحد مملکت په دوه برخو، هند او پاکستان وویشي .

اوس پاکستان د اسلام په نامه ، مغولي کولتور ، اردو ژبه او په کې د اوسیدونکو قومونو او د پنجاب په مبارزه ژوندی دی، د مسلم لیګ بنیاد هم په پنجاب کې دي او که طبیعت ته پرېښودل شي ، بې له فیدراسیون یا کونفیدراسیون څخه بله لاره نه لري .

• (۲) موجوده شوروي اتحاد پس له سوسیالستي انقلابه د یوه کونفیدراسیون شکل لري ، دا لویه اتحادیه له ملتونو جوړه ده . چه هر یو یې خپل هویت ، ژبه ، کلچر او اقتصاد ساتلی دی ، ټول خلک یې په کار ، علم او هنر اتکا لري ، دلته د افرادو دپاره د سرمایې په ګټه ژوند حرام دی ، دولت د یو واحد حزب په قوت چه اشتراکي رژیم ته اطاعت لري، اداره کېږي دلته دولت د خلکو د ټولو مادي او معنوي پرمختګونو ضامن دی ، او ددې دپاره چه کسه تووده پرمختګ ونکړي ، فورا سقوط کوي ، څکه چه په مقابل کې لوی دښمن لري چه کاپیتالزم دی .

نو په داخل د حزب کې رایه او فکر ازاد دي ، خو د شدید مراقبت او کنترول لاندې ، البته روسي قومیت او روسي کولتور د دغې اتحادیې دپاره د لینن په احترام په کې د لیډرشپ وظیفه پر غاړه لري او روسي ژبه د ټولې اتحادیې مشترکه دولتي ژبه ده .

• (۳) د وګړو چین : چه نژدې زر ملیونه نفوس لري، هم یو اشتراکي ملک دی ،دلته هم خلک د اشتراکي رژیم لاندې ژوند کوي ، خو دلته لکه چه په سرمایه دارانه نظام د چین د لوی لاربنوونکي ماوځي تونګ له خوا انقلاب وشو ، همدارنګه په پخوانی هغه کولتور چه د کاپیتالستانو او ایمپیریالستانو سره یو ځای راغلی او خپور شوی ؤ هم انقلاب وشو .

اوسنی چین په خپل ۴۵ زره کلن کولتور ژبه او قومیت افتخار کوي او د ایمپیریالزم د هر دود او رواج سره چه د سر جوړول او کالوسکنبستنه ولې نه وي ، مخالفت کوي او غواړي چه د اشتراکي رژیم په ګېډه کې په ظاهر او باطن یو بشپړ او مترقي چیني نمونه دنیا ته وښیي .

د شوروي اتحاد او وګړو د چین اقتصادي لاره یوه ده ، چه هغه اشتراکیت دی ، اما د چین کولتور د روسي کولتور سره ډېر توپیر لري .

پر دغه لحاظ د چین او شوروي اتحاد ملیت بېل دی ، د بېل ملیت په لحاظ مفاد هم بېل شو او چیني خاوره او شوروي ځمکه هم بېله شوه ، ځکه ملیت ، وطن او ځمکه غواړي.

بیا نو د دغو دوه دولتونو ترمنځ د ځمکې او سرحدونو په وېش لوی جنجالونه او شخړې منځ ته راغلې چه تر دې دمه لانه دي پرې شوي ، مقابل لورې هیله لري چه د دغو دوه لویو قوتونو له تضاد څخه د خپل رژیم په ګټه استفاده وکړي.

• (۴) هند پس له ډېرو مودو د استعمار زغملو څخه د انګلیس له غلامۍ سر وکیښ او د هند د کانګرس د مبارزو په برکت ازاد شو ، وایې چه د هند د ملیت او ناسیونالزم بنیاد شهنشاه اکبر ایښی ؤ ، او ماتما ګاندي دا ملیت تکمیل کړ.

د ګاندي جي « دا دی زما مذهب » کتاب لوستل په کار دی ، دی په غربي تمدن سخت وارونه کوي او د هند د پاره هندي تمدن د غوا او بتانو د احترامه پورې ډېره غوره لاره ګڼي (۱) حتی وایي : « غربې تمدن شیطاني تمدن دی.» او

(۱) بلکه دی د دغو اعمالو او عقائدو دپاره توجیهات پیدا کوي او د خدائې عقیدې سره یې منافي نه ګڼي. (م)

وایې چه ((د غرب تمدن او تاریخ تول لېونو نوابغو جوړ کړي دي.)) (۱)

دا هم وایي چه کوم کسان په خپله ژبه نه پوهېږي په انګریزۍ تقریرونه کوي او په پردي فیشن کې زمونږ تر مخ ولاړ دي، دوی څنګه د وطن د ازادۍ دعوی کولی شي؟ په دغه شان ګاندي جي په خالص هندي کلچر، ژبه او وطنیت د هند د قومیت مانۍ ودروله، دغلته وطن، کلچر، هندیت او هندي هویت د هندي قومیت بنیاد ګڼل شوي دي، مګر په لږه وسیعه پیمانه، لکه کمونزم چه هم تر اوسه عملا یو قومیت دی خو په وسیعه احاطه کې.

• (۵) ترکي قومیت چه د مصطفی کمال له مبارزو شروع شو، پس د خلافت له طرده، فقط په ترکي ژبه ترکي نژاد او کولتور او په ترکي مملکت بنا دی، تر کانو خلافت څکه طرد کړ چه هلته د مسلمان په نامه ډېر قومونه راغونډ وو، خو حقیقي همکاري هیچا نه کوله، خلیفه ګانو به مطلقه حکومت کاوه او په ضمن کې هر قوم د ځان غم خوړ.

مصطفی کمال خلافت پرېښود او یوازې ترکي ناسیونالزم یې ونیو، چه تر یوه حده متمرکز شو او ملت ترې جوړ شو، نو بیا یې په ادبیاتو، علم او سائنس تشبث

---

(۱) د غرب تمدن حتی معارف، عدلیه او حمل و نقل تول رد کوي.

وکاوه او یو ځای ته ورسېدل ، په حقیقت کې د مصطفی کمال انقلاب د غرب د ناسیونالزم د نوې فلسفې نفوذ ؤ ، چه پخواني نظام یې په مقابل کې مقاومت ونشو کولای او منقلب شو . (۱)

• (۲) عرب : د خلافت بقایاوو ، خو کوم وخت چه غــربي استعمار د ځوان ناسیونالزم د متمرکز قوت په زور په کې ور ننوت ، د خلافت پاتې ریښې یې هم وایستې او وریسې یې دوی استعمار کړل ، خپل کولتور یې په کې خپور کړ ، د غربي کولتور په ګډوډ کېدو ، دوی هم ګډوډ شول او د بیا را اوچتېدو هیله هم له منځه لاړه ، نو بیا یې په کې بېل ، بېل قومونه جوړ کړل ، هر کله چه دوی مسلمانان وو او عملاً د غربي کولتور د تاثیر لاندې راغلل ، نو د دوه قوتونو په کش مکش کې واقع شول ، دغه وخت د دښمن د اخرني وار د پاره مساعدو نو تاریخي دښمنان یهود یې ورته راوستل ، عرب لاتر دغه وخته هم په غربي ډانسونو او فحاشۍ مشغول وو ، یهود یې ورته متمرکز او تقویه کړل او عرب یې ورباندې ښه په زغرده ووهل ، اوس دې ګرځي مزې دې کوي .

---

(۱) اسلامي نظام تر دغه وخت خود غرضو شاهانو او خلیفه ګانو تباه کړی ؤ ، د تجدد د پاره یې کوشش ونشو ، نو رنګ شو . (م)

په موجوده حال کې د عربې تکوم نه نهه لس دولتونه جوړ شوي دي ، زيات يې د غرب د تاثير لاندې دي .

او لس يې لا پسر عروبت تظاهر کوي ، دوی د قوي استعماري طاقت په مقابل کې مجبور دی د سوسيالزم په لمن کې ځان ور واچوي ، دا يو بل انقلاب دی چه په عربو راغی ، اوس ورنه دواړه بلاکه استفاده کوي دوی هم په دوه لومو کې نښتي دي او چه دننه ګډوډی ته وکتل شي نويوه انجړه مشوره ده چه سر يې ورک دی .

عربي دولتونه په عربي نژاد ، عربي ژبه ، عربي مخلوط کولتور او ځينې يې په سوسيالزم راغونډ دي ، دوی کوشش کوي چه متحد شي ، خو يوه واحده او مشترکه مبداء نه شي پيدا کولای .

• (۷) انګلستان ، فرانس او جرمن د روم د امپراطورۍ د سقوط نه وروسته منځ ته راغلل ، د ناسيونالزم په عصر کې دوی زيار وکيښ او د مليت په ټولو مقوماتو يې منګولې ولګولې او ځانونه يې د ادب ، علم او اختراعاتو اعلی معيار ته ورسول . وروسته يې په مستعمرو پيدا کولو پسې رقابت شروع کړ ، خو انګلستان له نورو ميدان يووړ ، ځکه چه انګلستان له نورو زيات متمرکز د قوي کولتور خاوند او موقع شناس ؤ .

دا درې واړه دولتونه نسبتا شبيه دي . درې واړه په ژبه ، نژاد عيسوي دين او وطنيت متشبث دي ، په خپل خاص کولتور يو له بله جلا او په اروپائي صبغه کې شريک دي.

خو بيا هم انګليس په حيله او حوصله (۱) جرمن په تخنيک او غيرت (۲) او فرانس په ادب او عياشۍ کې له نورو متمائز دي . اروپايان فعال ، تجدد پسند ، زيارکښ او عياش خلک دي ، دوی ژوند د ژوند دپاره غواړي .

• (۸) امريکا نوی ملک دی ، چه سرشار اقتصادي منابع لري ، د سوسيالزم له نهضت او د لينن له انقلابه مخکې د تجدد د ابتکار مرکز ګڼل کېده .

امريکا لومړنۍ مملکت و چه د ديموکراتيک فيدراسيون مثال يې دنيا ته وښود ، هغه مختلف قومونه چه له اروپانه په مهاجرت تللي وو ، هلته د واشنګټن په همت په يوه مرکز راغونډ شول ، انګليس يې وايست او خپل بيرغ يې پورته کړ .

امريکه په انګليسي ژبه ، خو امريکائي لهجه ، عيسوي مذهب ، امريکائي وطنيت او غربي کولتور ولاړه ده . کوم وخت چه د لينن له انقلابه وروسته د سوسيالزم نهضت پيدا

(۱) چه بايد سياست يې وبولو .
(۲) چه ملتياريزم يې بولی . (م)

شو او د روس اتحاديې په سرعت سره ترقي وکړه ، نو غربي اروپا او امريکا ددې مسلک په مقابل کې د کاپيتالست او ايمپيريالست د عنوان لاندې يو محاذ وبلل شو . ددې محاذ بيرغ د امريکا په لاس کې دی ، خو مزي يې انګليس په لاس کې نيولي دي ، د دوی په مقابل کې د سوسيالزم کمپ ولاړ دی .

د چين د انقلاب د ورځو پورې خود سوسيالزم د کمپ يا بلاک ليډر شپ د روس په لاس کې ؤ ، خو کوم وخت چه چين لږ په پښو ودرېد د روس سره يې اختلافات ځرګند شول ، وايې چه د اختلافاتو منشا يې ايديالوژيکي ده .

مګر د ليډر شپ موضوع هم په کې بې دخله نه برېښي . په اروپا کې د سويډن ، سويس او ناروی غوندې مسالمت کار ، منځګړي او بېضرره ملکونه هم شته ، خو دوی کوم مستقل رول نه شي لرلای .

اوسنی دنيا د شرق او غرب يا د سوسيالزم او کاپيتالزم او په بل نظر د بلاکونو او بې طرفو هېوادونو تر منځ ويشل شوېده ، افغانستان يو شرقي ، بې طرفه او مسلمان ملک دی ، چه د دواړو محاذونو ، کمپونو او بلاکونو ترمنځ واقع دی ، اوس په کلکه سره د دواړو کولتورونو ، سياستونو او اقتصادي رژيمونه د فشار لاندې واقع دی .

په داسې حالاتو کې افغانستان په خپل واک ، بې پلوه او په خپلو پښتو ولاړ پاتې کېدل ، معجزه غواړي ، څنګه معجزه ؟ د دې وخت ممکنه معجزه ، چه حکومت ملي شي ، او د دولت ارکان د زيات حرص او ناروا استفادو څخه تېر شي ، او افغان د افغان يعنی پښتون په حيث راغونډ کړی شي ، او د انکشاف لياري ورته ښه پرېښودی شي .

## غرب او شرق

په پورته ذکر شوو کرښو کې مونږ په دنيا کې د ناسيونالزم په يون له هرې خوا څخه وګړېدو . او س خبره دې ځای ته را رسېدلې ده ، چه لږ شانې په غربي او شرقي روحيه بحث وکړو . ددې کار فائده دا ده چه ځينې کسان چه له شرقه په يو مخ غرب جوړول غواړي ، هغوی بايد پوه شي چه د شرق او غرب کولتوري جريان په زرګونو کالو کې په بېلو ، بېلو لارو روان شوی دی ، په اسانۍ ممکنه نه ده چه شرق غرب شي او څومره چه په دې کار کې فائده په نظر نه راځي ، هغومره يې ضرر څرګند دی .

په دې باندې موجوده دنيا قائله ده چه اکثره غربي اقوام د شرق مهاجرين دي ، او شرقي نړی له غربه مخکې متمدنه شوې ده ، شرقي ممالک يا ګرم دي يا معتدل ، مګر اکثره

غربـي سـيمې سړې ، يخـې ، واورينـې ، د وربـځـو او لـړو لاندې دي .

په دغو ملاحظاتو په غرب کې د ژوند شرائط مشکل او په شرق کې اسانه دي ، د شرق قومونه پـه لويـو پراخـو ، درو ورشـو ګـانو او ميـدانونو کـې د شـنه اسمان او طلائـي نمـر لاتـدې اوسـېدل . غربيـان د يخنــې واورو ، سـاحلي او کوهستاني لړو او دندو کار په واسطه شپږ مياشتې پـه کـار نادر نه وو .

شـرق فرصـت پيـدا کـړ چـه اسـمان ، سـتورو ، غرونـو ، رغونو، حيواناتو ، مرغـانو ، وچـه او دريـابونو تـه وګـوري ، په وربځ، تالنده ، بـاران ، ږلـۍ ، واوره ،د ورانـۍ او تبـاهۍ په عللو غور وکړي او ((علة العلل)) تـه يې فکر ورسبړي .

مګـر غـرب د مالـدارۍ ، زراعـت، ځنګلونـو ، مېـوو او ښکار د مشکلو شرائطو په لحـاظ ښـځې او نر د خوراک پـه غم اخته وو ، دوی ته د فکـر ، ذکـر او مراقبې وخت کـم ؤ ، بيا دا چه ګرمي رخاوت پيدا کوي ، او يخني هلابت ، غـرب مبـارز او پـه ځـان متکـي ، او شـرق متوکـل ، صـبور او د قدرتي شرائطو په هيله د حيات سره بې عـلاقې ورورزل شو .

د دمـاغ د کـم او د عضـلاتو د زيـات اسـتعمال پـه سـبب غربي انسان کاري او زحمکش راووت، ښځه له ابتـدا څخـه ده سره اوږه په اوږه ولاړه وه ، شرقي انسان مراقبو ، فکرونو

او د خلقت اسرارو ته په چرت کې پاتې شو ، ده به کله بنځه او اولاد هم پرېښودل او په غارونو کې به يې چلې اېستلې.

په دغه شان دلته پېغمبران لکه زردشت ، بودا ، عيسی ع او محمد صلعم پيدا شول او هلته حکماء لکه سقراط ، افلاطون ، ډيکارټ او هيګل منځ ته راغلل.

دلته کوشش جاري ؤ چه عالي حقايق په اسمانونو کې ولټوي ، مګر هلته د فلسفې په څمکه کې د ټک وهلو دپاره زيار ايستل کېدو (۱) دلته د ژوند د مباديو د پيدا کولو سعيه کېده ، خو هلته خلک د ژوند د ورځنيو مشکلاتو د حل پسې ولګېدل.

• (د يوه هندي فيلسوف او سقراط لـه ملاقاته نقـل کـوي دا داستان افلاطون او ګزيقون را نقـل کـړی دی ، بلکـه د اريستوسيس څخـه درې پېړۍ مخکې لـه مسيحه يې اورو دی داسې روايت کـوي : (( سقراط اجنبي هندي تـه وويـل : زمونږ کار دا دی چه د انسان په باب تحقيق وکړو ، هندي فيلسفو مسکی شو او ويې ويل : انسان بې د رباني نکاتو له ادراکه د انساني امورو په فهم قدرت نه شي موندلای ))

د غربيانو عقيده دا ده چه انسان يو عقلاني مخلوق دی ، يعنـی يـو مخلـوق دی چـه منطقـي فکـر کـوي او د ګټورو

(۱) دا ډېره مهمه نکته ده. غربيان له ډېر پخوا څخه دخدای؟ له نامه خپنې تېښتې

اصولو له مخې چه پيدا کوي يې خپل ُتفکر په کار اچوي . په مشرق کې معنوي ادراک او رحم په تفکر او تعقل لوړوالی لري ، په زرګونو خلکو کې چه خبري کول او فکر کولی شي . او په زرګونو هغو کسانو کې چه فکر کوي ، يو نفر په ادراک قادر دی. د انسان مربيت په دې کې دی چه دی د ادراک قابليت لري . ) *

په دغو و جوهاتو مدنيت له شرقه غرب ته لاړ او هلته يې بل رنګ پيدا کړ ، د شرق ميچن هلته ماشين شو .

او ددې ځای ليت هلته لاتيتې شو . زمونږ ( ارت ) لغت د پراخ په معنی په عربی کې ( ارض ) او په انګريزی کې ( ايرت) د ځمکې په معنیشو او ځمکه دوی ګز وګام کړه .

مونږ په اور کې ځلا او بلکا وليده چه د حيات مبداء ده ، مګر هغوی وليدل چه اور يوه محرکه او ډائنامېکه قوه ده او دا قوه په کار راځي او کار ترې اخستل کېدی شي .

ښځه دلته د کور کهول ملګرې ، د غمونو او خوابديو د لرې کولو واسطه ، د سکون او سرور ذريعه وګرځېده ،مور شوه ، د شفقت او مهربانی مظهر او د بې بدله عاطفې مرکز ترې جوړ شو ، مګر هلته يې څه ډېر فرق پيدا نه کړ .

---

* مذهب په شرق او غرب کې د راداکرشنن تاليف .

په کار او کور کې شریکه وه ، د ښکلا او ذوق ممثله وه ، ژوندیو شریک شي ؤ ، د دوارو ترمنځ .!

حکومت په غرب کې د ژوند د شرائطو پوره کوونکې قوه او په شرق کې د خدای سیوری او رحمت وګڼل شو ، افکار او اعمال همدغسې یو له بله پیدا کېدل ، حکومت هلته جمهوري او دلته تولواکي بڼه غوره کړه .

ښځه دلته د کور مېرمن او هلته د سینما ، رقص او سرود د ایکټره او تجارتي متاع شوه ، په شرق کې د ژوند عمیقې او ژورې مسئلې د مذهب او روحانیت په برکت حل شوې ، او هلته د روزانه سیاست دپاره فکر وشو او اختراعات منځ ته راغلل .

شرق غرب ته نور ، ایمان ، حریت ، مذهب او مسلک ورکړ خو غرب شرق ته استعمار ، غلامي ، ایمپیریالزم او اقتصادي تباهي راوړه .

• اوس داسې فکر ته راځي چه غرب او شرق به سره را نږدې شي او لکه چه ټائن بې (۱) فکر کوي باید جهاني مفکوره داسې وي :

• (۱) په سیاست کې دې یوه داسې جهاني موسسه چه د مشروطه حکومت پر اساس ولاړه وي ، منځ ته راشي .

---

(۱) د تاریخ د بېره نوي فلسفه د پروفیسر ټائن بې تالیف .

• (۲) د سوسيالزم او د تجارت او معاملاتو د ازادۍ يعنې د سوسيالزم او راديكالزم ترمنځ دې يوه عملي لاره پيدا شي.

• (۳) په روحانياتو كې، ددنياوي كارونو لويه كارخانه بنائي د مذهبي مؤسساتو منځ ته ور ننه ايستل شي.

(يادګېرنه: دغه مذهبي موسسه لكه د ېرش كاله مخكې چه خپله انګليس ليكوالو پېش ګوئي كوله بايد اسلام وي.)

داسې يوه مفكوره له افغانستان څخه د هند پورې ددې خلكو له مغزو څنې هيله كېدلی شي، لكه چه پخواهم افغانستان د شرق او غرب د كولتور د تماس مركز ؤ!!!

۲۵ د قوس ۱۳۴۹

كابل - خادم مېنه

## غم شو

د هجرت شمسي تاريخ چه جوړ له (غم شو) ۱۳۴۹

زما عمر درې شپېتو کالو ته سم شو

قيمتـــي بسې بازخـــواستـــي وه ظلـــم زوروؤ
اطميـــنان د چا په مال اونه په کور ؤ

چـــه کـــول هغـــه کـــول به حـــاکمـــانـو
بغاوت له شرعې کړی ؤ قاضيانو

د رشـــوت او فحـــاشـــی ګـــرم بـــازار ؤ
لـه افغانـه ځنې تللـی شـرم عـار ؤ

حکـــومـــت ســـرغـــړولـــی ؤ شـــورا نه
په خپـــل سر خو کابينه وه له پخوانه

بس ســـودا د عيـــاشـــی او د پيســـو وه
قصـــه ختمـــه د غيرت او د پښتو وه

د ملـــت خبـــرې جـــرم ؤ ګنـــاه وه
په افغـــان بـــاندې نـــازلـــه دا بلا وه

د مشـــرانـو په جـــرګه کـــې زه را ګېـــروم
نه پر خوابدی د خپل عمر په تنذير زم

مـونـږ تخـــخ پـــه خپلـــو پښـو بانـدې وهلـــه
د ملـــت د نجـــات سعـــه مـو کونـه
د افغان ملت جاري مو جريده کـړه

بــې قانـونه حکـومـت مصـــادر کړه
دیارلس میاشتې د افغان ملت دپاره
سختــــو تړو کــې مـــــو وایستلـه لاره
افغان سوشل دیموکرات یکې مرام ؤ
چـه منلـی د ملـت هـر خاص و عام ؤ
ابتکار ؤ په افغـــان کــې ښه مثــال ؤ
دا تفصیــل د ویــښن زلمـو د ایدیال ؤ
که تاریخ ؤ د زلمو شل کاله وړانـدې
خـــو لاوې ددغــې ونــې لښتې تاندې
یـــو اذان ؤ د افغـــــان د ویښېــــدلو
د ملـــت په نـــــوې ډول جـــــوړولـــو
وه د نوې ژوندون نـوې رڼـا څرکــه
یا د ورک شهید له کومې تړې کړیکه
شوه خپره لکه نسیم په گلستـــان کې
انگازه ه خوشحالۍ شوه په افغان کې
بل نهضت دلته د پښتون ملسمـــان ؤ
وریـــې نهضـت د سوسیــال افغان ؤ

د مسلک د ویښ زلمو نه را پیدا شـــول
خـــو په لـړه زمـانـه کې بیا فنـاشول
لکه نور چه وو مات شوي دا هم مات شو
د افغان ملـت د ډلـې کـور میرات شو
های افسوس دلته دا کار دی له پخوا نه
نهضتـــونه مـــاتـــول بولـــي مېـــړانه
فنـا نشـــي کـــه پټـــا شـــي لـــه نظـــره
هـره میاشت چه یو ځل وخیږي د سره
چه یو ځلې چېـرتـه ؤځـي غـــره کـې لاړه
عـالمـــونه بیـــا پرې دروســي تل دپاره
چه د فکر تخم یـو ځلـــې زرغـــون شـي
په مشکل بیا له مغزو ځنې بېرون شي
تـــرقـــي نشــــو نمـــا کـــوي لوئېـــږي
چه کـــوم فکـــر په مغزو کې زرغونېږي
که ښکاره لـــه منځـــه لاړل نهضتـــونـــه
په دمـــاغ کـــې د ملت یې شته تخمونه
د مغـــــزو نـــــه د قلـــــم پـــه لاره ســـــر کا
لـــه دې لارې بیـــا ملـــت متـــاثـــر کا

په افغان کې چه جذبه د ملیت ده
دا د دغــو کارنـامــو په بــرکت ده
ماشومان د نوي فکر په ملت کې
زړېدلي دي په مینه د خدمت کې (۱)
دا به لــوی شــي نوابــغ به دافغان شـــي
هو ، نو هغه وخت به جوړ افغانستان شي
۳۰ د جوزا ، ۱۳۴۲

(۱) مینه د خدمت خادم مینه

# غوره لار

تر ټولو مخکې راته وایه چه افغان یې که نه ؟
بیا وروسته به وایو دا چه مسلمان یې که نه ؟
د اخرت سوال به هملته په اخره کې شي
اوس راسره په افغاني لاره روان یې که نه ؟
دا زه او ته چه په کې اوسو افغاني ځمکه ده
فرزند ددې ښکلي هېواد افغانستان یې که نه ؟
که مې افغان او پښتون وروره یې نو بیا دا ووایه
چه څه خبر هم د ملت له سود و زیان یې که نه ؟
په کومه لار باندې چه دروموخطرې خو لري
څه هم په فکر د ملګري او کاروان یې که نه ؟
په څه شان نور قومونه درومي د ژوندون په لاره
ته هم د ښې ورځې په فکر او ارمان یې که نه ؟
د ملیت نه بېرته بل قسم کاروان به څه وي
چه ټول وګړي شي پرې غونډ دغه عنوان به څه وي
هو دا منم چه اقتصاد وي د ملت په ګټه
ولې دولت دې وي ښکه د ملت په ګټه
دحکومت وظیفه دا ده چه ښوونه وکي
نه چه ارم وي ځان دپاره د دولت په ګټه

چـــه زورور د ځـــان دپاره ګټـــې وټـــې کـــوي
هيڅ اتکا نه شي کېدی دحکومت په ګټه
کاريګر کلـه کـــوي کار چـــه اطمينـــان نـــه لري
بلا لګېـــږي د ملـــت د ثـــروت په ګټـــه
چه ښه نيت نه وي په وطن کې برکـــت هـــم نه وي
وطـن چلېږي د قاچاق او د رشوت په ګټه
د استعمار لاس شي را اوږد چه ملت شي ضعيف
عـــلاج د کار دی تشبث د مليت په ګټه
که خلک غواړي چه ملت دې شي محکم او قـوي
ســـره دې يو شـــي د ملت د ثقافت په ګټه
د افغاني دنيا دپـاره ډېـــره غـــوره ده دا
چه د ملت په لاره سم شي بې خطره ده دا
۲۳ د سنبلې ۱۳۴۲

# د خادم طرحه

هاتف راته ښکاد ازادۍ په باب کې ووې
بې واکه یو انسان چېرې ازاد نشي کېدلای
بیرغ د استقلال د ډېرو خلکو په سر رپي
خو نن د ازادۍ دغه مراد نه شي کېدلای
یو قام چه ازادېږي ازادۍ باندې ژوندون کا
دا کار بې د مېړانې له جهاد نشي کېدلای
جهاد د ازادۍ ته لازښوونکې مېړه بویه
بې سره د افرادو اتحاد نشي کېدلای
د قام د لاس او پښو نه زولنې چه ماتې نشي
بل شی په داسې حال بې له فریاد نه شي کېدلای
اسیر چه د یو قام وي ثقافت د بل په لاس کې
هیڅکله په ملي بڼه ازاد نه شي کېدلای
دولت چه د ملت په ثقافت باندې محکم شي
د عصر د صدمو څخه برباد نشي کېدلای
وحدت چه په ملت کې د عمل او فکر نه وي
کامل یې په هیڅ قسم اقتصاد نه شي کېدلای
ملت او حکومت چه په دولت کې سره یو کا
نور څه بې د تاریخ ورله بنیاد نشي کېدلای
په رنګ د ملیت کې خپل پردي سره یو رنګ شي

تفریق بې بیا د رنګ او د نژاد نې کېدلای
بو فام چه لاس و بل ته د دوړی دپاره نیسـي
همـدا ورسـره بـس دی چـه آزاد نشـي کېـدلای
بې علمه او بې له فنه ددې عصر چاره نه شي
د بل په رنګ کې رنګ مونږ ته استاد نشي کېدلای
که څوک زړه په مسه طلبـګار د حقیقت وي
ښتیا جه له دې زیات ملي ارشاد نشي کېدلای
هیڅ لویه بدبختي به له دې زیاته بله نه وي
په طرحه د خادم که اعتماد نشي کېدلای
میزان ـ ۱۳۵۲